# مجله مهاجر

د افغانستـــان اســـــلامي امارت

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

مالي او اداري معینیت

د اطلاعاتو او عامه اړیکو آمریت




د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت نشراتي ارګان لومړۍ ګڼه ژمی ۱۴۰۱

بسم الله الرحمن الرحیم

# مهاجر مجله


**د امتیاز څښتن:**

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

**مسؤل مدیر:**

مفتي عبدالمطلب حقاني

**تحریري هیئات:**

قاري عبدالمتین رحیمزی

مفتي عبدالمطلب حقاني

محمد یونس تنویر

محمد اشرف حنیفي

منیب الله منصور

جمال ناصر نادري

**راپور ورکوونکي:**

سید پښتون پښتون

او

احمد شکیب حبیبي

**عکاس:**

نظام الله سبحاني

**دیزاینر:**

انجنیر محمد رستم محمدي


## لیکلړ

**سرلیکونه** — **مخګڼه**


سرمقاله ........................................................................ ۱

د وزارت د چارواکو مهم فعالیتونه ...................................... ۲

په مرکزکې د مهاجرینو چارو وزارت د فعالیتونو راپور............ ۱۲

په ولایتونو کې د مهاجرینو چارو وزارت د فعالیتونو راپور...... ۲۷

# سرمقاله

**او هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او هجرت یې کړی دی او د الله په لاره کې یې جهاد کړی دی او هغه کسان چې ځای یې ورکړی دی او مدد یې کړی دی، همدغه کسان په حقه مومنان دي، د دوی لپاره بخښنه او ډېر د عزت رزق دی.** (د سوره انفال د ۷۴ آیت ژباړه)

د قرانکریم په څو آیتونوکې د مهاجر، مهاجرت، د هغه د مقام، ارزښت او له مهاجرو سره د مرستې او همکارۍ د ارتباط یادونه شوې ده، چې ددې موضوع اهمیت په ډاګه کوي.

قرانکریم خپلو پیروانو ته لارښوونه کوي، هرکله چې ستاسې په ایمان او خاوره بریدوشي تاسې د جهاد او فزیکي او مالي مبارزې سربېره هجرت وکړئ څنګه چې د اسلام په لومړیو وختونوکې پېښ شوی او د اسلام ستر پیغمبر د مسلمانانو ته لارښوونه وکړه چې حبشې ته هجرت وکړئ او دا کار د اسلام په تاریخ کې په مکرر ډول شوي دی، چې تر ټولو تازه، ښکاره، او با ارزښته بېلګه یې زمونږ په ګران هېواد افغانستان کې ده.

د افغانستان خلک د (۱۳۵۷) کال غوایي میاشتې په (۷) نېټه د شوروي اتحاد د اجنټانو له خوا له بدنامي کودتا سره مخ شول او د هغه په تعقیب د شوروي اتحاد د سرو لښکرو او د ناټو د غړو هېوادونو د یرغل په پایله کې د افغانستان له خلکو سره یوځای شول او په جهاد او مهاجرت یې پیل وکړ، چې دا مهال افغانستان په نړۍ کې یو له هغو هېوادونو څخه شمېرل کېږي چې ډېر مهاجر لري.

که څه هم زمونږ ولسونه د جهاد او هجرت پرمهال له ګڼو مالي او ځاني ستونزو سره مخ و، خو د الله تعالی او د قرانکریم د وعدې له مخې (وړه او له ایمان نه ډکه ډله په لوی طاغوتي او بې ایمانه ډلې بریالۍ شوه) مونږ د نړۍ د دوو سترو پوځي قوو د ماتې شاهدان یو، چې باید ددې نعمت شکر وباسو، قدرداني یې وکړو او خپل هغه میلیونونه افغانان چې اکثره یې په دوو ګاونډیو هېوادونو کې ژوند کوي، هېر نه کړو. له بده مرغه په تېرو حکومتونو کې د مهاجرت پرمهال د دوی ستونزو ته جدي پاملرنه نه ده شوې او د راستنېدو لپاره یې هم لازم تدابیر نه دي نیول شوي.

دا مهال زمونږ د شپږو میلیونو څخه ډېر هېوادوال مهاجر دي او څرګنده ده، ترڅو چې ټول خپل هېواد ته راستانه نه شي زمونږ ملت نیمګړی دی.

په هېواد کې د نظام د بدلون او د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته لویو هېوادونو په ځانګړې توګه غربیانو د اسلامي امارت په وړاندې یو لړ جدي بندیزونه ولګول هڅه یې کړې او کوي یې چې د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت په ګډون په بېلابېلو برخو کې د نظام فعالیتونه محدود کړي، چې له بده مرغه په ځینو برخو کې یې ناوړه اغېزې څرګندې دي، خو اسلامي امارت او د مهاجرینو چارو وزارت د یوې مسؤلې اداري په توګه د مهاجرینو او بېځایه شوو په برخه کې بې پروا نه دی پاتې شوی.

د اسلامي امارت لوړپوړو چارواکو او د مهاجرینو چارو وزارت مشرتابه ګاونډیو هېوادونو ته د ګڼ شمېر سفرونو او څو اړخیزو ناستو په ترسره کولو سره هڅه کړې چې د مهاجرینو ستونزې را کمې کړي او د زده کړو، روغتیا او کار موندنې په برخه کې ورته لازمې اسانتیاوې برابرې کړي. د خپلې خوښې راستنېدو ته د هڅونې ترڅنګ یې هڅه کړې، چې دوی ته د بیا یوځای کېدو زمینه برابره کړي، چې له نېکه مرغه د اسلامي امارت له بریا تر اوسه (۱۳۰۱۳۰) مهاجر بېرته خپل وطن ته راستانه شوي، (۳۴۲۶۱۷) بېځایه شوو کورنیو سره مرستې شوي (۱۷۶۱۳۷) کورنۍ بېرته خپلو اصلي سیمو ته ستنې شوې دي.

باید وویل شي، چې نیول شوي تدابیر بسنه نه کوي او لازیاتو هڅو ته اړتیا لري او د دغه وزارت چارواکي او کار کوونکي په دې برخه کې لازیاتو هڅو او کار ته ژمن دي. مګر میلیونونو مهاجرینو ته د راستنېدو څخه وروسته د ژوند د شرایطو برابرول په یو یا دوه وزارتونو نه کېږي بلکې دوی ته روهیه ورکول په څو مرجع او زمونږ په ملت پورې اړه لري او د مهاجرینو چارو وزارت هڅه کوي، چې په دې برخه کې همغږي اوسي او هغه ورځ به راشي چې هېوادوال مو نورو هېوادونو ته مهاجر نه شي.

## د مهاجرینو چارو سرپرست وزیر د دغه وزارت د یو شمېر ولایتي ریاستونو او آمریتونو فعالیتونه اوکاري پلانونه وارزول



د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني په روان کال کې د بدخشان، خوست، پکتیا، پکتیکا، لغمان، ننګرهار، کاپیسا، پروان، پنجشېر، قندهار،غزني او لوګر ولایت د مهاجرینو چارو آمریت فعالیتونه او کاري پلانونه وارزول.

ښاغلي حقاني د یادو ریاستونو او آمریتونو له کار کوونکو سره د لیدنې پرمهال هغوی سره په خبرو کې د راستنېدونکو، بېځایه شوو او اړمنو کورنیو په برخه کې د خپلو مسؤلیتونو په اړه خبرې وکړې ویې ویل، د سروې په ترسره کولو، مستحقینو په پېژندلو او د مرستو په وېش کې باید له پوره دقت څخه کار واخیستی شي،کړنې مو باید دقیقې، رښې او پروخت وي.

د مهاجرینو چارو وزیر د یادو ادارو څخه د لیدنې پرمهال د کار کوونکو نظرونه، وړاندیزونه او ستونزې واورېدې او د حل ډاډ یې ورکړ.

همدارنګه ښاغلي حقاني په یو شمېر ولایتونو کې د مرستو په وېش کې ګډون وکړ او اړوندو ادارو سره په خبرو کې یې د مرستو په روڼتیا او د فساد پر مخنیوي ټینګار وکړ.

هغه مشرانو، سپین ږیرو ، علماو او د راستنېدونکو او بېځایه شوو استازو سره په خبرو کې هغوي ته ډاډ ورکړ، چې سروې او د مرستو وېش په شفاف او دقیقه توګه ترسره کېږي، او د مهاجرینو چارو وزارت هڅه کوي، چې موجوده مرستې هغه کورنیوته ورسېږي چې مستحقې دي.

## د مهاجرینو چاروسرپرست وزیر د مهاجرت نړیوال سازمان له مرستیالې سره لیدنه وکړه

د مهاجرینو چارو سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني د مهاجرت نړیوال سازمان (IOM) له عمومي مرستیالې اوګوچي دنیلز سره چهارشبنه د وږي په ( ۶) مه په خپل کاري دفتر کې لیدنه وکړه.

په دې لیدنه کې میرمن دنیلز د مهاجرینو چارو وزارت سره مهاجرینو ته د خدمتونو په وړاندې کولو کې همکاري او همغږي ارزښتناکه او مهمه وګڼله او د اسلامي امارت څخه یې مننه وکړه، چې نړیوالو ته یې د مرستو د وېش په برخه کې اسانتیاوې رامنځ ته کړې.

هغې د یادې ادارې او مهاجرینو چارو وزارت ترمنځ د هوکړه لیک پر عملي کېدو ټینګار وکړ او په دې برخه کې یې د یوې تخنیکي کمېټې رامنځ ته کول اړین وګڼل.

نوموړې د کابل په نړیوال هوایي ډګر کې د مهاجرت نړیوال سازمان د پخواني دفتر اهمیت ته په اشارې سره وویل، چې یاد دفتر باید د مهاجرینو چارو وزارت په همکارۍ بیا ځلې فعاله شي.

ښاغلي حقاني د یادې ادارې د همکاریو مننه وکړه او د میرمن دنیلز سفر یې د افغان مهاجرینو د ستونزو د انعکاس او د افغان مهاجرینو ستونزو ته د نړیوالې ټولنې د پام اړولو په خاطر مهم او ارزښتناک وباله او افغانستان ته یې د لاتورو کاري سفرونو غوښتونکی شو.



د مهاجرینو چارو سرپرست وزیر په بېلابېلو هېوادونوکې د افغان مهاجرینو د ستونزو او د هغوی له حقونو څخه د محرومیت یادونه وکړه او په دې برخه کې یې د مهاجرت نړیوال سازمان څخه د همکاریو غوښتنه وکړه.

میرمن اوګوچي دنیلز د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت سره د مهاجرت نړیوال سازمان د دوامداره همکاریو او همغږیو ډاډ ورکړ.

## بګرام د بني ورسک مهاجرینو ښارګوټي کې د نجونو ښوونځی ګټې اخستنې ته وسپارل شو

د مهاجرینو او راستنېدونکو چاروسرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني د پروان ولایت د بګرام ولسوالۍ د بني ورسک د مهاجرینو ښارګوټي د نجونو ښوونځی د لیندۍ په (۲۲) مه پرانیسته.

د یاد ښوونځي ودانۍ د پروان ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په هلو ځلو د (UNHCR) دفتر په مالي مرسته جوړه شوې ده، چې (۱۲) درسي خونې او د اړتیا وړ ملحقات لري.

ددغه ښوونځي په پرانست غونډه کې د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزیر الحاج خلیل الرحمان حقاني وویل: مونږ هڅه کوو، د مهاجرینو په ټولو ښارګوټو کې ښوونځي،روغتیایي مرکزونه، برېښنا او د څښاک د اوبو او سړکونو سربېره د ژوند ټولپاساتیاوې برابرې کړو.

ښاغلي حقاني د نجونو او هلکانو په دیني او عصري زدکړو ټینګار وکړ زیاته یې کړه، په ښوونځیوکې باید شاګردانو ته د خپل دین، هېواد او خپلو ملي ارزښتونو په اړه پوهاوي ورکړل شي، ترڅو بل څوک یې د خپلو ارزښتونو پرضد استعمال نکړي.

نوموړي زیاته کړه، د مهاجرینو حقوق به نه ضایع کېږي او هرچا چې د مهاجرینو ځمکې غصب کړې دي، ژر به بېرته ترې راوګرځول شي.




## د مهاجرینو نړیواله ورځ ونمانځل شوه

د اسلامي امارت د چارواکو، د کابینې د غړو او په کابل کې د ملي او نړیوالو بنسټونو په شتون کې د دسمبر په (۱۸) مه د مهاجرینو نړیواله ورځ دمهاجرینواو راستنېدونکو چارو وزارت له لورې دحکومت درسنیو په مرکز کې ولمانځل شوه.

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزیرالحاج خلیل الرحمن حقاني په دغه ناسته کې دځوانانودغیرقانوني مهاجرت پرمخنیوي ټینګاروکړ او په بادغیس کې یې د حکومت له لورې



دداخلي بېځایه شوودجبري راستنېدوپه اړه وویل،چې اسلامي امارت په ټول هېوادکې دزرګونوبېځایه شووکورنیوخپلواصلي سیموته په خپله خوښه ستنېدوملاتړکړی، اودوی ته یې دستنېدوزمینه برابره کړې.

هغه زیاته کړه موږ له کوربه هېوادونو او نړۍ څخه غواړو چې د افغان مهاجرینو له بنسټیزو حقونو سره د قانون له مخې چلند وکړي او اسلامي امارت چمتو دی چې په کوربه هېوادونو کې د افغان بندیانو د برخلیک په اړه همکاري اودنظرونوتبادله وکړي.

د اسلامي امارت د رئیس الوزرا ښاغلي ملا محمد حسن آخند په پیغام کې، چې په همدې موخه رالېږل شوی او د حکومت د رسنیو مرکز د رئیس مفتي انعام الله سمنګاني له خوا ولوستل شو؛له کوربه هېوادونوغوښتل شوي،چې له افغان مهاجرینوسره په عادلانه اوقانوني توګه چلندوکړي اوهغه افغانانان چې له هېواده بهردي دامنیت په تامینولوسره بایدبېرته خپل هېوادته راستانه شي اوخپل مادي اومعنوي ظرفیت دهېواددپرمختګ لپاره وکاروي. اوس پر موږ لازم دي چې د وطن د ابادۍ لپاره په ګډه کار وکړو.

په دغه ناسته کې د اسلامي امارت درئیس الوزرااداري مرستیال عبدالسلام حنفي وویل،هرافغان چې غواړي په خپل هېوادکې ژوندوکړي دهغه لپاره کومه ستونزه نه شته،هغه کسان چې دامنیتي اندېښنو له امله له هېواده بهر تللي باید وطن ته راستانه شي دا زموږ ګډ کور دی.

د هغه په خبره په افغانستان کې زیات شمېر لوستي ځوانان د اقتصادي ستونزو له امله بهرنیو هېوادونو ته مهاجرشوي دي.

هغه د نړۍ له هېوادونو وغوښتل چې افغان حکومت سره دې دکورجوړولو، دځښاک دپاکو اوبو د رسولو، د داخلي بېځایه شوو، راستنېدونکو، روغتیایي چوپړتیاو د برابرولو او پراختیایي پروژو د پلي کولو په برخه کې همکاري وکړي.

همدارنګه د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت مالي او اداري مرستیال الحاج محمد ارسلاح خروټي وویل، موږ دلته ،د افغان مهاجرینو د ستونزو د حل، د هوکړې د نوي کولو او عملي کولو لپاره راټول شوي یو.

همدارنګه نوموړي زیاته کړه، د اسلامي امارت له بریا وروسته ډېر شمېر افغان مهاجر بېرته خپل هېواد ته راستانه شوي اوشاوخوا اووه میلیونه افغانان اوس هم دنړۍ په بېلابېلوهېوادونوکې د مهاجرت شپې او ورځې تېروي،اوددوی د بنسټیزو حقونو ساتل او تامینول د مهاجرینو چارو وزارت له لومړیتوبونو څخه دي او موږ په دې برخه کې هڅې کوو.

په ورته وخت کې د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري او د مهاجرت نړیوال سازمان استازوپه خپلوخبروکې دمهاجرینو او راستنېدونکو سره دخپلې دوامداره همکارۍ اعلان وکړ.

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د خپرونو مرستیال مهاجر فراهي بهرنیو هېوادونو ته د مهاجرینو د تګ او د هغه د مخنیوي په لارو چارو خبرې وکړې او ناسته په دعاسره پای ته ورسېده.

## د مهاجرینو چارو وزارت د مرکزي او ولایتي ریاستونو د مسؤلینو ترمنځ د ستراتېژیکې همغږۍ ناسته ترسره شوه

په دې ناسته کې چې د لیندۍ په (۲۹) مه د کابل په انټر کانټیننټال هوټل کې ترسره شوه او دوه ورځې یې دوام وکړ، د هېواد د (۳۴) ولایتونو د مهاجرینو چارو ریاستونو رئیسانو او کار کوونکو شتون درلود، چې د وزارت د مرکزي مسوولینو سره یې د شته پروګرامونو پر عملي کیدو خبرې وکړې.

د مهاجرینو چاروسرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقانی په خپلو خبرو کې وویل، چې د دغه وزارت چارواکي د هغو هېوادوالو خدمت کوي،چې دمهاجرت په دیارکې له ډېرو ستونزو سره مخ دي اوپه دې ناسته کې دستونزو دحل اوپاملرنې په موخه راټول شوي دي، تر څو پوهه شي چې څرنګه خپل اړونده مسؤلیتونه په ښه شان سره سرته ورسوي.



د هغه په خبره په هېوادکې دځولسیزواشغال اوناامنې،ددې لامل شوې،چې په میلیونونو هېوادوال مومهاجرت ته اړ شوي او په میلیونونوموپه کوردننه بېځایه شوي اولاهم له ستونزوسره مخ دي.

هغه زیاته کړه، اوسمهال اشغال پای ته رسېدلی او موږ باید په دې فکر وکړو، چې څنګه د اشغال له دورې پاتې ستونزې هوارې کړو.

د مهاجرینو چاروسرپرست وزیر وویل، د ژمي په رارسېدو سره د مهاجرینو او داخلي بېځایه شوو ستونزې مخ په زیاتېدو دي،له ګاونډیو او کوربه هېوادونو څخه هیله کوو چې په صبر او حوصلې سره دهغوی کوربتوب ته دوام ورکړي. مهاجرین اوداخلي بېځایه شوي بایدد زده کړې ،روغتیا ،سرپنااوکورجوړولوله بنسټیزو حقونوڅخه برخمن شي کوم چې دمهاجرینودوضعیت په اړه په (۱۹۵۱) کنوانسیون کې وضع شوي دي.

په ورته وخت کې د مهاجرینو چارو وزارت د پروګرامونو ارشد مدیر انجینر محمد اجمل د مهاجرینو چارو وزارت او د ملګرو متلونو د کډوالو اداري د ګډو پروګرامونو د پلي کېدو د څرنګوالي او همغږۍ اودپالیسۍ متخصص عبدالمقیم افغان دوزارت دستراتېژیکوموخوپه اړه معلومات ورکړل.

## د مهاجرینو چارو سرپرست وزیر د اسلامي هېوادونو د مخکښو علماو له پلاوي سره وکتل

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمان حقاني د مصر د الازهر پوهنتون استاد ښاغلي محمد الصغیر په مشرۍ د ترکیې، مصر، سوډان، لیبیا او فلسطین د مخکښو علماو له پلاوي سره په خپل کاري دفتر کې وکتل.

په دې کتنه کې د علماو د پلاوي مشر ښاغلي محمد الصغیر وویل، مونږ د اسلامي امارت په بریا خوښ یو او د راتګ هدف مو دا دی، چې له تاسو سره خپله خوښي شریکه کړو، ټول عربي هېوادونه له طالبانو سره مینه لري او د بریا دوعاوې ورته کوي.



یاد پلاوي د اسلامي امارت بریا مبینه فتحه او د الله جل جلاله ـ ځانګړې مرسته وبلله.

د مهاجرینو چاروسرپرست وزیر دوی ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل، نړیوال غواړي، چې پخپلو پوچو تبلیغاتو خلکو ته د اسلامي امارت تصویر غلط وښیي او دا د علماو وجیبه ده، چې راشي اسلامي نظام له نږدې وویني او خپلو ولسونو ته د اسلامي امارت حقیقي تصویر وړاندې کړي.

ښاغلي حقاني زیاته کړه، افغانستان د نړۍ یو له هغه هېوادونو څخه دی، چې ترټولو زیات مهاجرین، معیوبین، کونډې او یتیمان لري او مونږ د اسلامي نړۍ له علماو تمه لرو، چې ددوی په ستونزو او پالنه کې له مونږ سره همکاري وکړي.

په یاد پلاوي کې د مصر، ترکیې، سوډان، لیبیا او فلسطین علماء شامل وو.

## د مهاجرینو چارو سرپرست وزیر د ملګرو ملتونو پلاوي سره وکتل

د مهاجرینو او راستنېدونکو چاروسرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمان حقاني د آغلې آمنه محمد په مشرۍ د ملګرو ملتونو له پلاوي سره د مرغومي په (۲۹) مه په خپل کاري دفتر کې وکتل.

په دغه ناسته کې د میرمنو د کار او تعلیم ترڅنګ د بشري مرستو په څرنګوالي خبرې وشوې.

اغلې محمد وویل: ملګري ملتونه په افغانستان کې ددې لپاره پاتې دي، چې د افغانستان سره همکار ووسي، په دې وروستیو کې چې د افغان میرمنو د کار او تعلیم پروړاندې کوم حکمونه صادر شوي دي د افغان ولس لپاره ناوړه پایلې لري ځکه د تعلیم او تربیې نشتون ټولنه شاته پاتې کوي.

نوموړې ټینګار وکړ، چې د خبرو اترو لپاره باید یو چینل وي، ترڅو وخت پر وخت دغه ډول مسایل پکې وڅېړل شي او یوه ښه پایله ترلاسه شي.

نوموړې د اسلامي امارت څخه مننه وکړه، چې په ځینو برخو لکه د روغتیا په برخه کې یې د میرمنو لپاره استثناءات رامنځته کړي دي او غوښتنه یې وکړه، چې په خارج کې زیاتې مېرمنې غواړي د اسلامي امارت ملاتړ وکړي خو په دې تړاو د هغوي او د ملګرو ملتونو اندېښنې باید لرې شي.

د مهاجرینو چارو سرپرست وزیر وویل افغانستان یوه سنتي ټولنه ده، دلته باید حقایق درک شي او دغه ټولنې ته د غرب له عینکو ونه کتل شي.

نوموړي وویل د یو څو ښځو د بې روزګاره کېدو له امله د افغانستان ټولې مېرمنې له مرستو بې برخې کول بلا توجیه عمل دی، اسلامي امارت د زدکړو مخالف نه دی او مونږ هڅه کوو، چې د میرمنو د کار او زدکړو لپاره داسې یوه حل لاره جوړه کړو، چې د اسلامي شریعت سره په ټکر کې نه وي.



د مهاجرینو چارو حقوقي سلاکار مفتي محمود ذاکري زیاته کړه د نظام په تبدیلۍ کې د اشخاصو تبدیلي مهمه نه وي بلکې د قوانینو تبدیلي مهمه وي، ملګري ملتونه، هغه نظامونو ته درناوي لري، چې په رایو سره راغلي وي باید هغه نظام ته تردې زیات درناوي ولري، چې د سرونو په بدل کې راغلي وي.

نوموړي وویل، د تعلیم او زدکړو هیڅوک مخالف نه دي، بلکې د میکانیزم خبره ده، چې باید داسې یو چوکاټ رامنځته شي، چې د اسلامي شریعت او افغاني کلتور سره په ټکر کې نه وي، ملګري ملتونه دې زمونږ دیني اړتیاوې په نظر کې ونیسي.

ښاغلي ذاکري زیاته کړه، تراوسه په افغانستان کې کړکو او فشارونو ښه پایله نه ده لرلې نو نور باید دغه تجربې تکرار نشي.

په پای کې آغلې امنه محمد دغه مجلس ډېر ګټور وباله او هیله یې وښوده، چې له دې وروسته به بیا هم افغانستان ته راځي.

## د مهاجرینو چارو سرپرست وزیر د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې له رئیس سره لیدنه وکړه



د مهاجرینو چاروسرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني په کابل کې د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې (UNHCR) له رئیس ښاغلي لیونارد زولو سره د مرغومي په (۲۸) مه لیدنه وکړه او د ګډو همکارو په اړه یې خبرې وکړې.

په دې ناسته کې چې په وزارت کې ترسره شوه، په ایران کې د افغان مهاجرینو د وضعیت په اړه د وروستۍ څلور اړخیزې ناستې، د ایران او پاکستان د درې اړخیزو ناستو، د داخلي بېځایه شوو سره د مرستو په همغږۍ، د فعالیتونو په منظموالي، د لومړیو ساحو په انتخاب کې د (۲۰۲۳) کال د هوکړه لیکونو ګډ پلان او د پراختیایي پروژو په اړه خبرې وشوې.

د مهاجرینو چاروسرپرست وزیر د راستنېدونکو او بېځایه شوو د دوامداره حل لارو د ستونزو پر حل ټینګار وکړ ویې ویل، چې په ایران او پاکستان کې افغان مهاجرینو ته د ښه لاسرسي په موخه اړتیا ده، چې په ایران کې د څلور اړخیزې ناستې له ترسره کېدو وروسته د دغو دواړو هېوادونو ترمنځ درې اړخیزې ناستې ترتیب او ترسره شي.

په دغو ناستو کې به د ملګرو ملتونو د کډوالو اداره، د افغانستان حکومت، ایران او پاکستان هېوادونه په بېلابېلو موقفونو شتون ولري او د ملګرو ملتونو په منځګړیتوب به په هغو هېوادونوکې د افغان مهاجرینو د وضعیت په اړه خبرې وکړي.

په ورته وخت کې ښاغلي زولو د (۲۰۲۲) کال د همکاریو د هوکړه لیک په برخه کې د مهاجرینو چارو وزارت د فعالیتونو ستاینه وکړه او هیله یې څرګنده کړه، چې دواړه خواوې به په ګډه ستونزې حل کړي او نړیوالو موسسو ته به د لازیاتو همکاریو زمینه برابره کړي.

## د ملګرو ملتونو د سرمنشي مرستیال او مل پلاوي د مهاجرینو چارو سرپرست وزیر سره وکتل

د ملګرو ملتونو د سر منشي مرستیال ښاغلي مارتین ګریفتس، چې د ملګرو ملتونو ځانګړې استازي رمیز الکبروپ، د پاملرنې موسسې عمومي مشرې سوفیا سپریچمن، د سیف دي چلډرن موسسې مشرې جاتتي سوریپتو، او یونیسف موسسې مرستیالې عمر عبدي یې ملتیا کوله د مهاجرینو او راستنېدونکو چاروسرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمان حقاني سره د هغه د کار په دفتر کې ناسته ترسره کړه.

په دغه ناسته کې د بشري مرستو په پراختیا، کاري تګلارې او د رامنځته شوو ستونزو په اړه خبرې وشوې. ښاغلي مارتین وویل: مونږ ژمن یو، چې د مرستو رسولو کې د دین او کلتور مخالفت ونکړو، مونږ د مرستو د بندولو اراده نلرو، خو د مېرمنو د کاربندیز سره کارونه ټکني شوي دي نوموړي زیاته کړه، سږکال د بشري مرستو په برخه کې د افغانستان لپاره ترټولو زیاته بودیجه په نظر کې نیول شوې ده او ددې لپاره باید د یوښه میکانیزم په رامنځته کولو کې په ګډه کار وکړو.

د مهاجرینو چارو وزیر نوموړي ته د هرکلي ترڅنګ له افغانانو سره ددوی د مرستو مننه وکړه او ویې ویل: مونږ د نظام یوه برخه یو او د نظام د اصولو مطابق د مرستو په رسولو کې هرډول همکارۍ ته چمتو یو، نړیوال باید بشري مرستې له شرطونو سره ونه تړي، ښاغلي حقاني له نوموړي وغوښتل، چې دلته حقایق وویني او نړۍ ته د افغانستان حقیقي تصویر وړاندې کړي.

## د مهاجرینو چارو سرپرست وزیر د کډوالو عالي کمشنرۍ له عمومي مرستیال سره وکتل

د مهاجرینو او راستنېدونکو چاروسرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمان حقاني د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمشنرۍ (UNHCR) له عملیاتي مرستیال ښاغلي رؤوف مازو سره د لیندۍ په (۲۵) مه لیدنه وکړه.

په دغه لیدنه کې چې د اسیا او پسفیک هېوادونو لپاره ددغه ادارې رئیس اندریکا روټواټي او د افغانستان لپاره د یونیسار مشر لیونارد زولو یې هم شتون درلود په افغانستان کې د (UNHCR) پر فعالیتونو، راستنېدونکو او داخلي بېځایه شوو ته په منظم او اسانه ډول د بشري مرستو رسولو او د مهاجرینو وزارت او یونیسار اداري ترمنځ پر ګډو همکاریو خبرې وشوې.

ښاغلي مازو په افغانستان کې د یونیسار د فعالیتونو په اړه خبرې وکړې ویې ویل: تېر کال مونږ له (۵,۹) میلیونه خلکو سره مرستې کړې او په راتلونکې کې غواړو دا مرستې نورې هم زیاتې شي.

ښاغلي روټواټي وویل: سږکال د مهاجرینو راستنېدنه د تمې خلاف زیاته وه او راتلونکی کال ښایي له دې هم زیاته وي.

د مهاجرینو چارو سرپرست وزیر وویل: مهاجرین په ټوله نړۍ کې ترټولو مظلومه او بېوزله طبقه ده او هېڅکله باید د سیاستونو ښکار نشي، نوموړي زیاته کړه، د مهاجرینو چارو وزارت په ټول افغانستان کې نږدې (۱۰۰) زره ځمکه د راستنېدونکو لپاره چمتو کړې او د لومړنیو اسانتیاو، مکتبونو، کلینیکونو او مسجدونو د جوړولو لپاره یې هلې ځلې کوي.

ښاغلي حقـاني زیاته کړه، بشري مرستې دې ددغه ښارګوټو په ابادولو ولګول شي ترڅو د راستنېدونکو لپاره بنسټیز خدمتات وړاندې شي



## د مهاجرینو چارو وزارت مرستیال د یو پلاوي په مشرۍ دافغان مهاجرینو د وضعیت دڅېړلو په موخه ترکیې ته سفر وکړ

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت مالي او اداري مرستیال الحاج محمد ارسلاح خروټی د یوپلاوي په مشرۍ د افغان مهاجرینو د وضعیت د څېړلو په موخه د زمري په (۲۷) مه ترکیې هېواد ته سفر وکړ.



دغه پلاوي په ترکیې کې د هغه ځایونو څخه چې پکې افغان مهاجرینو راټول شوي لیدنه وکړه، د کورنیو چارو وزیر سلیمان سولو، د کورنیو چارو ارشد مرستیال اسماعیل کتاللي او د زمري په (۲۸) مه په انقرې ښار کې د مهاجرینو اداري له رئیس ښاغلي سوش اتله سره په جلا توګه لیدنې کړې.

په دغو لیدنو کې د مهاجرت د ښه مدیریت او په ترکیې کې د مېشتو افغان مهاجرینو د بشري حقونو د ستونزو د هواري په اړه خبرې وشوې. دواړو لوریو په ترکیه کې د افغان مهاجرینو د قانوني کېدو، په خپله خوښه راستنېدو، تدریجي او باعزته راستنېدو، د دوی بنسټیزو ستونزو ته د لاسرسي، د غیر قانوني مهاجرت د بدیل په توګه د افغان کارګرانو لېږل، د پولو د پیا وړتیا، نشه یي توکو او انساني قاچاق پروړاندې د مبارزې او افغان مهاجرینو ته د لاښه خدماتو د وړاندې کولو په موخه انقرې ته د اتشې لېږلو په اړه پرېکړې وشوې.

ښاغلي خروټي د ترکیې د مهاجرینو له رئیس سره د کتنې په ترځ کې په دغه هېواد کې د مېشتو مهاجرینو د وضعیت د ښه والي، اساتیاوو د رامنځ ته کولو، د همکاریو د هوکړه لیکونو د نهایي کولو او د دوه اړخیز تخنیکي ټیم د ټاکلو په اړه خبرې وکړې او د همکاریو غوښتنه یې وکړه.

د دغو خبراترو په پایله کې د ترکیې دولتي چارواکو ژمنه وکړه، چې د افغانانو لپاره به په بېلابېلو برخوکې د سکالر شیپونو په ورکولو غور کوي.

همدارنګه د افغانستان اسلامي امارت د ارشاد حج او اوقافو اداري، دارالافتاء، د ترکیې د مرکزي کتابتون له ارشیف څخه لیدنه وکړه او په انقره کې یې د افغانستان له سفیر او کار کوونکو سره لیدنه وکړه او همدارنګه یې د یادې اداري له بېلابېلو برخو څخه هم لیدنه وکړه.

## د مهاجرینو چارو وزارت مرستیال د مهاجرینو د وضعیت د څېړلو په موخه د لوړ پوړي پلاوي سره یوځای ایران ته سفر وکړ

د افغانستان اسلامي امارت لوړ رتبه پلاوی چې د بهرنیو چارو د سرپرست وزیر امیرخان متقي په مشرۍ او د مهاجرینو چارو وزارت مالي او اداري مرستیال الحاج محمد ارسلاح خروټي په غړیتوب ایران ته تللی، چې موخه یې د دواړو هېوادونوتر منځ د اړیکو پیاوړتیا او د افغان مهاجرینو د ستونزو څېړل دي.

دغه پلاوي یکشنبه د مرغومي په (۱۹) مه د ایران د بهرنیو چارو وزیر حسین امیر عبدالهیان سره لیدنه او خبرې وکړې. د مهاجرینو چارو وزارت مرستیال الحاج محمد ارسلاح خروټي په ایران کې د افغان مهاجرینو د وضعیت او ستونزو په اړه خبرې وکړې او ښاغلي عبدالهیان ډاډ ورکړ چې په دغه هېواد کې به د افغان مهاجرینو ستونزې هواري شي.

همدارنګه هغه په تهران، قم، البرز او یوشمېر نورو سیمو کې د افغان مهاجرینو د استازو سره بېلابېلې ناستې کړې، د هغوی ستونزې یې اورېدلې او په دې لیدنو کې یې ویلي په دغه هېواد کې یې د افغان مهاجرینو د شته ستونز د هواري په موخه د ایران د اسلامي جمهوریت له لوړ پوړو چارواکو سره خبرې کړې دي او هغوی هم د ستونزو د هواري ډاډ ورکړ.



## د مهاجرینو چارو وزارت مرستیال د داخلي بېځایه شوو د وضعیت د څېړلو په موخه یو شمېر ولایتونو ته سفر وکړ

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت مالي او اداري مرستیال الحاج محمد ارسلاح خروټي د راستنېدونکو، د داخلي بېځایه شوو د وضعیت د څېړلو او همدارنګه د مهاجرینو چارو وزارت د ولایتي ریاستونو او آمریتونو د کاري وضعیت د څېړلو په موخه یوشمېر ولایتونو ته سفر ونه کړي او شته ستونزې او ننګونې یې څېړلي.

هغه په دې سفرونوکې د ولایتي ریاستونو او آمریتونو د اداري وضعیت د ارزونې ترڅنګ د داخلي بېځایه شوو، سېلاب ځپلو او اړمنو کورنیو وضعیت له نږدې څېړلی او د ولایتونو د سیمه ییزو چارو اکو سره یې لیدنې کړې د سفر موخه او لاسته راوړنې یې د رسنیو له لارې د خلکو سره شریکې کړې دي.

د مهاجرینو چارو وزارت مرستیال ننګرهار ولایت ته د خپل سفر په ترڅ کې په تورخم کې د راستنېدونکو افغانانو د وضعیت د ارزونې ترڅنګ په تورخم کې د مهاجرت نړیوال سازمان(IOM)، سرحدي کمیسارۍ، روغتیایي مرکزاو دننګرهارولایت د مهاجرینو چارو ریاست کاري فعالیتونه هم و ارزول.

هغه همدارنګه د غبرګولي په (۷) مه هرات ولایت ته د خپل سفر په ترڅ کې د دغه ولایت د والي مولوي نور احمد اسلام جار سره لیدنه وکړه او د لیدنې په پای کې یې د زماني خیریه بنسټ سره د (۵) میلیونو ډالرو په ارزښت د البسې د مرستې د سپارلو سند لاسلیک کړ او یاده مرسته یې د هرات ولایت ګمرک ته وسپارله.

په خوست، پکتیا او پکتیکا ولایتونوکې له زلزلې وروسته د اسلامي امارت د ځانګړي کمېسیون سره د سکتوري وزارتونو په ګډون د پکتیا ولایت په ګیان، برمل، د پکتیکا ولایت په زیروک او خوست ولایت په سپېرې ولسوالۍ کې د زلزلې له امله د ویجاړو شوو کورونو عمومي سروې پیل کړه.

د مهاجرینو چارو وزارت مرستیال الحاج محمد ارسلاح خروټي ، چې د یاد کمیسیون دغړی او ویاند دنده یې ترسره کوله د (۱۴۰۱) کال د اسد په (۱۰) مه د پکتیکا ولایت زیروک ولسوالۍ ته سفر وکړ او هلته یې په یوې ناسته کې خبرې وکړې ویې ویل، چې په زیانمنو شوو د بېړنیو مرستو د وېش لړۍ پیل شوې او اوس بنه وخت دی چې د ویجاړو شوو کورونو سروې وشي او په بنسټیزه توګه ورغول شي.



## په تهران کې د افغان مهاجرو په اړه اتمه څلور اړخیزه ناسته د مهاجرینو چارو وزارت د مسلکي مرستیال په شتون کې ترسره شوه



مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد له سفر مخکې د کابل په هوایي ډګر کې په یوې رسنیزه ناسته کې د خپل سفر جزیات د خبریالانو سره شریک کړل او ایران ته ولاړ.

هغه د افغانستان دولت په استازیتوب د افغان پناه غوښتونکو د حل لارو اتمې څلور اړخیزې ناستې کې چې دوشنبه د لیندۍ په (۲۱) مه د ا. امارت د استازي په شتون کې د ایران په تهران کې ترسره شوه ګډون کړی و.

په دغه ناسته کې د افغانستان په استازیتوب د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد، د ایران په استازیتوب د کورنیو چارو وزارت مرستیال ښاغلي رضا دوست، د پاکستان په استازیتوب د مهاجرینو چارو عالي کمېشنر ښاغلي سلیم خان او د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري په استازیتوب د مهاجرینو په چارو کې د ملګرو ملتونو د اسیا او اقیانوسیه د دفتر رئیس ښاغلي اندریکا روټواټي شتون درلود.

په ناسته کې چې د ایران په کورنتوب جوړه شوې وه، پکې خبرې وشوې چې ملګري ملتونه څنګه خپل هېواد ته د افغان مهاجرینو په خپله خوښه ستنېدو، په افغانستان کې د هغوی د بیا یوځای کېدو او همدارنګه د افغان مهاجرینو د کوربه هېوادونو ملاتړ کوي.

د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد په دغه رسنیزه ناسته کې په ګاونډیو هېوادونوکې د مهاجرینو پر وړاندې د شته ستونزو او ننګونو کمول د مهاجرینو چارو وزارت او د افغانستان اسلامي امارت له لومړیتوبونو څخه وبلل ویې ویل، چې د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته په ټول هېواد کې امنیت دی هېوادوال کولای شي چې په خپله خوښه هېواد ته راستانه شي.

# د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال د داخلي بېځایه شوو د وضعیت د څېړلو په موخه یو شمېر ولایتونو ته سفر وکړ

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد د راستنېدونکو، داخلي بېځایه شوو د وضعیت د څېړلو او همدارنګه د مهاجرینو چارو وزارت د ولایتي ریاستونو او آمریتونو د کاري وضعیت د څېړلو په موخه بغلان، سمنګان او جوزجان ولایتونو ته سفرونه کړي او شته ستونزې او ننګونې یې څېړلې دي.

هغه په دې سفرونو کې د ولایتي ریاستونو او آمریتونو د اداري وضعیت د ارزونې ترڅنګ د داخلي بېځایه شوو او اړمنو کورنیو وضعیت له نږدې څېړلی او د کارونو د لا ښه والي په موخه یې دیادو ادارو مسؤلینو ته لازمې لارښوونې کړې.

ښاغلي راشد د لیندۍ په (۵) مه بغلان ولایت ته د رسمي سفر په ترڅ کې د بغلان د والي مولوي سمیع الله حزب الله، مرستیال والي، أمنیه قومندان، د استخباراتو رئیس، د پوهنې رئیس، کرنې رئیس او نورو دولتي ادارو له رئیسانو سره د همغږۍ په ناسته کې ګډون وکړ او د مهاجرینو د ښارګوټو، فرصتونو او ننګونو او د راستنېدونکو او داخلي بېځایه شوو د وضعیت د څرنګوالي په اړه یې خبرې وکړې.

د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال د مهاجرینو چارو وزارت او اقتصاد وزارت ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک یادونه وکړه ویې ویل، چې ډېر ژر به د ولایتونو مسؤلینو ته وړاندې شي او د یاد هوکړه لیک په پام کې نیولو او عملي کولو سره به د اقتصاد او مهاجرینو چارو ریاستونو ترمنځ شته ستونزې حل شي، ځکه په هوکړه لیک کې صلاحیتونو او مسؤلیتونه واضح شوي دي.

په دې سفر کې مسلکي مرستیال د بغلان ولایت د خواجه الوان د مهاجرینو ښارګوټي چې (۲۴۰۰) راستنېدونکې کورنۍ پکې ژوند کوي لیدنه وکړه او د اوسېدونکو ستونزې یې واورېدې.



هغه ډاډ ورکړ، چې د مهاجرینو چارو وزارت د مرستندویه بنسټونو سره په همغږۍ هڅه کوي چې د راستنېدونکو او داخلي بېځایه شوو شته ستونزې هوارې شي.

سربېره پردې ښاغلي راشد د بغلان ولایت د چشمه شېر عالي لېسې، چې زیاتره پکې د بېځایه شوو او راستنېدونکو کورنیو ماشومان په زده کړه بوخت دي او په تېرو کلونو کې یې ځینې برخې ویجاړې شوې وې او د یونسیار دفتر له لورې د بغلان ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په همغږۍ بیا ځلې جوړې شوې وې لیدنه وکړه.

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد د لیندۍ په (۶) مه د سمنګان ولایت د والي حمد الله فضلي سره لیدنه وکړه او راستنېدونکو او بېځایه شوو ته یې د مرستو د وېش پر څرنګوالي خبرې وکړې.

د سمنګان والي په دغه ولایت کې د مهاجرینو چارو وزارت د برنامو په پلي کولو کې د همکاریو ډاډ ورکړ ویې ویل، چې د مهاجرینو په ښارګوټو کې به د ځمکې د غصب مخه ونیسي.

همدارنګه د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال د سمنګان ولایت د حضرت سلطان د مهاجرینو ښارګوټي څخه لیدنه وکړه او (۲۱۶) اړمنو کورنیو ته د (UNHCR) دفتر له لورې د نغدي مرستو د وېش په مراسمو کې یې ګډون وکړ.

هغه همدارنګه دوشنبه د لیندۍ په (۷) جوزجان ولایت ته د اړمنو او بېځایه شوو کورنیو د وضعیت د څېړلو په موخه تللی او د مهاجرینو چارو ریاست د ستونزو د څېړنو وروسته د ولایت مقام، مهاجرینو چارو ریاست او همکارو مرستندویه بنسټونو ترمنځ جوړې شوې ناستې کې هم ګډون وکړ ټینګار یې وکړ، چې موسسې باید د مهاجرینو چارو وزارت سره د ترسره شوو هوکړه لیکونو له مخې راستنېدونکو او اړمنو بېځایه شوو په برخه کې مرستې وکړي.

هغه زیاته کړه، چې مرستندویه بنسټونو د مهاجرینو چارو وزارت سره د لاسلیک شوي ګډ هوکړه لیک له مخې نه شي کولای چې بغیر د مهاجرینو چارو ریاستونو د همغږۍ څخه فعالیتونو ترسره کړي.

ښاغلي راشد د جوزجان ولایت د نورآباد د مهاجرینو ښارګوټي څخه هم لیدنه وکړه او د غالیو د پروسس د مرکز چارې یې وڅېړلې چې د (UNHCR) دفتر له لورې د (۱۵۰) زره امریکایي ډالره په لګښت په پاخه او اساسي ډول جوړېږي.

## د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال په کابل کې د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري له رئیس سره لیدنه وکړه

د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد په کابل کې د (UNHCR) دفتر له رئیس ښاغلي لیونارد زولو سره لیدنه وکړه او د دواړو ادارو د ګډو پلانونو او فعالیتونو په اړه یې خبرې وکړې.

په دغه لیدنه کې چې چهارشنبه د مرغومي په لومړۍ نېټه د مسلکي مرستیال په کاري دفتر کې ترسره شوه ایران ته د دوه اړخیز سفر، په هغه هېواد کې د ترسره شوې څلور اړخیزې ناستې د پایلې او د دواړو ادارو د ګډو پلانونو او فعالیتونو په اړه خبرې شوې.

د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال د هغه مواردو د عملي کېدو غوښتنه وکړه چې په ایران کې د افغان مهاجرینو د وضعیت په اړه په څلور اړخیزې ناستې کې د ملګرو ملتونو له لورې یې ژمنه شوې وه.

په افغانستان کې (UNHCR) دفتر رئیس وویل، د پورتنیو پلانونو او ژمنو د ښه پلي کېدو په موخه باید په ملي کچه د دایمي حل او بیا یوځای کېدو ناستې او په نړیواله کچه د اساسي ملاتړ ډلې منظمې ناستې ترسره شي.

ښاغلي زولو وړاندیز وکړ، چې د پروګرامونو د همغږۍ لپاره دې د هېواد د ملي بنسټونو په ګډون د مهاجرینو چارو وزارت تر مشرۍ لاندې د دایمي حل لارو او د راستنېدونکو د بیا یوځای کېدو یوه ډله جوړه او لومړنۍ ناسته دې یې په راتلونکې میاشت کې ترسره شي.

د هغه په خبره په پام کې ده، چې د اساسي ملاتړ ډلې ناسته د افغانستان، ایران، پاکستان، ملګرو ملتونو د کډوالو اداري او د ملاتړ کوونکو هېوادونو په ګډون په قطر کې جوړه شي.



## د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال د ترکیې له سفیر سره لیدنه وکړه



د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد په کابل کې د ترکیې سفیر ښاغلي جهاد ارګین آی سره لیدنه وکړه او په ترکیې کې یې د افغان مهاجر پر وضعیت خبرې وکړې.

په دغه لیدنه کې چې د مرغومي په (۲۸) مه نېټه ترسره شوه، ښاغلي راشد ټینګار وکړ، چې په ترکیې کې باید افغان مهاجرین ونه ځورول شي، دوی ته د سفر او استوګنې قانوني زمینه برابره شي، چې په دې سره به د غیرقانوني مهاجرت مخه راکمه شي، چې دا د دواړو هېوادونو د اړیکو په ښه کېدو کې اغېزمن ثابتېدای شي.

هغه د ترکیې هېواد څخه غوښتنه وکړه، چې هغو بېځایه شوو سره چې په سړنې ژمي کې د سړې هوا له امله زیان من شوي، لازیاتې مرستې ترسره کړي.

د ترکیې سفیر یادونه وکړه، چې د هغو کسانو لپاره کومه ستونزه نه شته، چې په قانوني توګه ترکیې ته ځي، خو ترټولو ډېرې ستونزې او ننګونې د هغو کسانو لپاره شته چې غواړي په غیرقانوني توګه ترکیې ته لاړ شي.

هغه وویل، راتلونکې اوونۍ به د دغه هېواد د بشري مرستو (۶۰۰) ټنه محموله مواد افغانستان ته را ورسېږي، چې د مهاجرینو چارو وزارت او ترکیې د سرې میاشتې په همکارۍ به پر اړمنو او مستحقو کورنیو وویشل شي او دا مرستې به په راتلونکې کې لانورې هم زیاتې شي.

# راستنېدونکو او داخلي بېځایه شوو ته د حقوقي خدماتو وړاندې کول

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت راستنېدونکو او داخلي بېځایه شوو سره د حقوقي او ټولنیزو خدمتونو د تامین په برخه کې د حقوقي ملاتړ ریاست له لارې مرستې کوي.

د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته په تېر یوه کال کې دغه وزارت د راستنېدونکو او داخلي بېځایه شوو د حقوقي ملاتړ په برخه کې لاندې فعالیتونه ترسره کړي.

یو شمېر افغان مهاجر، چې له ګاونډیو هېوادونو څخه هېواد ته راستنېږي د هویت اسناد لکه، پېژند پاڼه او پاسپورت نه لري، دوی لومړی د مهاجرینو چارو وزارت ته ورځي او هلته خپل د مهاجرت اسناد د حقوقي ملاتړ ریاست ته وړاندې کوي، چې اسنادو ته په کتو یې دغه ریاست د پېژند پاڼې د ترلاسه کولو په موخه د نفوسو د احوالو د ثبت ادارې ته ور پېژني، چې په دې توګه راستنېدونکې کولای شي چې په هېواد کې د خپل هویت له حقونو څخه برخمن شي.

د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته د حقوقي ملاتړ ریاست د مهاجرینو چارو وزارت او د نفوسو د احوالو د ثبت ادارې ترمنځ د همکارۍ یوه مسوده ترتیب کړه، ترڅو د پېژند پاڼې د ترلاسه کولو په برخه کې د امکان تر حده اسانتیاوې رامنځته کړي. په همدې موخه راستنېدونکو ته د پېژندپاڼو د ګټو او عامه پوهاوي لاربښود ترتیب شوی، چې شاخوا (۳۶) زره راستنېدونکو او داخلي بېځایه شوو ته دغه لاربښود وېشل شوی دی.

ددې ترڅنګ د مهاجرینو چارو وزارت ، روغتیا وزارت، پوهنې، کار او ټولنیزو چارو، ښار جوړونې او د کلیو پراختیا وزارت ترمنځ د همکاریو د هوکړه لیکونو مسوده هم ترتیب شوې، چې له ځینو سره لاسلیک شوې او له ځینو سره لاسلیکولو ته چمتو ده.

د مهاجرینو چارو وزارت له هغو مهاجرینو سره، چې له نورو هېوادنو څخه افغانستان ته پناه راوړي، د قانون مطابق عمل کوي، په همدې اساس د دغه وزارت د پناه غوښتنې قانون باندې بیا کتنه وشوه او د پلي کېدو لپاره چمتو شوې.

په تېر یوه کال کې ( ۱۱۴۲) راستنېدونکو او داخلي بېځایه شوو حقوقي ستونزې حل شوې، چې له دې جملې څخه ( ۶۶۱) راستنېدونکې د زده کړو د دوام په موخه د عمومي زده کړو ریاست ته ور پېژندل شوي، ( ۴۵۲) راستنېدونکو ته لازمې حقوقي مشورې ورکړل شوي او (۲۸) راستنېدونکي د نوم د اصلاح په موخه تدریسات ثانوي ته ور پېژندل شوي.

| په ۱۴۰۰ او ۱۴۰۱ کال کې د حقوقي خدماتو د وړاندې کولو جدول | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د ملاتړ سیمې | | | | | | د راستنېدو اصلي هېوادونه | | | د خلکو کټګوري | |
| د زده کړو دوام | ثانوي زده کړې | لوړې زده کړې | مشورې ورکول | د ګمرکي محصول تحفیف | د پېژند پاڼې ترلاسه کول | پاکستان | ایران | نور هېوادونه | ښاغلي | میرمنې |
| ۶۶۱تنه | ۲۸ تنه | ۰ | ۴۵۲تنه | ۱تن | | ۹۶۹تنه | ۱۲۴تنه | ۴۹تنه | ۱۰۲۴ | ۱۱۸ |

# په تېر یوه کال کې د وزارت د همغږۍ او پلان او پالیسۍ جوړنې په برخه کې فعالیتونه

څرنګه چې د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت د پلان جوړونې او همغږۍ په برخه کې یوه جوړونکې اداره ده. د پلان او پالیسۍ ریاست فعالیتونه د دې ادارې ریښې دي او د ملي او نړیوالو ادارو او ولایتي ریاستونو او آمریتونو ترمنځ د ارتباطي پل په حیث کار کوي.

د وزارت د پلان او پالیسۍ د برخې همکارانو له نورو برخو سره په همغږۍ د وزارت فعالیتونه، لاسته راوړنې، د پالیسیو پراختیا، هوکړه لیکونه او د وزارت استراتېژي ترتیب کړې او همکارو ملي ادارو ته یې وړاندې کړې.

دغه ریاست د ملي او نړیوالو همکارو بنسټونو سره په همغږۍ د مرکزي او ولایتي ریاستونو او آمریتونو پلانونه او راپورونه، استراتېژیکې برنامې، د وزارت د پراختیایي پالیسو بیاکتنه او خپلې کړنې او فعالیتونه راټولوي، چې د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت مهمې کړنې او فعالیتونه د همغږیو او پلان جوړونې په برخه کې په لاندې ډول دي:

د وزارت د مرکزي او ولایتي ریاستونو او آمریتونو د همغږیو د پراختیا او همدارنګه د وزارت او همکارو بنسټونو ترمنځ د همغږیو په برخه کې لاندې فعالیتونه ترسره شوي دي.

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت ګډ فعالیتونو د (UNHCR) د فتر سره د دواړو ادارو په همکارۍ د (PPA) برنامې پر اساس تنظیمیږي، چې په دې برخه کې د پلان او پالیسۍ ریاست د برنامو د ارشد مدیریت سره په همکارۍ، اجرایوي میکانیزم او د دغه هوکړه لیک الحاقیه د (۲۰۲۲) کال لپاره ترتیب او له اړوندو ادارو سره یې شریکه شوې ده.

ددې لپاره چې مرکزي او ولایتي اداري وکولای شي، د هر کال په پیل کې د وزارت عمومي تګلارې سره سم خپل یو کلن پلان چمتو کړي او په مشخصو ورځو (درې میاشتنی او کلنی) راپور ورکړي.

د پلان او پالیسۍ ریاست د پوهاوي او معلوماتو د زیاتوالي په موخه دوه مهم سندونه ترتیب او د وزارت بېلابېلو برخو سره یې شریک کړي، چې په لاندې ډول دي.

(۱) پلان جوړونې او راپورو ورکولو لارښود.

(۲) د پلانونو د تحلیل او ارزونې د میکانیزم مسوده.

په تېره یوه کال کې چې پر افغانستان اسلامي امارت حاکم دی، د پلان او پالیسۍ ریاست د وزارت د **(۱۴۰۱)** مالي کال پلان د بېلابېلو څانګو د وړاندیز شوو پلانونو له راټولو، تحلیل او یوالي وروسته چمتو او بشپړ کړی.

د چمتو شوي پلان له مخې، دې ریاست د وزارت د مرکزي او ولایتي ریاستونو د **(۱۴۰۰)** کال احصایوي او تفصیلي پلانونه ټول، تحلیل او اړونده مرجع د وزارت مقام او د افغنستان اسلامي امارت د چارو ادارې سره شریک کړي. همدارنګه داحصایې ملي ادارې ته یې درې میاشتني راپورونه وړاندې کړي دي.

د **(۱۴۰۱)** مالي کال درې میاشتني راپورونه هم د هرې دورې له بشپړولو وروسته پلي کوونکو بنسټونو څخه تر لاسه کېږي او د کال په پای کې به د (۱۴۰۰) کال د راپورونو په څېر بشپړ او اړونده مرجع ته وسپارل شي.

سربېره پردې د بېځایه شوو د ملي پالیسۍ د بیا کتنې کمېټه هم د پلان او پالیسۍ ریاست له لورې چمتوشوې او د پلي کېدو په مرحله کې ده.

د وزارت د پلان او پالیسۍ ریاست د مرکزي او ولایتي ریاستونو د همکارۍ او همغږۍ د پیاوړتیا په موخه په کابل کې درې ورځنۍ ورکشاپ ترسره کړ، چې پکې د وزارت د ولایتي ریاستونو او آمریتونو مسؤلینو هم ګډون درلود او خپلې ستونزې او ننګونې یې د وزارت مقام سره شریکې کړې.

سربېره پردې د (UNHCR) دفتر او مهاجرت نړیوال سازمان (IOM) سره د همکارو او همغږیو په موخه ناستې تر سره شوي دي.

په **(۱۴۰۰)** کال کې د راستنېدونکو او داخلي بېځایه شوو د ستونزو دحل او هغوی ته د خدماتو د وړاندې کولو په موخه له غیر دولتي موسسو سره د عالي عادي او بېړنیو پروژو لپاره **(۲۱)** هوکړه لیکونه لاسلیک شوي.

په **(۱۴۰۱)** کال کې د پلان او پالیسۍ ریاست له لورې د لاسلیک شوو هوکړه لیکونو شمېر **(۲۶)** ته رسي.

# د څارنې او ارزونې په برخه کې د وزارت یوکلن فعالیتونه

د راستنېدونکو او داخلي بېځایه شوو د بیا یوځای کېدو په موخه د مهاجرینو چارو وزارت په همکارۍ او همغږۍ د مرستندویه بنسټونو له لوري د عامه ګټو او پرمختیایي پروژې پلې کړې.

ددې لپاره چې د پروژو د کار دوام نور هم اغېزمن شي اړینه ده، چې د یو باصلاحیته څانګې له لوري یې څارنه او ارزونه وشي. په همدې موخه د مهاجرینو چارو وزارت په تشکیلاتي چوکاټ کې د څارنې او ارزونې ریاست مسؤلیت لري، چې د هغو همکارو بنسټونو فعالیتونه او دندې وڅاري چې د راستنېدونکو او داخلي بېځایه شوو اړوند پروژې پلي کوي.

همدارنګه دغه ریاست د هغو پروژو څارنه کوي، چې د وزارت د بېلابېلو څانګو له خوا پلي کېږي او په تېر یوه کال کې د مهاجرینو چارو وزارت د څارنې او ارزونې ریاست د پروژو د لا اغېزمنتیا په برخه کې لاندې فعالیتونه ترسره کړي دي.

د همکارو مرستندویه بنسټونو د راپورونو د راټولو لپاره یوه معیاري بڼه ترتیب شوې ده، چې له مخې به یې مرستندویه بنسټونه د هوکړه لیکونو او پروژو د پلي کېدو په اړه راپور ورکوي. دغه فارمټ د وزارت مقام له منظورۍ وروسته ولایتي ریاستونو او آمریتونو ته لېږل شوی دی، ترڅو ولایتي ریاستونه او آمریتونه په ښه او واضح ډول راپور ونه را ولېږي.

د تېر یو کال په اوږدو کې د وزارت د کاري پروژو راپورنه، د وزارت د هوکړه لیکونو د پلي کېدو او موسسو کاري راپورنه راټول شوي او هغه بنسټونه چې تر اوسه یې د خپلو کاري فعالیتونو راپورنه د مهاجرینو چارو وزارت ولایتي ریاستونو، آمریتونو او د مهاجرینو چارو وزارت د څارنې او ارزونې ریاست ته د تائید لپاره وړاندې کړي دي په لاندې ډول دي.

د همسایه نیک موسسې دوه راپورنه، د هاجر موسسې کاري راپور، داسلامیک ریلیف موسسې کاري راپور، د اکتېډ موسسې کاري راپور، د ډاکار موسسې کاري راپور، د واستا موسسې کاري راپور او د کیو موسسې کاري راپور چې د هرې پورژې څخه یې یو یو راپور راټول او یوځای شوی او د تحلیل او ارزونې په حال کې دی.

همدارنګه د پروژو د سیمه ییزې څارنې فورم د څارنې او ارزونې ریاست له لوري چمتو شوی، چې موخه یې په سیمه کې د کاري جریان د څارنې په برخه کې د اسانتیاوو رامنځ ته کول دی. ددې فورم پر اساس کار مندان کولای شي، په روښانه او اسانۍ سره د پروژ د کار جریان وڅاري.

دغه فورم به د وزارت مقام له منظورۍ وروسته ولایتي ریاستونو او آمریتونو ته ولېږل شي، ترڅو ددې مطابق خپل کارونه ترسره کړي.

د څارنې او ارزونې ریاست د وزارت د مرکزي او ولایتي ریاستونو او آمریتونو د پروژ او کاري برنامو د څارنې او ارزونې لړۍ پیل کړې، چې په دې لړۍ کې به د پلانونو د پلي کېدو تحلیل او ارزونه کېږي او په مرکز کې کارونه بشپړ او د ولایتي پلانونو څارنه دوام لري.

ترټولو مهم پروګرامونو او پروژې چې ددې ریاست له لوري ارزول شوي د مرکزي ریاستونو (PPA) پروژې فعالیتونه دي.

د غیر دولتي موسسو د فعالیتونو د څارنې د میکانیزم د بشپړولو او د تصیب د ترلاسه کولو ترتیب.

دا میکانیزم بشپړ شوی او د مقام د منظورۍ وروسته په ټولو مرکزي او ولایتي ریاستونو او آمریتونو کې نافذ شوی.

د وزارت د څارنې او ارزونې رئیس د ریاستونو او آمریتونو د ارزونې په موخه خوست، پکتیا، بامیان، ننګرهار، لغمان، کونړ، بامیان، هرات او ننګرهار ولایت تورخم ته سفر کړی او په مستقیم ډول یې فعالیتونه څېړلي دي.



# راستنېدونکوته د لاسرسي په برخه کې د وزارت مهم فعالیتونه

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت د اسناد لرونکو او بې اسناده راستنېدونکو د اړتیاوو پوره کول او د وضعیت اداره کول د خپلو مهمو کاري مسؤلیتونو څخه ګڼي. له همدې امله د راستنېدونکو د بیا مېشتېدنې ریاست د نورو ریاستونو سره یوځای ددې قشر وضعیت ته د لاسرسي په موخه مستقم مسؤلیت په غاړه لري.
دغه ریاست د راستنېدونکو د بیا مېشتېدو، خپلو اصلي سیمو کې د ځای پرځای کېدو، اسانتیاوو د برابرولو، بشري مرستو د وړاندې کولو، کار موندنې د زمینې د برابرولو او تړولیزو او بنسټیزو خدماتو د وړاندې کولو په برخه کې هڅه کوي، چې په تېر یوه کال کې یې مهم فعالیتونه په لاندې ډول دي.
د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته چې په ټول هېواد کې امنیت تامین شو، د پام وړ شمېر افغان مهاجرین خپل هېواد ته د راستنېدو لېوالتیا پیدا کړې. د (۱۴۰۱) کال د تلې میاشتې پورې له یو میلیون څخه زیات افغان مهاجرین خپل هېواد ته راستانه شول، چې اکثریت یې په ایران کې اوسېدل او د دوی له ډلې یوشمېر په پاکستان او نورو هېوادونوکې اوسېدل، چې جزیات یې په لاندې جدول کې ذکر شوي دي.

**آمار و ارقام عودت کنندگان به تفکیک ماهوار از پیروزی امارت اسلامی الی هفته اخر میزان 1401**

| تاریخ | | ایران | | | | پاکستان | | | | اروپا | | سایر کشورها | | مجموعه ایران | مجموع ه پاکستان | مجموع اروپا | مجموعه سایر کشور | مجموعه کل |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ربعوار | ماهوار | دارای اسناد | | فاقد اسناد | | دارای اسناد | | فاقد اسناد | | | | | | | | | | |
| | | داوطلب | اجباری | داوطلب | اجباری | داوطلب | اجباری | داوطلب | اجباری | داوطلب | اجباری | داوطلب | اجباری | | | | | |
| ربع سوم 1400 | اسد | بعد از تغییر نظام از 24 الی اخیر اسد مرزها مسدود بود. | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | سنبله | 61 | 0 | 43,773 | 48,773 | 0 | 0 | 2,300 | 69 | 0 | 0 | 0 | 0 | 92,607 | 2,369 | 0 | 0 | 94,976 |
| ربع چهارم 1400 | میزان | 55 | 0 | 48,770 | 43,776 | 0 | 0 | 2,319 | 50 | 0 | 0 | 0 | 0 | 92,601 | 2,369 | 0 | 0 | 94,970 |
| | عقرب | 35 | 0 | 45,881 | 46,665 | 0 | 0 | 2,324 | 45 | 0 | 0 | 0 | 0 | 92,581 | 2,369 | 0 | 0 | 94,950 |
| | قوس | 24 | 0 | 44,542 | 47,110 | 0 | 0 | 2,334 | 35 | 0 | 0 | 0 | 0 | 91,676 | 2,369 | 0 | 0 | 94,045 |
| ربع | جدی | 5 | 0 | 23,456 | 30,036 | 0 | 0 | 150 | 40 | 0 | 0 | 0 | 0 | 53,497 | 190 | 0 | 0 | 53,687 |
| | دلو | 6 | 0 | 23,986 | 32,000 | 0 | 0 | 386 | 58 | 0 | 0 | 0 | 0 | 55,992 | 444 | 0 | 0 | 56,436 |
| | حوت | 30 | 0 | 26,914 | 37,260 | 19 | 0 | 4,859 | 145 | 0 | 0 | 0 | 0 | 64,204 | 5,023 | 0 | 0 | 69,227 |
| ربع اول سال 1401 | حمل | 0 | 0 | 49,338 | 68,574 | 0 | 0 | 6,268 | 178 | 0 | 0 | 0 | 0 | 117,912 | 6,446 | 0 | 0 | 124,358 |
| | ثور | 0 | 0 | 39,149 | 47,523 | 0 | 0 | 4,930 | 136 | 0 | 0 | 0 | 0 | 86,672 | 5,066 | 0 | 0 | 91,738 |
| | جوزا | 39 | 0 | 37,759 | 32,913 | 39 | 17 | 7,099 | 138 | 0 | 0 | 0 | 0 | 70,711 | 7,293 | 0 | 0 | 78,004 |
| ربع دوم سال مالی 1401 | سرطان | 5 | 0 | 36,454 | 28,565 | 126 | 0 | 3,464 | 127 | 0 | 0 | 0 | 0 | 68,741 | 3,717 | 0 | 0 | 72,458 |
| | اسد | 9 | 0 | 17,651 | 14,356 | 148 | 0 | 1,969 | 8 | 0 | 0 | 0 | 0 | 34,141 | 2,125 | 0 | 0 | 36,266 |
| | سنبله | 0 | 0 | 9,720 | 9,526 | 323 | 0 | 2,486 | 95 | 0 | 0 | 0 | 0 | 22,150 | 2,904 | 0 | 0 | 25,054 |
| ربع سوم سال مالی 1401 | میزان | 0 | 0 | 16,766 | 22,379 | 0 | 0 | 2,056 | 169 | 0 | 0 | 0 | 0 | 39,145 | 2,225 | 0 | 0 | 41,370 |
| | عقرب | | | | | | | | | | | | | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| | قوس | | | | | | | | | | | | | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| ربع چهارم سال مالی 1401 | جدی | | | | | | | | | | | | | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| | دلو | | | | | | | | | | | | | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| | حوت | | | | | | | | | | | | | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| مجموع هر کشور | | 269 | 0 | 464,159 | 509,456 | 655 | 17 | 42,944 | 1,293 | 0 | 0 | 0 | 0 | 982,630 | 44,909 | 0 | 0 | 1,027,539 |

د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت ( ۲۵۹) زره او ( ۴۳۶) تنو راستنېدونکو سره بشري مرستې ترسره کړې او د اسلامي امارت له بریا د (۱۴۰۰) کال پورې (۱۲۶) زره او (۱۵۳) تنه راستانه شوي، چې له ډلې یې د (۱۴۰۱) کال د تلې میاشتې پورې (۱۳۳) زره او (۲۸۳) تنو سره مرستې ترسره شوي.

د ویلوده، چې تر دې وړاندې هم د مرکزي ولایتونو په پولو کې اړمنو راستنېدونکو ته بشري مرستې وېشل شوې، چې پکې نغدې پیسې، خوراکي اوغیر خوراکي توکي او د کور د اړتیا وړ کڅوړې شاملې وې، وېشل شوي دي.

په ورته وخت کې د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت په یوشمېر ولایتونوکې د مهاجرینو په ښارګوټو کې د راستنېدونکو سروې ترسره کړې او د راستنېدونکو د غوښتنو پر اساس یې د دوی اړتیاوې په ګوته کړې او د ملي همکارو ادارو سره، چې پکې کلیو پراختیا وزارت، پوهنې، روغتیا ، حج اواوقاف، اوبو او انرژۍ، کار او ټولنیزو چارو او کورنیو چارو وزارت شامل دي شریکه کړې.

دغه اړتیاووې د هېواد په (۱۵) ولایتونوکې راټولې شوې، چې پکې لاندې موارد شامل دي.

د مهاجرینو په ښارګوټوکې (۴۲) جوماتونه، (۵۴) ښوونځي، (۱۸) روغتیایي مرکزونه، (۷۲۱) پلچکونه، (۳۵) سپورتي او تفریحي پارکونه، (۲) ورکتونونه، (۱۰) زره او ( ۶۰۰) متره استنادي دېوال، (۸) لوی پلونه،د امنیتي پوستو جوړول، (۵۱) ژورې څاګانې، (۲۵۵) نیمه ژورې څاګانې، د اوبو رسونې د (۸) شبکو بیا ځلې جوړول او تمدید، د برق د (۶) شبکو تمدید، په ښارګوټوکې د (۱۸۶) کیلو متره سرک چغل اچول، ( ۵۵۰۰) لمریزې بریښنا د تختو لګول او په مخدره موادو د (۱۷۰۰) تنو روږدو کسانو درملنه.

څرنګه چې د مهاجرینوچارو وزارت یو همغږې کوونکې اداره ده، نو د پورتنو اړتیاوو له تحلیل او پرېکړې وروسته له اړوندو ادارو سره شریکې کړې.

د مهاجرینو چارو وزارت د مهاجرینو ښارګوټو د تخنیکي ارزونې په موخه ولایتونو ته پلاوي لېږلي و، ترڅو په ښارګوټو کې شته ستونزې وڅېړي او مسؤلینو سره یې شریکې کړي.

همدارنګه د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته د مهاجرینو چارو وزارت ترڅارنې لاندې راستنېدونکو لپاره په بېلابېلو ولایتونوکې ( ۱۶۳۲) سرپناوې جوړې شوې او په بېلابېلو ولایتونوکې د ( ۱۷۱۲) نورو سرپناه و د جوړولو کار دوام لري.

په ورته وخت کې د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت د نورو اړوندو ادارو په همکارۍ د امیر المومنین د ۱۴/ ۳/ ۱۴۴۴ کال د (۶) ګڼې فرمان د پلي کېدو په موخه د تخار ولایت په خواجه بهاوالدین ولسوالۍ کې (۱۵۰) جریبه ځمکې د وېش کار شروع کړ.

| جزئیات گزارش ارایه کمک ها بعد از پیروزی امارت اسلامی از بابت سال 1400 | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شماره | نام ماه ها | PSN | کمک غذایی | کمک های نقدی | گزارش ماهوار | | گزارش ربعوار | گزارش سال1400 |
| 1 | اسد | 0 | 7 | 125 | 132 | 0 | 28652 | 126153 |
| 2 | سنبله | 1236 | 15732 | 11552 | 28520 | | | |
| 3 | میزان | 0 | 4786 | 4113 | 8899 | | 17501 | |
| 4 | عقرب | 40 | 2326 | 1270 | 3636 | | | |
| 5 | قوس | 15 | 215 | 4736 | 4966 | | | |
| 6 | جدی | 0 | 868 | 9066 | 9934 | | 80000 | |
| 7 | دلو | 0 | 4202 | 41247 | 45449 | | | |
| 8 | حوت | 0 | 0 | 24617 | 24617 | | | |

| جزئیات گزارش ارایه کمک ها بعد ازپیروزی امارت اسلامی ازبابت سال 1401 | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| پول نقدولایات | پول نقد مرزها | کمک غذایی ولایات | کمک غذایی مرزها | PSN ولایات | گزارش ماهوار | | گزارش ربعوار | گزارش سال1401 |
| 506 | 28812 | 2549 | 5464 | 855 | حمل | 38186 | 93535 | 133283 |
| 950 | 14245 | 2137 | 6654 | 0 | ثور | 23986 | | |
| 951 | 16377 | 689 | 13315 | 31 | جوزا | 31363 | | |
| 1467 | 8314 | 1200 | 6381 | 174 | سرطان | 17536 | 39748 | |
| 1403 | 7135 | 852 | 3437 | 333 | اسد | 13160 | | |
| 758 | 4560 | 250 | 3077 | 407 | سنبله | 9052 | | |
| 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | میزان | 0 | 0 | |
| 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | عقرب | 0 | | |
| 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | قوس | 0 | | |
| 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | جدی | 0 | 0 | |
| 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | دلو | 0 | | |
| 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | حوت | 0 | | |
| 6035 | 79443 | 7677 | 38328 | 1800 | | | | |
| مجموعه کلی ارقام سال 1400الی 1401 | | | | | | | 259436 | |

## د مسلکیتوب او ګومارنې په برخه کې د مهاجرینو چارو وزارت مهم فعالیتونه

د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته د وزارت د کارکوونکو د ظرفیت لوړونې، د ور کسانو د ګومارنې، کار کوونکو ته د ښوونې او روزنې، کار کولو مطابق د تشکیل اصلاح او په تشکیل کې د اړتیا وړ بستونو د زیاتوالي په برخه کې لاندې فعالیتونه ترسره شوي دي.

د (۱۳۹۹) او (۱۴۰۰) کال د تشکیل په پام کې نیولو سره د (۱۴۰۱) کال تشکیل د وزارت د مشر تابه په ملاتړ لوړ شو، چې شمېر یې ( ۱۲۴۷) دی.

د اړتیا او کاري حجم په پام کې نیولو سره، د طبیعي پېښو له امله د داخلي بېځایه شوو او له اسیایي او اروپایي هېوادونو څخه راستنېدونکو افغان مهاجرینو ته د غوره خدماتو د تنظیم او وړاندې کولو په موخه د دغه وزارت د (۱۴۰۱) کال په تشکیل کې ( ۴۸) بستونه زیات شو.

د بستونو دغه زیاتوال د افغانستان اسلامي امارت د چارو د اداري د تنظیم د کمېټې په دفاعیه ناسته کې د مهاجرین چارو وزارت د چارواکو د قناعت وړ ځوابونو د وړاندې کولو پایله وه.

په ( ۱۴۰۱) کال کې د مهاجرینو چارو وزارت په مرکز او ولایتو کې (۱۲۹۵) بستونه د ریاست الوزرا مقام له لوري تائید شوي و. تر ټولو مهم فعالیتونه چې د تشکیل په کچه رامنځته شوي د فراه ولایت د مهاجرینو چارو دآمریت دي، چې له درېیم بست آمریت څخه یې دوهم بست ریاست ته لوړ شو او د راستنېدونکو د اغېزمن مدیرت او د کره شمېرو د برابرولو په موخه د (۷) درېیم بستونو اضافه کول دي.

دا ځانګې په لاندې ډول دي:

- کندز ولایت د مهاجرینو چارو ریاست کې د شیر خان بندر د مهاجرینو چارو سرحدي ځانګه.
- د بلخ ولایت د مهاجرینو چارو ریاست کې د حیرتان بندر د مهاجرینو چارو سرحدي ځانګه.
- پکتیا ولایت د مهاجرینو چارو ریاست کې د پټان خرلسې د مهاجرینو چارو سرحدي ځانګه.
- پکتیکا ولایت د مهاجرینو چارو ریاست کې د انګور هډې د مهاجرینوچارو سرحدي ځانګه .
- کونړ ولایت د مهاجرینو چارو ریاست کې د نواپاس د مهاجرینو چارو سرحدي ځانګه.
- هلمند ولایت د مهاجرینو چارو ریاست کې د بارام چه د مهاجرینو چارو سرحدي ځانګه.
- د فراه ولایت د مهاجرینوچارو ریاست کې د ابونصر فراهي د مهاجرینو چارو سرحدي ځانګه.

دغه راز د وزارت په مرکزکې د بشري سرچینو ریاست له لوري د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري په همکارۍ ( ۲۱۶) تنو کار کوونکو ته د اداري او مدیریت، انګلیسي او کمپیوټر روزنیز پروګرامونه برابرشوي، چې په درې واړو برخوکې کار کوونکي په زده کړو بوخت دي، چې له ډلې یې (۷۱) د انګلیسي، ( ۸۴) د کمپیوټر او (۶۱) تنه د اداره او مدیرت په برخه کې زده کړې کوي.

همدارنګه د وزارت په مرکز کې د (JRS) موسسې په همکارۍ د وزارت کار کوونکو لپاره د انګلیسي پروګرام برابر شوی، چې (۲۵) تنه کار کوونکي پکې په زده کړو بوخت دي.

سربېره پردې په (۳۲) ولایتونوکې کار کوونکو ته د انګلیسي او کمپیوټر ښونیز کورسونه برابر شوي، چې (۲۵۶) تنه ولایتي کار کوونکي پکې په زده کړو بوخت دي.

د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته د وزارت د بېلابېلو ځانګو لپاره په بېلابېلو عنوانونو څلور روزنیز ورکشاپونه ترسره شوي دي. دغه ورکشاپونه د مهاجرینو چارو وزارت د بشري سرچینو ریاست له لوري د یو شمېر ملي او نړیوالو ادارو په همکارۍ ترسره شوي.

هغه ورکشاپونه چې په تېر یوه کال کې ترسره شوي په لاندې ډول دي:

د ملي تدارکاتو ریاست په همکارۍ د تدارکاتو آمریت کارکوونکو لپاره د ( پروپوزل د پرانیستي، تدارکاتو ارزونې او د تدارکاتو د پلان جوړونې ورکشاپ.

د ( اداري او مدیریت، مکتوب لیکولو او راپور لیکلو ) تر سرلیک لاندې روزنیز ورکشاپ په (۳۲) ولایتونوکې د مهاجرینوچارو وزارت ریاستونو او آمریتونو ته، چې (۳۲۱) تنه کار کوونکي ترې برخمن شوي.

د (۳۲) ولایتونو (۳۲۱) کار کوونکو لپاره د ( کارونو ارزونې ) تر سرلیک لاندې روزنیز ورکشاپ.

د روغتیا وزارت په همکارۍ د دغه وزارت د مرکز (۶۰) تنو کار کوونکو ته د خولې او غاښونو د ساتنې تر سرلیک لاندې روزنیز ورکشاپ.

د مهاجرینو چارو وزارت په مرکزکې د ورکشاپونو او روزنیزو پروګرامونو د برابرولو تر څنګ یو شمېرنورو ادارو او بنسټونو ته د زده کړو په موخه کار کوونکي معرفي شوي، چې شمېر یې په لاندې ډول دی.

- (۱۴) تنه کار کوونکي چې پکې رئیسان هم شامل دي د زده کړو په موخه د ملکي خدماتو انستیتوت ته ور ېږندل شوي.

.د داخلي پلټنې ریاست دوه تنه کار کوونکي د (CPSA) مسلکي پلټنې تر سرلیک لاندې یو کلنې روزنیز برنامې ته د پلټنې عمومي ریاست ته ور پېژندل شوي.

- (۶) تنه کار کوونکي د زده کړو په موخه د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري ته ور پېژندل شوي.

. د مالي او اداري ریاست، داخلي پلټنو او تدارکاتو آمریت (۱۳) تنه کار کوونکي د(د تدارکاتو روزنه) تر سرلیک لاندې روزنیز ورکشاپ کې د زده کړو په موخه د ملي تدارکاتو ریاست ته ور پېژندل شوي.

.یو تنه کار کوونکی د اقتصاد په برخه کې د لوړو زده کړو د ترسره کولو په موخه د بیان د لوړو زده کړو موسسې ته معرفي کول.


.لوړو زده کړو وزارت ته د لېسانس، ماسترۍ او دوکتورا بورسونو په برخه کې د (۳) تنو کار کوونکو ور پېژندل.

.په ولایتونوکې (۱۵) تنه کار کوونکي د درملنې په موخه روغتونو ته ور پېژندل شوي.


د ګومارنې په برخه کې د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته (۳۶۳) تنه په مرکز او ولایتونوکې نوي ګومارل شوي، چې له ډلې یې ( ۱۶۰) تنه په مرکز او ( ۲۰۳) تنه پـه ولایتونوکې ګومارل شوي او ( ۱۴) تنه مخکیني مامورین تقاعد ته سوق شوي، چې د اسنادو په طی مراحلو او نورو بېلابېلو برخوکې ورسره د بشري سرچینو ریاست همکاري کړې.

خورا مهم بدلونونه، ګومارنې او تبدیلیانې په لاندې جدولونو کې لیست شوي


| جدول تقرری مرکز و ولایات | | | | |
|---|---|---|---|---|
| شماره | بست | مرکز | ولایات | مجموع |
| 1 | بست دوم | 4 | 20 | 24 |
| 2 | بست سوم | 25 | 57 | 82 |
| 3 | بست چهارم | 28 | 40 | 68 |
| 4 | بست پنجم | 50 | 44 | 94 |
| 5 | بست ششم | 9 | 3 | 12 |
| 6 | بست هفتم | 26 | 24 | 50 |
| 7 | بست هشتم | 18 | 15 | 33 |
| | مجموع | 160 | 203 | 363 |





| تبدیلی | |
|---|---|
| ولایات | 18 |
| مرکز | 42 |
| مجموع | 60 |





| خدمتی | |
|---|---|
| ولایات | 16 |
| مرکز | 2 |
| مجموع | 18 |





| ارتقا | |
|---|---|
| ولایات | 1 |
| مرکز | 10 |
| مجموع | 11 |





| استعفا ( مرکز - ولایات) | | | | |
|---|---|---|---|---|
| شماره | بست | مرکز | ولایات | مجموع |
| 1 | بست سوم | 1 | 3 | 4 |
| 2 | بست چهارم | | 1 | 1 |
| 3 | بست پنجم | 1 | 1 | 2 |
| | مجموع | 2 | 5 | 7 |




| انفکاک ( مرکز - ولایات) | | | | |
|---|---|---|---|---|
| شماره | بست | مرکز | ولایات | مجموع |
| 1 | بست سوم | 6 | 12 | 18 |
| 2 | بست چهارم | 13 | 13 | 26 |
| 3 | بست پنجم | 19 | 22 | 41 |
| 4 | بست ششم | 3 | 1 | 4 |
| 5 | بست هفتم | 8 | 8 | 16 |
| 6 | بست هشتم | 3 | 10 | 13 |
| | مجموع | 52 | 66 | 118 |




| استخدام قراردادی | | |
|---|---|---|
| شماره | بخش | تعداد |
| 1 | UNHCR | 51 |
| 2 | MOF | 3 |



## د داخلي بېځایه شوو وضعیت ته د لاسرسي په برخه کې د مهاجرینوچارو وزارت فعالیتونه

د داخلي بېځایه شوو وضعیت ته لاسرسی د مهاجرینو او راستنېدونکوچارو وزارت یو له بنسټیزو مسؤلیتونو څخه دی.

دا وزارت د ملي او نړیوالو مرستندویه بنسټونو سره په ګډې همکارۍ هڅه کوي، چې داخلي بېځایه شوو سره بشري مرستې ترسره کړي، خپلو اصلي سیموته یې ولېږي او بیا ځلي خپلو اصلي سیموکې مېشت شي.

د مهاجرینو چارو وزارت د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته توانېدلی، چې د داخلي بېځایه شوو د لړۍ کمولو په ګډون په دې برخه کې مهمې لاسته راوړنې ولري.

د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته د مهاجرینو چارو وزارت فعالیتونه د داخلي بېځایه شوو او اړمنو کورنیو په برخه کې په لاندې ډول دي.

د اسد میاشتې څخه د (۱۴۰۰) کال تر پای (۴۳۸۲۲) کورنیو سره چې د طبیعي پېښو له امله له خپلو اصلي سیموڅخه بېځایه شوې وې (۲۰۲۰۳) کورنۍ بېرته خپلو سیموته ستنې شوې. همدارنګه په یاده موده کې (۵۵۰۰۲) بېځایه شوو کورنیو سره نغدي،د خوراکي او غیر خوراکي توکو، کور وسایلو، ګرمو جامو او خېمو مرستې شوې دي.

همدارنګه د (۱۴۰۱) کال د وري میاشتې څخه د تلې د دومې اوونۍ پورې (۳۲۶۱۸) کورنۍ د خپلو اصلي سیموڅخه بېځایه شوې،چې له ډلې یې (۳۲۶۱۸) د طبیعي پېښو او (۷۵۲۲) کورنۍ د غیر طبیعي پېښو له مله د خپلو سیموڅخه بېځایه شوې.

د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته چې په ټول هېواد کې امنیت تامین شو، (۱۵۵۰۷۴) کورنۍ بېرته خپلو اصلي سیموته تللي،چې ددې باوجود اوس هم په ټول هېواد کې (۳۶۳۸۶۸) کورنۍ د بېځایه کېدو په حالت کې ژوند کوي.

د (۱۴۰۱) کال د وري میاشتې څخه د د تلې د دومې اوونۍ پورې په ټول هېواد کې(۲۸۲۸۴۱) کورنیو سره د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې شوي.

د مهاجرینو او راستنېدونکوچارو وزارت د بشري مرستو د وېش د چټکتیا په موخه د مرستو د وېش لپاره یو میکانیزم جوړ کړی، چې اوسنیو شرایطو ته په کتو چې په ټول هېواد کې امنیت تامین دی په یاد میکانیزم کې اصلاحات او بدلونونه راغلي او د وزارت مقام د منظورۍ وروسته به ولایتي ریاستونو او آمریتونه سره شریک شي.

همدارنګه د مهاجرینوچارو وزارت د سروې فوق العاده ټیم د دایمي حل لارو د رئیس په مشرۍ پکتیکا ولایت ته د زلزلې له امله د زیانمو شوو کورنیو د سروې په موخه سفر کړی.

یاد کاري ټیم (۱۱۸۳) کورنۍ په دغه ولایت کې سروې کړي.

همدارنګه د داخلي بېځایه شوو د دایمي حل لارو رئیس د (۱۴۰۱) کال د چنګاښ په (۵) مه د ملي او نړیوالو همکارو مرستندویه بنسټونو سره د پکتیکا ولایت زلزله ځپلو کورنیو وضعیت ته د لاسرسي او د مرستو د جلب په موخه ناسته ترسره کړې.

د (۱۴۰۱) کال په اوږدو کې د دخلي بېځایه شوو د دایمي حل لارو ریاست کار کوونکو (۱۵) ولایتونو ته سفرونه کړي، ترڅو د داخلي بېځایه شوو خلکو وضعیت څخه لیدنه وکړي، د سروې د پروسې څارنه وکړي او راپورونه یې له اړونده بنسټونو سره شریک کړي.

دغه راز د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت د داخلي بېځایه شوو د دایمي ستونزو د حل او دوامداره بیا یو ځای کېدو په موخه څلور پروپزلونه برابر کړي او په (۳۴) ولایتونو کې یې د ارستنېدونکو او داخلي بېځایه شوو د بیا یوځای کېدو [illegible]



## په تېر یوه کال کې د مهاجرینو په ښارګوټوکې پرمختیایي فعالیتونه

څرنګه چې د راستنېدونکو او داخلي بېځایه شوود بیایوځای کېدو په برخه کې بشري مرستې بسنه نه کوي، د مهاجرینو چارو وزارت هڅه کوي، چې د ملي او نړیوالو بنسټونو په همکارۍ د هغوی لپاره پراختیایي او بنسټیزې پرګرامونه برابر کړي.

ځینې پرمختیایي او بنسټیزې پروژې د مهاجرینو چارو وزارت ترڅارنې لاندې د نړیوالو بنسټونو او موسسو په مالي مرسته د مهاجرینو په ښارګوټو کې چې لوړ عاید لري د لاندې ملي بنسټونو له لورې د اړوندو ادارو په همکارۍ د مهاجرینو چارو وزارت په همغږۍ پلي کېږي.

د مهاجرینو او راستنېدونکوچارو وزارت په خپل کاري تشکیل کې په ښارګوټوکې د خدماتو د وړاندې کولو تر عنوان لاندې یو ریاست لري، چې یاد ریاست په ښارګوټوکې تخنیکي کار د څارنې، سروې، ډیزاین او د پرمختیایي پروژو د براورد د نورو اړوندو ادارو سره په همکارۍ پرمخ وړي.

همدارنګه په هغه ښارګوټوکي کې چې د بېځایه شوو لوړې شمېرې لري ځینې پرمختیایي پروژې د مهاجرینو چارو وزارت له پراختیایي بودیجې څخه تمویلېږي او په ښارګوټوکې د خدماتو د وړاندې کولو ریاست له لورې پلي کېږي.

د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته د راستنېدونکو او داخلي بېځایه شوو لپاره د پراختیایي او بنسټیزو خدمتونو په برخه کې د مهاجرینو چارو وزارت مهم فعالیتونه په لاندې ډول دي.

- د لغمان ولایت د بابا صاحب د مهاجرینو ښارګوټي کې د ویالو، پلچکونو او (۲۱۷۱) متره سرک هوارول د (۲۱۷۱۹۹۳۱) افغانیو په لګښت چې حسیب ساختماني شرکت ته په قرارداد ورکول شوی دی، د ولایتي تخنیکي کمېټې د راپور له مخې تر اوسه یې درې سلنه کار مخ ته تلې او پاتې کارونه یې تر اوسه دربېدلي دي.
- په ښارګوټي کې راستنېدونکو او مهاجرینو ته د ټولنیزو خدماتو د وړاندې کولو په موخه د پروپوزل جوړول.
- د راستنېدونکو لپاره د پرانیستل شوو ښارګوټو د تفصیلي ماسټر پلانونو د چمتو کولو او ترتیبولو په برخه کې د ښار جوړونې او ځمکو وزارت سره د وزارتونو ترمنځ د نړیوال هوکړه لیک برابرول او د وزارت مقام ته یې وړاندې کول.
- د (PPA-۲۰۲۲) پروژې له لارې په (۱۷) ولایتونوکې د مهاجرینو چارو ریاستونو او آمریتونو لپاره د لمریزې برېښنا ترتیبول او د تدارکاتي پروسې لپاره یې اړین اسناد د تدارکاتو آمریت ته لېږل.

د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته کارکوونکوته د مناسب چاپیریال د برابرولو په موخه د ښارګوټو د انجینرۍ خدمتونو ریاست له لورې د وزارت د بېلابېلو ودانیو سروې، ډیزان او براورد، چې مهم یې د وزارت د لومړۍ بلاک ترمیم او ایزو ګام، د وزارت د تیلو ټانک تخنیکي سروې، د میلمستون د عمومي تشنابونو ترمیم، د مالي او اداري معینیت د پخلنځي، د وړکتون د پخلنځي، پذیریش ودانۍ، د میلمستون د دهلیز رنګ، د شورا دفتر د سایه بان بیاځلي ترمیم، د پلان او پالېسۍ ریاست د رئیس دکاري دفتر، د دوهم بلاک د اهن پوش، د وزارت د مسجد د فلزي پنجرې سروې، د رسیبشن د سبتیک د څاه ډیزاین او د وزارت د عمومي دروازې ترمیمول دي.



## له هېواد بهر افغان مهاجرینو ته د خدماتو وړاندې کول او په خپله خوښه راستنېدو ته یې هڅول

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت په هېواد کې دننه راستنېدونکو او داخلي بېځایه شوو ته د خدماتو د وړاندې کولو ترڅنګ هڅه کوي، چې له هېواده بهر افغان مهاجرینو ته هم خدمات وړاندې کړي.

دا چې د افغان مهاجرینو لویه برخه په دوو ګاونډیو هېوادونو( ایران او پاکستان) کې اوسیږي، د مهاجرینو چارو وزارت هڅه کوي چې د مهاجرت په برخه کې د نړیوالو سازمانونو او د ډیپلوماتیکو خبرو اترو له لارې افغان مهاجرینو ته خدمات وړاندې کړي.

دغه راز د مهاجرینو چارو وزارت هڅه کوي، چې د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري سره په ګډې همکارۍ د هغه مهاجرو لپاره چې په ایران او پاکستان کې د مهاجرت کارتونه لري، خدمات وړاندې کړي او قانوني او ټولنیزې اسانتیاوې ورته رامنځته کړي.

د مهاجرینو چارو وزارت هڅه کوي، چې د دوه اړخیزو خبرو اترو له لارې د مهاجرت نړیوال سازمان په منځګړتوب چې په ترکیې او یو شمېر نورو هېوادونو کې ژوند کوي خدمات وړاندې کړي.

په بهرنیو هېوادونو کې افغان مهاجرینو د خدماتو د وړاندې کولو په برخه کې د وزارت تر ټولو مهم فعالیتونه چې په خپله خوښه راستنېدوته د هڅونې ریاست له لارې تنظیم شوي په لاندې ډول دي.

### الف: په کوربه هېوادونوکې د مهاجرینو لپاره ترسره شوې کړنې

- په ایران کې

په خپله خوښه راستنېدو ته د هڅونې ریاست د معلوماتو له مخې په ایران کې (۱,۴۷۰,۰۰۰) تنه افغان مهاجر په قانوني توګه ژوند کوي، چې له ډلې یې (۹۵۰) زره تنه مهاجر کارتونه، (۴۵۰) زره تنه یې کورني پاسپورتونه، (۲۰) زره تنه یې اوږد مهالي او (۴۰) زره تنه یې پاسپورتونه او اقامې لري.

همدارنګه په ایران کې (۴۵۰۸۳۹) تنه زده کوونکي، (۳۳۶) تنه ښوونکي، (۱۷۰۰۰) دیني زده کوونکي او (۲۶۰۰۰) تنه د لېسانس، ماسترۍ او دوکتورا زده کړیالان ژوند کوي.

په ورته وخت کې (۴۴) افغاني ښوونځي هم په ایران کې په نښه شوي او ددې سربېره (۳۱۳۸) تنه زده کوونکي د هغه هېواد په تخنیکي او مسلکي ښوونځیو کې په زده کړو بوخت دي.

دغه وزارت د تېرحکومت په دوره کې په ایران کې د مهاجرینو لپاره د الکترونیکي پېژند پاڼو د وېش لړۍ پیل شوې وه او د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته یې لاندې فعالیتونه ترسره کړي دي.

- (۱,۳۶۹,۰۰۰) تنو نوملیکنه کړې.
- (۱۰۵,۰۰۰) تنه بایومتریک شوي.
- (۹۰,۰۰۰) تنو پېژند پاڼې اخیستي.

همدارنګه په ایران کې افغان مهاجرینوته د لا زیاتو اسانتیاوو د رامنځته کولو په موخه د مهاجرینو چارو وزارت مشرتابه پلاوي د ایران د سفیر، د ولسمشر ځانګړي استازي او په کابل کې د مهاجرینو چارو ادارې له رئیس سره خبرې کړې او لاندې هوکړه لیکونه لاسلیک شوي دي.

- د (۲۰۲۲) کال تر پای د مهاجر کارتونو او کورنیو پاسپورتونو د مودې غځېدنه.
- افغان مهاجرینو ته په روغتیایي برخو کې د اسانتیاوو رامنځته کول.
- د ایران په ښوونځیو کې د بې اسناده ماشومانو شاملول.
- په هغه هېواد کې د افغان بندیانو د وضعیت په اړه هوکړه.
- د افغان مهاجرینو د اسانتیاوو لپاره لکه د بانکي حساب جوړول. د موټر چلولو د جواز تر لاسه کول، د کور دکرایې د کمول او د خوروني مخنیوی.
- د مهاجرینو چارو وزارت د افغان مهاجرین د قاچاق د قربانیانو د څېړلو او پېژندنې په برخه کې او له هغو بې اسنادو مهاجرینو سره چې په ایران کې په بېلابېلو پېښو کې زیانمن شوي لاندې خدمات ترسره کړي دي.

- د (۶۹۹) غیر قانوني مهاجرینو جسدونه چې په کوربه هېوادونو په ځانګړې توګه په ایران کې چې د بېلابېلو پېښو له امله مړه شوي وو، ددې ریاست په هڅو د مهاجرینو چارو وزارت د سرحدي ادارو په همغږۍ د نړیوالو مرستندویه بنسټونو په همکارۍ انتقال شوي او خپلوانو ته یې سپارل شوي دي.
- (۱۶۰۰) بې اسناده مهاجرینو چې د قاچاق له خطر سره مخ وو ددې ریاست له لارې پېژندل شوي او د هغوی د ملاتړ په خاطر ورته د باغزته راستنېدو زمینه برابره شوې ده.

• د همدې ریاست د هڅو په پایله کې د (۱۳۸۷) تنو هغو مهاجرینو د درملنې لګښت چې په بېلابېلو پېښو کې ټپیان شوي وو او د ایران د روغتونونو مالي لګښت د همکارو بنسټونو په همکارۍ ورکړل شوی

**په پاکستان کې شاوخوا درې میلیونه اسناد لرونکي او بې اسناده افغان مهاجر ژوند کوي، چې په دریو برخو وېشل شوي دي.**

- هغه افغان مهاجرین چې د POR؛ (PROOF OF REGISTRATION) کارتونه لري او شمېر یې (۱٫۳۸۶٫۴۳۵) تنو ته رسي.
- هغه افغان مهاجرین چې ACC؛ (AFGHAN CITIZEN CARD) کار تونه لري او شمېر یې (۸۰۰) تنو ته رسي.
- هغه افغان مهاجرین چې بې اسناده دي او شمېر یې (۵۰۰) تنو ته رسي.

همدارنګه په خپله خوښه راستنېدو ته د هڅونې ریاست د معلوماتو له مخې په پاکستان کې(۲۵۰۲۴۲) زده کوونکي، (۷۳۴۱۲) تنه د دیني علومو زده کوونکي، (۱۳۳۰۰) زده کړیالان، (۲۰۱) تنه ښوونکي، (۶۴۱) تنه ماستران او (۳۸۰) تنه د دوکتورا سکالران ژوند کوي.

له دې سربېره (۸۰۲) دیني مدرسې او (۲۰۱) افغاني ښوونځي په ننبه شوي دي.

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت د هڅو په پایله کې په کوربه هېوادونو کې افغان مهاجرینو ته د کارموندنې د زمینې د برابرولو په برخه کې (۳۶۶۴) افغان مهاجرین ته په بېلابېلو برخو کې حرفوي زده کړې ورکول شي، چې له ډلې یې ( ۲۳۵) تنو ته د خیاطۍ، ( ۲۵۵) تنو ته د موټر جوړولو، (۱۹) تنو ته د ګلدوزۍ، ( ۲۶۵) تنو ته د کمپیوټر د سخت افزار په برخه کې، ( ۵۵۸) تنو ته د چرګانو د روزنې ، ( ۱۵۷) تنو ته د برق، ( ۲۱۰) تنو ته د نجارۍ، ( ۳۴۵) تنو ته د ولډینګ کارۍ، (۲۵۰) تنو ته د غالیو د اوبدلو او (۸۳۳) تنو ته په بېلابېلو برخو کې زده کړې ورکول شوي دي.

**د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته په پاکستان کې افغان مهاجرینو ته لاندې خدمات ترسره کړي دي.**

۱. د (۲۰۲۲) کال تر پای پورې د (POR) او (ACC) کارتونو د مودې غځېدنه.
۲. د ښوونې او روزنې په برخه کې د اسانتیاوو رامنځته کول.
۳. په ښارونو او کمپونو کې افغان مهاجرینو ته د نړیوالو مرستندویه بنسټونو د مرستو د اسانتیاوو رامنځته کول.
٤. د (ACC) کارت لرونکو د حقوقي څانګو ټاکل.
٥. په پاکستان کې د بې اسنادو مهاجرینو د ځورونې مخنیوی.
٦. د پاکستان د بېلابېلو زندانونو څخه د ( ۴۲۳) افغان مهاجرینو خوشې کېدل چې د هغه هېواد د پولیسو له لورې نیول شوي و.
۷. د پېښور په یتیم خانه کې د (۲۲) ماشومانو پېژندل او خپلو کورنیو ته یې سپارل.
۸. په ایران او پاکستان کې د ( ۱۵۵) میشتو افغان مهاجرین د ثبت او پچه اچونې وروسته بیت الله شریف ته د حج د فریضې د اداکولو په موخه لېږل.

## په ترکیې هېواد کې

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت په ترکیې کې افغان مهاجرینو ته د خدمتونو د وړاندې کولو په موخه په افغانستان کې د ترکیې له سفیر او د ترکیې هېواد ته د دغه وزارت د چارواکو د سفر په ترڅ کې له اړوندو چارواکو سره د خبرو په پایله کې د مهاجرینو د مدیریت، د راستنېدو پروسې، د غیر قانوني مهاجرت د مخنیوي د حل لارو په میکانیزم، همدارنګه د افغانستان او ترکیې د دوه اړخیزو خبرو اترو په پایله کې لاندې هوکړې شوې.

• په ترکیې کې د افغانستان سفارت له کنسلي څانګې سره د افغان مهاجرینو د ستونزو شریکول او ورته لومړیتوب ورکول.

• له هغه ځایه چې زیات شمېر افغان مهاجرینو د اقتصادي ستونزو له امله د ایران څخه د ترکیې ته داخلیږي او اروپايي هېوادونو ته تلونکي دي، د دوی د قانوني کېدو او جبري ویستلو د مخنیوي په خاطر دا غوره ده، چې د ترکیې هېواد سره د کار د لېږد په تړون کې په ترکیې کې د مهاجرو کارګرانو تنظیم ته لومړیتوب ورکړل شي، څرنګه چې په مسوده کې وړاندیز شوی.

په تېر مالي کال کې (۶۶۶) تنه افغان معلولین په کوربه هېوادونوکې پېژند شوي او ورسره مالي او روغتیایي مرستې شوي دي.

### ب: د راستنېدونکو په برخه کې تر سره شوي کړنې

د مهاجرینو په خپله خوښه راستنېدل هم د افغانستان اسلامي امارت له لومړیتوبونو څخه دي او هڅه کوي، چې له بېلابېلو هېوادونو څخه مهاجرین بېرته هېواد ته راستانه شي.

په خپله خوښه راستنېدو ته د هڅونې ریاست د معلوماتو له مخې د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته تر اوسه (۹۹۹,۰۱۵) تنه افغان مهاجرین هېواد ته راستانه شوي، چې له ډلې یې (۹۴۷,۷۷۹) تنه له ایران، (۳۶,۲۳۶) تنه له پاکستان او (۱۵۰۰۰) تنه له یوشمېر نورو هېوادونو څخه راستانه شوي دي.

د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته (۱۱۶,۸۶۸) راستنېدونکو سره د مهاجرینو چارو وزارت په همغږۍ او څارنې د یوشمېر نړیوالو بنسټونو له لوري مرستې ترسره شوي دي.

راستنېدونکو ته د کارموندنې د زمینې برابرول د مهاجرینو چارو وزارت یو له مهم فعالیتونو څخه دي، ترڅو مهاجرین په خپله خوښه راستنېدو ته وهڅول شي.

د راستنېدونکو کورنیو پر ځان بسایني او د بېوزلۍ له منځه وړلو په برخه کې د ملي او نړیوالو بنسټونو سره په ګډه همکارۍ هڅه کوي. هغه کار چې د وزارت د مهمو فعالیتونوڅخه بلل کېږي هغه د بشري مرستو دوبش ترڅنګ د بې کارۍ د مخنیوي، نشه یي توکو نه د ځوانانو مخنیوي او د غیر قانوني مهاجرتونو مخنیوی دی.

**راستنېدونکو ته د کار موندنې په برخه کې د وزارت مهم فعالیتونه په لاندې ډول دي.**

همدارنګه د راستنېدونکو د لومړنیو ستونزو په حل کې د بشري مرستو د وېش لړۍ اغېزمنه وه او د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته (۳۱۱۲۲) راستنېدونکې کورنۍ سروې شوي چې له ډلې یې (۳۸۸۰) کورنیو سره د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې شوي.

(۱۰۲) راستنېدونکي چې په جبري توګه له ایران، پاکستان، هندوستان او ترکیې څخه هېواد ته راستانه شوي وو، د مرستو د ترلاسه کولو په موخه د کابل ولایت د مهاجرینو چارو ریاست او یوشمېر همکارو مرستندویه موسسو ته ور پېژندل شوي دي.

### ج: له افغانستانه بهر د پناه اخیستونکو او پناه غوښتونکو په برخه کې ترسره شوې کړنې.

له افغانستانه بهر د (۴۸۹) پناه اخیستونکو او پناه غوښتونکو پېژندنه او ثبت، چې ټول لګښتونه لکه د ماشومان کرایه او د ښوونځي فیسونه یې د مهاجرینو چارو وزارت په همغږۍ او څارنې د (UNHCR) دفتر له لوري ور کول کېږي.

په وزارت کې د پناه غوښتنې د قانون د طرحې په اړه له اړونده ادارو سره د (۵) ناستو ترسره کول او د پناه غوښتنې د قانون د نهایي کولو په موخه د عدلې وزارت ته یې لېږل.

| عمده فعالیتونه | شمېر | ولایتونه |
|---|---|---|
| هغه راستنېدونکي چې دندې یې پیدا کړي. | ۶۲۹۷ | کابل، پکتیا، زابل، هلمند، سرپل، سمنګان، کاپیسا، لغمان، پروان، خوست، کندز، کندهار، بلخ، لوګر او ننګرهار. |
| هغه راستنېدونکي چې د ندوو د پیدا کولو په موخه معرفي شوي. | ۱۲۰۰ | میدان وردګ او باغیس |
| هغه راستنېدونکي چې د کورسونو څخه فارغ شوي. | ۳۱۲۰ | بلخ، کندز، کنرها، کاپیسا، غزني، سمنګان، جوزجان، لغمان، نیمروز، کندهار، ننګرهار اوتخار |
| هغه راستنېدونکي چې په زده کړو بوخت دي. | ۱۶۶۹ | میدان وردګ، لوګر، غور، سرپل، بادغیس، خوست، ننګرهار او |
| هغه راستنېدونکي چې فني او حرفوي زده کړو ته ور پېژندل شوي. | ۱۳۸۳۷ | لوګر، بادغیس، غور، بلخ، کونړ،کاپیسا، ننګرها، کندز، تخار، سرپل، پکتیا او پروان |
| ټولې شمېرې | | ۲۶۱۲۳ |

## د الکترونیکی حکومتوالۍ او معلوماتي ټکنالوژۍ په برخه کې د وزارت مهم فعالیتونه

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت د الکترونکي حکومتولۍ په برخه کې هم له نورو ملي او نړیوالو بنسټونو سره په موازي ډول عملي اقدام کړی او ددې کار د ښه پلي کېدو په موخه یې د معلوماتي ټیکنالوژۍ ریاست د کار د الکترونیکي کولو او د وزارت اداري چارې، د کمپیوټر او انټرنیټ په کارولو سره د معلوماتو پراختیایي سیستم جوړول، د معلوماتي ټیکنالوژۍ د زیربناوو جوړول، د راستنېدونکو او بېځایه شوو د ثبت او سروې لپاره معلوماتي سیستم یا ډیټاسنټر، د (ARIS) سیستم سره د ولایتي ریاستونو او آمریتونو نښلول او د راپورونود اسانتیاوو د برابرولو لپاره د دغه وزارت په تشکیلاتي چوکاټ کې د داخلي شبکو جوړول.

د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته د الکترونیکي حکومتولۍ او معلوماتي ټیکنالوژۍ په برخه کې د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت مهم فعالیتونه په لاندې ډول دي.

- د معلوماتي او مخابراتي ټیکنالوژۍ د وسایلو وېش او د هغه د کارولو او ساتنې لپاره د یوې کړنلارې ترتیب او تنظیم او د وزارت مقام د منظورۍ څخه وروسته ریاستونو او آمریتونو ته یې لېږل.
- په (۱۰/۱/ ۱۴۰۰) کال کې د وزارت او د (۳۴) ولایتي ریاستونو او آمریتونو لپاره د (MBPS-۱۲۲) انټرنیټ قرارداد د افغان ټیلکام شرکت سره، چې د (۱۴۰۱/۱۰/۱۰) نېټه به پای ته ورسي.
- د (۱۴۰۰) مالي کال د پلان له مخې د وزارت په (۵۱) بېلابېلو برخو کې د اړتیا وړ تجهزاتو سره د امنیتي کمرو نصبول.
- د دغه ریاست د وړاندیز او د مقام د حکم پر اساس د څارنې په موخه د فني او تخنیکي پرسونل له لورې د دوه اسکرینونو نصبول او د څارنې په موخه یې د دوه تنو امنیتي مسؤلینو توظیفول.
- سمنګان، بامیان او کاپیسا ولایتونو کې د اړتیا له مخې د انټرنیټي خدماتو د وړاندې کولو لپاره د (P۲P) (P۲P) تجهیزات د ګټونکي شرکت د بشپړېدو او تخنیکي ازموینې وروسته د وزارت ډیپوته داخل او د مالي او اداري ریاست له لارې یادو ریاستونو ته وېشل شوي دي.
- د ډیجټال تیلفونونو فعالول او همدارنګه د ملي، نړیوال او داخلي جدول مطابق دوزارت اړوند ریاستونو ته د داخلي شمېرو وېشل.
- د (UNHCR) دفتر د منظور شوې پروژې د پلان مطابق د ګډو تخنیکي ټیمونو په جوړښت کې د (PRC) کمېټې د جوړولو او د راستنېدونکو د ثبت او معلوماتو لپاره د (ARIS) سیستم د فعالولو په موخه پاتې ولایتونو ته ددې اداري د دوو کار کوونکو لېږل.



# د مسلکي کادرونو د راستنېدو په برخه کې د وزارت دمهمو فعاليتونو راپور

د مسلکي کادرونو آمريت د مسلکي افغانانو د همغږې کوونکي مسؤل په حيث لاندې فعاليتونه ترسره کړي دي:
د مسلکي کادرونو لپاره د يوې منظمې پالېسۍ چمتوکول او د هغوی سره همغږې کول.
دې ادارې په لومړۍ مرحله کې د افغان متخصصينو لپاره منظمه پالېسي جوړه او ترتيب کړې. د يادې پالېسۍ مسوده د ((شناسايي او تثبيت جمعيت د ياسپورا)) عمومي مديريت په همکارۍ (۶۰) سلنه ترتيب شوې، چې ترېشپړېدو وروسته به د پالېسۍ رياست او وزارت د رهبرۍ شورا له تائيد وروسته د رياست الوزارا محترم مقام ته د تائيد په موخه واستول شي، د يادې پالېسۍ پرمټ به د دغه آمريت کارونه په منظم او سيستماتيک ډول مخ ته ولاړ شي.

## د مسلکي کادرونو په اړه عامه ذهنيت جوړونه

د مسلکي کادرونو د راستنېدو آمريت د علمي کادرونو، متخصصينو او پانګوالو په جلب او جذب کې مهم رول لري. په همدې اساس، تېر جمهوري دولت د (۱۴۰۰) هجري شمسي کال په تشکيل کې د افغانانو د برخې اخيستنې لپاره د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت په تشکيل کې تاسيس شوه.
دا آمريت دنده لري چې له ګاونډيو هېوادونو، سيمې او ټولې نړۍ څخه ددغه هېوادونو پانګوال او مسلکي خلک جزب کړي.

## د افغان متخصصينو او سوداګرو سره د رابطې ګروپونه جوړول

دا چې تر اوسه د افغانستان اسلامي امارت سره د دولتونو همکاري تر دې بريده نه ده پياوړې شوې، چې ددې برنامې مشر او کارمندان افغان ميشته هېوادونو ته سفرونه وکړي او هلته له ميشت افغانانو سره له نېږدې غونډې تنظيم کړي، نو د بديل په توګه مو اړينه وبلله چې د کاري امورو د نه ځنډېدو په خاطر بايد د سوشيل ميډيا له لارې د واټساپ ګروپونه جوړ کړو، چې د دې ګروپونو په واسطه افغان مهاجر تشخيص، يوځای منسجم کړې، خو دوی خپلې ستونزې، فعاليتونه او وړانديزونه په مستقيم ډول د امارت له رهبرۍ سره شريک کړي.
يادې ادارې تر اوسه د وټس آپ ګروپ په جوړولو سره په سعودي عربستان، امريکا، استراليا، بلجم، قزاقستان، ايران، متحده عربي امارت، کاناډا، فرانسې، المان، پاکستان او ترکيې کې له افغان مهاجرو سره په اړيکه کې ده.
دا چې د دې برنامې يوه مهمه برخه په بهر کې د مېشتو مسلکي متخصصينو، کادري افغانانو، ملي تجارانو تشخيص او تثبيت، د هېواد په ابادی او پرمختګ کې د هغوی هڅونه او تشويق دی، نو په همدې اساس مو په پورته يادو هېوادونو کې د مېشتو افغانانو تشخيص تثبيت او هماهنګۍ پروسه روانه ده.
يو تن سعودي مېشته افغان دياسپورا حاجي الله نظر د محمد هاشم زوی، چې د ننګرهار ولايت شېرزادو ولسوالۍ اصلي اوسېدونکي دی، د دغه آمريت په هڅو د واټساپ ګروپ له لارې په سعودي عربستان کې پېژندل شوی او تر همغږۍ وروسته اماده شو چې خپل هېواد ته راستون او د سکرو دکان په استخراج کې سرمايه ګذاري وکړي، ياده موضوع په مکتوبي ډول د وزارت له اړوندو ارګانونو سره شريکه شوې.
د مسلکي کادرونو د راستنېدو آمريت لاندې پلانونه په لاره اچولي، خو د اسلامي امارت سره د نړۍ ناسم چلند او د اسلامي امارت د نه پېژندولو او متخصصو کاري پرسونل د کمبنت له امله دغه طرحه عملي نه شوه.

- د افغانستان اسلامي امارت سياسي موقف پياوړې کول او ملي ګټو ته وده ورکول.
- د نړۍ په ګوټ، ګوټ کې د افغاني دود، کلتور او عنعناتو ترويج.
- د افغانستان اسلامي امارت او دياسپورا تر منځ د معتبرو او ثبات لرونکو اړيکو رامنځ ته کول.
- د نورو ملي او نړيوالو ادارو سره په همغږې د دياسپورا ملي پاليسې پلي کول.
- د مستقيمي پانګې اچونې لپاره د اسانتياو برابرول.
- له پولي حوالو څخه اغيزمنه ګټه اخيستنه.
- د نړيوال ګرځندوي (سياحت) بېرته په پښو ودرونه.
- د افغاني دياسپورا د سپورتي ټولنو پياوړتيا.
- د خيريه مشارکت هڅونه.
- د مناسبتونو لمانځنه.

# د اطلاعاتو او عامه اړیکو آمریت مهم فعالیتونه

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت د فعالیتونو او لاسته راوړنو په اړه خلکو ته د معلوماتو ورکولو او ځواب ویلو اهمیت ته په پام سره د اطلاعاتو او عامه اړیکو آمریت لاندې فعالیتونه ترسره کړي دي.

- په دري او پښتو ژبه د وزارت د مرکزي او ولایتي ریاستونو او آمریتونو د چارواکو او مسؤلینو د مهمو فعالیتونو په اړه د (۱۳۳۶) خبرونو جوړول او د ټولنیزو پاڼو له لارې د هغه خپرول.
- د وزارت اړوند موضوعاتو په اړه د رسنیو سره د (۲۰۰) غږیزو او ویډیوي مرکو ترسره کول.
- د وزارت اړوند مهمو مسایلو د مطرح کولو په موخه د وزارت د چارواکو او مسؤلینو په ګډون د (۱۱) مطبوعاتي کنفرانسونو ترسره کول.
- د وزارت او افغان مهاجرینو په اړه د مهمو موضوعاتو د خبرتیا په موخه د (۱۱) مطبوعاتي اعلامیو چمتو کول او خپرول.
- په شانداره مراسمو کې د مهاجرت، او مهاجر د نړیوالو ورځو لمانځل.
- د تلیفون، وټس آپ او مسنجر له لارې (۷۰۰) کسانو ته د معلوماتو ورکول.
- د وټس آپ ګروپ له لارې د ولایتي ریاستونو او آمریتونو څخه د (۱۰۴۹) خبرونو او په حضوري توګه د (۱۵۰) مرکزي خبرونو ترلاسه کول.
- په هغه ولایتونوکې چې زیات شمېر راستنېدونکي لري د (۶۰) ویډیو کلیپونو جوړول او خپرول.
- په دري او پښتو ژبه د (۱۳۲) خبري بلوتن جوړول او د مرکزي او ولایتي ریاستونو او آمریتو مسؤلینو ته یې لېږل.



## په تېر یوه کال کې په پروان ولایت کې اړمنوکورنیو ته د خدماتو وړاندې کول

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت د هېواد په ټولو ولایتونوکې د اخلي بېځایه شوو، راستنېدونکو او اړمنو کورنیو ته د خپلو ولایتي ریاستونو او آمریتونو له لارې خدمات وړاندې کوي. په پروان ولایت کې د مهاجرینو چارو وزارت له لورې د دغه ولایت د مهاجرینو چارو ریاست له لارې د نړیوالو همکارو مرستندویه بنسټونو په همکارۍ تر ټولو مهم خدمتونه په لاندې ډول دي.

د پروان ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو ریاست د راپور له مخې د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته ( ۱۷۲۲) کورنۍ د پروان ولایت د بېلابېلو ولسوالیو څخه بېځایه شوي او دغه ریاست د مرستو د تر لاسه کولو په موخه ثبت او راجستر کړي، چې له ډلې یې ( ۱۵۰۰) کورنۍ بېرته خپلو اصلي سیموته ستنې شوي او یوشمېر کورنۍ تر اوسه په چاریکار ښارکې ژوند کوي.

همدارنګه ( ۲۰۱۲) کورنۍ چې د بېلابېلو هېوادونو څخه پروان ولایت ته راستنې شوي، د مرستو په موخه ثبت او راجستر شوي.

یاده اداره د نړیوالو مرستندویه بنسټونو په همکارۍ په دغه ولایت کې د راستنېدونکو او دا خلي بېځایه شوو د دوامداره بیابوځای کېدو، بنسټیزو خدماتو د وړاندې کولو او بشري مرستو په برخه کې لاسته را وړنې لري، چې په لاندې ډول یې یادونه کوو.

- د بګرام ولسوالۍ د قلعه نصرو د مهاجرینو ښارګوټي کې ( ۳۰۰) مستحقو کورنیو ته د لمریزې بریښنا تختې د ولایتي چارواکو، استخباراتو او د ولسوالیو د استازو د ګډ پلاوي تر څارنې لاندې وېشل شوي.
- د همدې ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په همغږۍ (۴۰۰) کورنیو ته د نړیوالو مرستندویه بنسټونو له لورې د خوراکي کڅوړو وېشل.
- ( ۴۹) تنه راستنېدونکي د زده کړو د دوام په موخه د پوهنې وزارت ته ور پېژندل شوي.
- د پروان ولایت د مهاجرینو چارو ریاست له لورې د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې په ګډې همکارۍ (۱۰۸) ځایي اوسېدونکي، را ستنېدونکي، داخلي بېځایه شوې او اړمنې کورنۍ د (PSN) پروژې له لارې سروې او په نښه شوي، چې هرې کورنۍ ته د اړتیا په نظر کې نیولو وروسته د ( ۱۵۰۰۰) څخه تر ( ۲۴۰۰۰) افغانیو پورې وېشل شوي.
- د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته د پروان ولایت په بېلابېلو ولسوالي، کې له ( ۷۹۹۱) راستنېدونکو، داخلي بېځایه شوو او اړمنو کورنیو سره د نړیوالو مرستندویه بنسټونو په همکارۍ د نغدي، خوراکي توکو، روغتیایي کڅوړو، ګرمو جامو او د پخلنځي د وسایلو



## په جوزجان ولایت کې اړمنو ته د مهاجرینو چارو وزارت له لورې د خدماتو وړاندې کول

د اسلامي امارت له بروبا وروسته د جوزجان ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو ریاست له لورې له پاکستان څخه په خپله خوښه راستنې شوې (۵۰) کورنۍ او له ایران څخه ( ۱۴۵۱) تنه ډیپورت شوي مهاجر چې دغه ولایت ته راستانه شوي و د مرستو د تر لاسه کولو په موخه ثبت او راجتسر شوي.

دغه ریاست د نړیوالو موسسو په همکارۍ د دغه ولایت له بېلابېلو ولسوالیو او یوشمېر ولایتونو ( ۱۰۵۵) بېځایه شوو کورنیو ته نغدي، خوراکي توکي، روغتیایي کڅوړې او د پخلنځي وسایل وېشلي دي.

سربېره پردې د جوزجان ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې سره په ګډې همکارۍ (۳۷) کورنۍ د (PSN) پروژې له لارې سروې او په نښه شوي، چې هرې کورنۍ سره د اړتیا په نظر کې نیولو وروسته نغدي مرستې شوي.



همدارنګه (۷۶۸) کورنۍ بېرته خپلو اصلي سیموته ستنې شوي او د جوزجان ولایت په بېلابېلو ولسوالیوکې ځای پرځای شوي.

یادې کورنۍ د جوزجان ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په هڅو او همکارۍ د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري له لوري سروې او په نښه شوي، چې له ډلې (۳۱۳) کورنیو ته شپږ لرونکې وزې، (۳۰۰) کورنیو ته شپږ لرونکې غواګانې او (۱۵۰۰) کورنیوته چرګانې وېشل شوي.

## د اسلامي امارت له بریا وروسته د کاپیسا ولایت د مهاجرینو چارو آمریت د فعالیتونو راپور

د اسلامي امارت له بریا وروسته د کاپیسا ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو آمریت له لوري (۲۸۴) کورنۍ او (۷۵۷) تنه مجردین چې له کوربه هېوادونو څخه هېواد ته راستانه شوي او په دغه ولایت کې مېشت شوي د نوې ځای پرځای کېدنې او بشري مرستو د وېش په موخه ثبت او راجستر شوي.

همدارنګه (۳۴۸۱) داخلي بې‌ځایه شوې کورنۍ چې د نا امنو ولایتونو څخه دغه ولایت ته راغلي او (۳۰۰۰) مستحقې کورنۍ چې د سروې په جریان کې د مرستو لپاره په نښه شوې وې د مهاجرینو چارو آمریت کې د مرستو د ترلاسه کولو په موخه ثبت او راجستر شوي دي.

یادې اداري د نړیوالو مرستندویه بنسټونو په همکارۍ په دغه ولایت کې (۴۶۸۹) راستنېدونکو، داخلي بې‌ځایه شوو او اړمنو کورنیو ته د خوراکي او غیر خوراکي توکو کڅوړې وېشلې.

همدارنګه د یادو کورنیو له ډلې (۲۷۰۰) کورنیو ته د مهاجرینو چارو وزارت له لوري یوه یوه بوجۍ وریجې چې د چین هېواد له لوري مرسته شوې وه وېشل شوي.

سربېره پردې د کاپیسا ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري (UNHCR) سره په ګډې همکارۍ (۱۵۰) کورنۍ د (PSN) پروژې له لارې سروې او په نښه شوي، چې هرې کورنۍ سره د اړتیا په نظر کې نیولو وروسته (۱۵۰۰۰) څخه تر (۲۶۰۰۰) افغانیو پورې نغدي مرستې شوي.

د بې‌ځایه شوو او راستنېدونکو لپاره د سرپناه او ویجاړ شوو کورونو د ترمیم په برخه کې د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت له لوري د مرستندویه بنسټونو سره په همکارۍ (۱۶۷) کورونه جوړ او ترمیم شوي دي.

همدارنګه د کاپیسا ولایت په نجراب ولسوالۍ کې (۴۶۲) نورو کورنیوته د کور جوړولو او ویجاړ شوو کورنیو د ترمیم په موخه د سروې چارې روانې دي چې له پېژندنې وروسته به په مستحقو کورنیو ووېشل شي.

د کاپیسا ولایت د مهاجرینو چارو آمریت راستنېدونکوته د کور جوړولو لپاره درې ښارګوټي په پام کې نیولي چې د املاکو اسناد یې مخکې طی مراحل شوي او د شته ستونزو له امله مستحقینو ته د نمرو د وېش لړۍ دربېدلې وه، چې په دې وروستیو کې د مهاجرینو چارو وزارت پلاوی چې د کاپیسا ولایت د مهاجرینو ښارګوټي د تخنیکي ستونزو د ارزونې په موخه دغه ولایت راغلي و و د ځمکو د وېش د کمېسیون د فعالولو په برخه کې یې ددې آمریت مسؤلینو ته ډاډ ورکړی.

دراستنېدونکو د حقوقي ملاتړ په برخه کې (۸) تنه راستانه شوي ماشومان د زده کړو د دوام په موخه د کاپیسا ولایت د پوهنې ریاست ته ور وپېژند شوي او (۳۰) تنه راستنېدونکي او بې‌ځایه شوي د موبایل جوړولو د حرفوي او فني زده کړو له کورس څخه چې د (ACRO) موسسې له لوري په لاره اچول شوی و فارغ شوي دي.



## د سمنګان ولایت د مهاجرینو چارو آمریت د فعالیتونو راپور

د سمنګان ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو آمریت د راپور له مخې د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته(۵۴۱۳)راستنېدونکي، بېځایه‌شوې‌او اړمنې کورنۍ، چې د سمنګان ولایت د مهاجرینو چارو آمریت په همکارۍ او همغږۍ د یوشمېر مرستندویه بنسټونو له لورې سروې او د مرستو لپاره مستحقې په نښه شوې وې هرې کورنۍ ته نغدي، خوراکي توکي، روغتیایي کڅوړې، کمپلې، ګرمې جامې او د پخلنځي وسایل وېشل شوي دي.

سربېره پردې سمنګان ولایت د مهاجرینو چارو آمریت د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې سره په ګډې همکارۍ (۳۵۸) کورنۍ د (PSN) پروژې له لارې سروې او په نښه شوې، چې هرې کورنۍ سره د یادې ادارې له لورې نغدي مرسته شوې.
دغه راز د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې د املې، حضرت سلطان او کار نیمان کلیو کې د څښاک د پاکو اوبو د ژورو څاګانو په کېندلو او ترمیمولو سره د یادو کلیو (۴۰۰) کورنیو ته د څښاک د اوبو ستونزه حل کړې. دا څاګانې (۱۲۰) متره ژور والی لري او د لمریزې برېښنا (سولر پمپ) پواسطه ترې اوبه را وځي او ذکر شوې کورنۍ ترې استفاده کوي.
همدارنګه د یادې ادارې په مالي مرسته (۳۲۰) مبرزونه د حضرت سلطان، املې او جو پلال روپې دواب کلې کې جوړ شوي دي.
د سمنګان ولایت د مهاجرینو چارو آمریت د بیا یوځای کېدو



په برخه کې (۴۴۹) تنو سره چې له ایران، (۵۸۰) تنه له ترکیې څخه ډیپورټ شوي، (۹۲) تنه له ایران، پاکستان او ترکیې څخه په خپله خوښه راستانه شوي، (۱۳) تنه د مرستو په موخه ثبت شوي او (۱۰۰) راستنېدونکي ځوانان ته د پاکارۍ په پروژه کې چې (۱۷۱) کیلومتره اوږدوالی لري په ایبک ښارګوټي او د حضرت سلطان او فیروز نخچیر ولسوالۍ کې د (۴۲) کاري ورځو لپاره نیول شوي چې هره ورځ ورته (۵۰۰) افغانۍ ورکول کېږي همکاري کړې.
د سمنګان ولایت د مهاجرینو چارو آمریت د ملګرو متلونو د کډوالو ادارې په همکارۍ د کار موندې په برخه کې (۵۱۳) تنو ته د کار په بدل کې د پیسو د ورکړې او (۴۱۰) کورنیو ته د نانوایي، مالدارۍ او چرګرانو د روزنې زمینه برابره کړې چې له ډلې یې (۲۷۵) تنه ښځې دي.

## د بغلان ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د کړنو او فعالیتونو راپور

د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته د بغلان ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو آمریت له لورې (۴۳۳۱۴) بېځایه شوې او اړمنو کورنۍ د مرستو په موخه ثبت او راجستر شوي او (۵۷۳۱) راستنېدونکو، بېځایه شووا و د طبیعي پېښو له امله زیانمنو شوو کورنیو سره د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې شوي.
همدارنګه بغلان ولایت د مهاجرینو چارو آمریت د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې سره په ګډې همکارۍ (۱۵۶) کورنۍ د (PSN) پروژې له لارې سروې او په نښه شوي، چې هرې کورنۍ سره د یادې ادارې له لورې د (۵۰) څخه تر (۲۷۰) امریکایي ډالرو پورې نغدي مرسته شوې او (۴۱۱) کورنۍ چې د کابل ولایت څخه بېرته خپلو اصلي سیموته ستنې شوي او (۲۶) نورې کورنۍ چې خپل اصلي ولایت بدخشان ته لېږل شوي د مرستو په موخه د (UNHCR) دفتر ته ور پېژند شوي دي.
د مهاجرینو چارو ریاست، (ORD، ORCD) دفتر او کلیو پراختیا ریاست د سروې د ګډ ټیم له لورې د بغلان ولایت د مهاجرینو په ښارګوټکي بېلابېلې سیمو د ژورو څا ګانو د کېندلو لپاره په نښه شوي وې، چې تر اوسه یې د (۲۸) څاګانو کېندل تثبیت شوي.




دغه راز د سروې د ګډ ټیم له لورې د بغلان ولایت په مرکز او ولسوالیوکې د بېلابېلو سیمو د اړتیاوو ارزونه ترسره کړې چې د بېځایه شوو، راستنېدونکو او اړمنو کورنیو عمده او بنسټیزې ستونزې، تخنیکي او مسلکي زده کړو، روغتیا، اوبو، سرپناه، ښوونه او روزنه او د خوراکي او غیر خوراکي توکو اړتیاوې په ګوته شوې او د سروې پایلې یې د (UNHCR) دفتر سره شریکې شوې دي.

(۳۹۶۱) راستنېدونکي او ډیپورټ شوي چې له ایران، پاکستان، ترکیې او یوشمېر اروپایي هېوادونو څخه بغلان ولایت ته راستانه شوي و د مهاجرینو چارو ریاست په ډیټابیس کې ثبت او راجستر شوي او (۵۶۰) راستنېدونکې کورنۍ د سروې او اړتیاوو ارزونې وروسته د مرستو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان (IOM) ته ور پېژندل شوي، چې له ډلې یې (۴۰۹) کورنیو هرې کورنۍ ته (۱۰۵) امریکایي ډالره نغدي وېشل شوي دي.

د سرپناه او کور جوړولو په برخه کې (۵۲) کورنیو سره د اړتیاوو په نظر کې نیولو وروسته د کور جوړولو په برخه کې مرسته شوې او (۴۰۰) نورې کورنۍ د سرپناه او کور جوړولو لپاره سروې او په نښه شوې، چې په نږدې راتلونکي کې به ورسره د سرپناه د جوړولو په موخه مرستې ترسره شي.

د حقوقي ملاتړ په برخه کې (۴۰) تنه راستنېدونکي چې په توبرکلوز ناروغۍ اخته و، د درملنې په موخه د مهاجرینو چارو ریاست له لورې د بغلان ولایت د روغتیایي ریاست ته ور پېژندل شوي.

د اسلامي امارت له بریا وروسته د بغلان ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د مرستو د جلب په موخه د (۳۸) موسسو او مرستندویه بنسټونو سره ناستې ترسره کړې.

## د بادغیس ولایت د مهاجرینو چارو آمریت د فعالیتونو راپور

د بادغیس ولایت د مهاجرینو چارو آمریت ته د مرستو په موخه (۱۲۳۰۰) راستنېدونکو، بېځایه شوو او اړمنو کورنیو، عریضې سپارل شوي، چې پکې اړمنې او مستحقې کورنۍ سروې او د مرستو لپاره مستحقې په نښه شوي چې په نږدې راتلونکي کې به ورسره بشري مرستې ترسره شي.

همدارنګه (۴۰۰۰) کورنۍ د وچکالۍ له مله د بېلابېلو ولسوالیوڅخه د قلعه نو ښار ته کډه شوي، چې په قلعه نو ښار کې د ټولو بېځایه شوو کورنیو شمېر (۱۶۳۰۰) ته رسي.

دغه آمریت د همکارو مرستندویه بنسټونو سره په ګډې همکارۍ او همغږۍ (۱۷۵۵۹) بېځایه شوې او اړمنو کورنیو سره په بېلابېلو ولسوالیوکې بشري مرستې ترسره کړې، چې لنډیز یې په لاندې ډول دی:

د خوراک نړیوال سازمان (۴۵۳۷) کورنیوسره د خوراکي توکو، (۵۱۰) کورنیو سره نغدي، (۸۰۰) داخلي بېځایه شوو کورنیو سره د مهاجرینو چارو وزارت د پراختیایي بودیجې نه (۱۵۰۰۰) افغانۍ، د مهاجرت نړیوال سازمان (IOM) له لورې (۳۷۰۰)کورنیو سره نغدي، کمپلې، ژمنۍ بسترې، د اکتېد موسسې له لورې (۲۰۶۸) کورنیو سره نغدي او د (WORLD VISION) موسسې له لورې (۲۴۷۰) کورنیو سره د خوراکي توکو مرستې شوې.

همدارنګه د (ARAA) موسسې له لورې (۱۶۷۳) کورنیوسره نغدي او د خوراکي توکو، د (WAR CHILD) موسسې (۳۶۵) کورنیوسره د خوراکي توکو، د پخلنځي وسایلو، ژمنۍ بسترې، کمپلو او (۶۳۷) کورنیوسره د (UNHCR) دفتر له لورې د (PSN) برنامې له لارې (۶۳۷) کورنیوسره له (۱۰۰) څخه تر (۲۹۰) امریکایي ډالرو پورې او د (NRC) موسسې له لورې (۸۰۰) کورنیو سره چې د وچکالۍ له امله زیانمنې شوې وې د غیر خوراکي توکو، خېمو، کمپلو او ترپالونو مرستې شوې.

د سرپنا او کور جوړولو په برخه کې د اکتېد موسسې له لورې د بادغیس ولایت په بېلابېلو سیموکې (۱۰۰) کورنیو ته یویو شلتېر جوړ شوی.

همدارنګه (۱۷۹۵) تنه مجرد راستنېدونکي چې له ایران څخه په جبري توګه راستانه شوي د بادغیس ولایت د مهاجرینو چارو آمریت په ډیټابیس کې ثبت او راجستر شوي.

## د سرپل ولایت د مهاجرینو چارو آمریت د فعالیتونو راپور

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت د ملي او نړیوالو مرستندویه بنسټونو په همکارۍ د دغه ولایت د مهاجرینو چارو آمریت له لارې اړمنو، راستنېدونکو او داخلي بېځایه شو سره مرستې تر سره کړي.

د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته چې کوم، مهم فعالیتونو د سرپل ولایت د مهاجرینو چارو آمریت له لورې ترسره شوي دي په لاندې ډول دي:

(۱۰۷۲۶) بېځایه شوو او اړمنو کورنیو سره د سرپل ولایت په بېلابېلو سیمو کې د یوشمېر نړیوالو مرستندویه بنسټونو له لورې مرستې تر سره شوې دي.

یادې مرستې د سرپل ولایت د مهاجرینو چارو آمریت په همغږۍ ترسره شوي دي، چې پکې خوراکي او غیر خوراکي توکي، نغدي پیسې، د کور وسایل، روغتیایي کڅوړې او د پخلنځي وسایل شامل و، چې د (UNHCR) دفتر، خوراک نړیوال سازمان (WFP)، مهاجرت نړیوال سازمان (UNICEF)، (IOM) اکتېد، (HHRD) موسسې او همدارنګه (۱۰۳) کورنیو سره د (P.S.N) برنامې له لارې مرستې ترسره شوي دي.

همدارنګه (۴۴۰) کورنیو ته د مهاجرینو چارو وزارت له لورې وریجې، جمپرونه او کمپلې وېشل شوې دي، چې د چین هېواد له لورې د مهاجرینو چارو وزارت ته سپارل شوې وې.

(۷۰۰) ډیپورت شوې کورنۍ چې د سرپل ولایت د مهاجرینو چارو آمریت ته یې مراجعه کړې وه، د اړتیاوو ارزونې وروسته د مرستو د ترلاسه کولو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان (IOM) ته ور وپېژند شول،چې د یادې ادارې له لورې هرې کورنۍ ته (۱۷۵۰۰) افغانۍ نغدې، پېنځه کمپلې او یوه یوه ژمنۍ البسه ووېشل شوه.

د بېځایه شوو سره د سرپناه او کور جوړولو په برخه کې د (NRC) له لورې (۲۱۰) کورنیو سره چې کورونه یې د جګړو او طبیعي پېښو له امله وران شوي او یا هم زیانمن شوي و مرستې شوي.



د سرپل ولایت د مهاجرینو چارو آمریت د راپور له مخې په یوې برنامې کې (۶۰) کورنۍ د مرستو د پوښښ لاندې نیول شوې وې، چې هرې کورنۍ ته د کور جوړولو په موخه (۷۷۶۰۰) افغانۍ وېشل شوي او د یوې بلې برنامې له لارې (۱۵۰) نورو سره د سرپناه د جوړولو په برخه کې د (۱۵) زرو څخه تر (۳۰) زروافغانیو پورې نغدي مرستې شوي.

سربېره پردې د سرپناه د جوړولو په موخه د (UNHCR) دفتر له لورې په بېلابېلو سیموکې د مهاجرینو چارو آمریت په همکارۍ د (۴۲) کورنیو سروې دوام لري، چې له تثبیت وروسته ورسره مرستې ترسره شي.

د کار موندنې په برخه کې د (UNHCR) دفتر له لورې د یاد آمریت په همغږۍ (۱۰۲۵) کورنیو سره په صیاد ، قلعه سوزمه او سنګچارک ولسوالیو کې مرستې شوې، چې له ډلې یې (۹۲۵) کورنیو هرې کورنۍ ته (۳۰) هګۍ لرونکې چرګانې او (۱۰۰) کورنیو هرې کورنۍ ته یوه یوه شېدې لرونکې وزه وېشل شوې ده.

همدارنګه د څښاک د پاکو اوبو د برابرولو په موخه د (UNHCR) دفتر په مرسته د صیاد ولسوالۍ په انګشکه عربیه، انګشکه افغانیه او ترکچین سیموکې (۳۰) څاه ګانې کیندل شوي او کتې اخیستنې ته سپارل شوي دي.

## د بدخشان ولایت د مهاجرینو چارو آمریت د فعالیتونو راپور

د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت د بدخشان ولایت د مهاجرینو چارو آمریت له اړمنو کورنیو سره مرستې ترسره کړي.

یادو کورنیو سره د سرپناه، کور جوړولو، کار موندنې او بشري مرستو په برخه کې د دغه ولایت د مهاجرینو چارو آمریت په همکارۍ د یوشمېر ملي او نړیوالو مرستندویه بنسټونو له لورې مرستې ترسره شوي،چې مهم یې په لاندې ډول دي.

د بدخشان ولایت د مهاجرینو چارو آمریت د راپور له مخې په یاده موده کې (۹۸۷۵) راستنېدونکو، داخلي بېځایه شوو او د سېلابونو او طبیعي پېښو له امله زیانمنو شوو کورنیو سره د فیض آباد ښار او بېلابېلو ولسوالیوکې مرستې ترسره شوي دي چې پکې نغدي پیسې، خوراکي توکي، ګرم ژمني لباسونه، روغتیایي کڅوړې، خېمې، ترپالونه او د پخلنځي وسایل شامل ول، چې پر اړمنو او مستحقو کورنیو وېشل شوي دي.



یادې مرستې د بدخشان ولایت د مهاجرینو چارو آمریت په همغږۍ د (UNHCR) دفتر، د خوراک نړیوال سازمان (WFP)، د مهاجرت نړیوال سازمان او (CONCERN)، (IOM) ډاکار او اکتېد موسسې له لورې وېشل شوي دي.

سربېره پردې (۲۰۰۰) کمپلې، او (۱۰۰۰) جمپرونه چې د چین هېواد له لورې د مهاجرینو چارو وزارت ته سپارل شوي، د مهاجرینو چارو وزارت د مهاجرینو چارو د وزیر په شتون کې د دغه ولایت په (۲۷) ولسوالیو او مرکز فیض آباد ښار کې په اړمنو مستحقو کورنیو وېشل شوي دي.

همدارنګه د بدخشان ولایت د مهاجرینو چارو آمریت د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې سره په ګډې همکارۍ (۷۸) کورنۍ د (PSN) پروژې له لارې سروې او په نښه شوي، چې هرې کورنۍ ته د یادې ادارې له لورې (۱۴۰) امریکایي ډالره نغدي مرسته شوې.

د حقوقي ملاتړ په برخه کې (۱۹) کورنۍ چې د کابل ښار څخه بېرته خپلو اصلي سیموته لېږل شوي هرې کورنۍ ته (۴۰۰) امریکایي ډالره نغدې وېشل شوي.

د سرپناه او کور جوړلو په برخه کې (۱۵۲۳) اړمنو کورنیو سره، چې کورونه یې د جګړو، سېلابونو او طبیعي پېښو له امله زیانمن شوي و نغدي مرستې شوي.

راستنېدونکو او داخلي بېځایه شوو سره د کار موندنې په برخه کې د مهاجرینوچارو وزارت د (UNHCR) دفتر سره په ګډې همکارۍ د حرفوي زده کړو لپاره ښونیز کورسونه جوړ شوي، چې وروسته له فراغته ورته کاري وسایل وېشل شوي دي.

د بدخشان ولایت د مهاجرینوچارو آمریت د راپور له مخې په دغه ولایت کې (۶۰) تنه د حرفوي زده کړو له مرکز څخه فارغ شوي، چې له ډلې یې (۱۰) تنه د کمپیوټر، موبایل جوړولو او (۵۰) تنو ته د نانوایي وسایل وېشل شوي دي.

# د کندز ولایت د مهاجرینوچارو ریاست د فعالیتونو راپور

د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته په ټولو ولایتونوکې د مرستو د وېش لړۍ دوام لري، چې کندز ولایت هم له دې څخه مستثنا نه دی او د کندز ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو ریاست د یوشمېر ملي او نړیوالو مرستندویه بنسټونو سره په ګډې همکارۍ اړمنو کورنیوته د خدماتو د وړاندې کولو په برخه کې فعالیتونه ترسره کړي.

د کندز ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د یوشمېر ملي او نړیوالو مرستندویه بنسټونوسره په ګډې همکارۍ (۱۰۵۲۵) راستنېدونکو، داخلي بېځایه شوو، اړمنو او د طبیعي پېښو له امله زیانمنو شوو کورنیوسره مرستې ترسره شوي دي، چې پکې نغدې پیسې، خوراکي او غیر خوراکي توکي، د کور وسایل، روغتیایي کڅوړې، ګرمه ژمنۍ بستره او د پخلنځي وسایل شامل ول.

یادې مرستې د (UNHCR) دفتر، د مهاجرت نړیوال سازمان (IOM) (ECHO)، چین هېواد، (OCHR)، (NRC)، ډاکاراو اکتېد موسسې له لورې د کندز ولایت د مهاجرینو چارو ریاست تر څارنې لاندې وېشل شوي دي.

اړمنو کورنیو ته د سرپناه او استوګنې د برابرولو په برخه کې (۷۸۰) کورنۍ تر پوښښ لاندې نیول شوي او د ویجاړو شوو کورونو د جوړولو او بیا رغونې په برخه کې (۵۷۰) کورنیو سره د ملګرو متلونو د کډوالو ادارې (UNHCR) له خوا او (۲۱۰) کورنیو ته د (NRC) موسسې له لورې نغدي مرستې شوي دي.

د کندز ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په همغږۍ د (UNHCR) دفتر په مالي مرسته له (۵۹۲) بېځایه شوو، راستنېدونکو او اړمنو کورنیو سره د (PSN) برنامې له لارې نغدي مرستې شوي، چې هرې کورنۍ ته (۴۲۰) امریکایي ډالره وېشل شوي.

همدارنګه د (NRC) موسسې له لورې (۱۲) کورنیو سره، چې پکې کونډې میرمنې، بې سرپرسته ماشومان، مشران، بېړنې ناروغان، په جبري توګه راستنېدونکي معلول کسان شامل دي مرستې شوې، چې هرې کورنۍ ته (۳۰۰) امریکایي ډالره نغدې وېشل شوي دي.

د کندز ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د دشت ارچي ولسوالۍ د نسوان عالي لېسې د (۲۰) درسي خونو د احاطې د دېوال او (۵) عصري تشنابونه د ترمیم پرانیسته کړې. د یادې پروژې مالي لګښت (۵۵۰۰۰۰۰) افغانۍ دی، چې د (UNHCR) دفتر له لورې ورکول کېږي.



همدارنګه راستنېدونکو او بېځایه شوو ته د پراختیايي خدماتو په برخه کې د (UNHCR) دفتر له لوري د دشتي ارچي ولسوالۍ (۶۱۴) کورنیو ته د لمریزې برېښنا دوه دوه تختې سره د وسایلو وېشل شوي.

د حقوقي ملاتړ په برخه کې د کندز ولایت د مهاجرینو چارو ریاست (۱۹۰) راستنېدونکي د زده کړو د دوام په موخه د دغه ولایت د پوهنې ریاست ته ور پېژندل شوي او (۴۰۷۳) راستنېدونکې کورنۍ د راستنېدونکو په معلوماتي سیستم کې ثبت شوي دي.

## د غزني ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د فعالیتونو راپور

د غزني ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د یوشمېر ملي او نړیوالو مرستندویه بنستونو سره په ګډې همکارۍ د اړمنو کورنیو ستونزو ته رسیدګي کوي.

د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته ددې اداري فعالیتونه پر اړمنو کورنیو د مرستو وېش، د راستنېدونکو د دواطلبانه راستنېدو، د کورنیو د اقتصادي وضعیت د ښه والي په موخه د کوچني کاروبار په برخه کې ملاتړ او اړمنو کورنیو ته د سرپناه برابرول دي.

د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته د غزني ولایت د مهاجرینو چارو ریاست مهم فعالیتونه په لاندې ډول دي.

د غزني ولایت په مرکز او بېلابېلو ولسوالیو کې (۲۳۰۷) راستنېدونکي، داخلي بېځایه شوي او اړمنې کورنۍ د نړیوالو مرستندویه ادارو له لوري د بشري مرستو تر پوښښ لاندې راغلي.

د یادو مرستو د وېش په لړ کې د ډنمارک د کډوالو اداري (DRC) له لوري (۷۷۴) کورنیو هرې کورنۍ ته (۲۸) زره افغانۍ نغدې وېشل شوي دي او نورو کورنیو سره د (UNHCR) دفتر او (CAHPO) موسسې له لوري هرې کورنۍ ته د اړتیاوو په نظر کې نیولو وروسته نغدې پیسې، غیرخوراکي توکي چې پکې کمپلې، پتوان او د ښځینو لپاره ګرمې جامې شاملې وې وېشل شوي دي.

سربېره پردې د غزني ولایت په بېلابېلو سیموکې (۱۹۱۳) کورنیو سره د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت له لوري بشري مرستې ترسره شوي، چې پکې یوه بوجۍ وریجې او یوه بوجۍ غنم شامل ول وېشل شوي دي.

یاده مرسته د چین هېواد له لوري د مهاجرینو چارو وزارت ته سپارل شوې وه، چې د مهاجرینواو راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر په شتون کې په اړمنو او مستحقو کورنیو وېشل شوې ده.

همدارنګه (۱۷۱) کورنیو سره د (UNHCR) دفتر او ډنمارک د کډوالو اداري له لوري نغدی مرستې ترسره شوي دي.

د حقوقي ملاتړ په برخه کې د غزني ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د (UNHCR) دفتر په همکارۍ (۳۰۱) داخلي بېځایه شوي او په خپله خوښه راستنېدونکو کورنیو هرې کورنۍ ته د اړتیاوو په نظر کې نیولو وروسته (۲۰۰) او (۷۰۰) امریکایي ډالره نغدي مرسته شوې.

د حرفوي زده کړو په برخه کې د غزني ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د نړیوالو همکارو ادارو په مرسته (۱۸۰) راستنېدونکو او داخلي بېځایه شوو ته په بېلابېلو برخو کې په یو ښوونیز مرکز کې چې د (AREP) دفتر په مالي مرسته د یونیسف موسسې له لوري جوړ شوی و حرفوي زده کړې ورکول شوي، چې له ډلې یې (۱۰۰) تنه ښځینه د شپږو میاشتو زده کړو وروسته د لمریزې برېښنا د تختو د ترمیم او خیاطۍ څخه فارغې شوې.

همدارنګه (۵۰) نورې میرمنې د خیاطۍ د روزنیز کورس څخه چې په غزني ښارکې د پاملرنې موسسې له لوري پلي شوی و فارغې شوې او د کار د پیل په موخه یې ورته (۵۰۰۰) افغانۍ نغدې او د خیاطۍ وسایل وېشل شوي دي.

سربېره پردې (۳۰) نورې راستنېدونکې او داخلي بېځایه شوې میرمنې د البیروني د مهاجرینو ښارګوټي کې د خیاطۍ د زده کړو په برخه کې روزنه ورکول کېږي. یاد مرکز د (UNHCR) دفتر په مالي مرسته رامنځ ته شوی، چې له فراغت وروسته ورته د کار وسایل وېشل کېږي.

د کار موندنې په برخه کې (۲۲۲) راستنېدونکو او بېځایه شوو ته د (DRC) او پاملرنې موسسې له لوري اساتیاوې رامنځته شوې او د کار په بدل کې ورته پیسې ورکول کېږي.



د سرپناه جوړولو په برخه کې له (۲۵۰) زیانمنو شوو کورنیو سره چې کورونه یې د سېلابونو او تېرو جګړو له امله ویجاړ شوي و د (UNHCR) دفتر له لوري مرستې شوې او د موقتي سرپناه لپاره ورته یو کمپ جوړ شوی، چې ګڼ شمېر کورنۍ پکې مېشت شوې وې، چې د وضعیت د ښه والي وروسته بېرته خپلو اصلي سیموته ستنې شوي دي.

## د نیمروز ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د کړنو او فعالیتونو راپور

د نیمروز ولایت د مهاجرینو چارو ریاست څخه ترلاسه شوي راپورنه ښیي چې د افغانستان اسلامي امارت له بریا او په ټول هېواد کې د امنیت د ټینګښت وروسته زموږ زیات شمېر افغان مهاجر هېوادوال له ایران څخه هېواد ته راستانه شوي دي.

د مهاجرینو او راستنېدونکوچارو وزارت د دغه ولایت په ورېښمو پل کې یو آمریت لري،چې یاد آمریت هغه افغان مهاجرچې په خپله خوښه او جبري توګه هېواد ته راستنیږي که هغه د مهاجرت قانوني اسناد لري او که یې نه لري ثبت او راجستر کوي او هره ورځ د نیمروز ولایت د مهاجرینو چارو ریاست له لارې د مهاجرینو چارو وزارت ته راپور ورکوي.

د نیمروز ولایت په ورېښمو پل کې د مهاجرینو چارو آمریت د ثبت شوو شمېرو له مخې د (۱۴۰۰) د لړم د لومړۍ نېټې څخه د (۱۴۰۱) کال د لړم تر (۳۰) مې، چې په هېواد کې اسلامي امارت حاکم دی ( ۸۵۶۰۷) تنه مجردین چې په ایران کې یې ژوند کاو په جبري توګه هېواد ته راستـــــــانه شوي او ( ۵۳۰۷۹۹) تنه مجردین په خپله خوښه هېواد ته راستانه شوي.

همدارنګه په یاده موده کې ( ۱۲۳۰۰) کورنۍ په جبري او (۱۷۰۷) کورنۍ په خپله خوښه هېواد ته راستنې شوي دي.

د یادو راستنېدونکو له ډلې د نیمروز ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو ریاست له لوري (۶۵۸۶) کورنۍ او (۴۲۱۶۰) تنه مجردین د مرستو د ترلاسه کولو په موخه نړیوالو مرستندویه بنسټونو ته ور پېژندل شوي، چې د اړتیاوو په نظر کې نیولو وروسته ور سره د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې شوي.

همدارنګه د نیمروز ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په راپور کې راغلي، چې د (۱۴۰۰) کال د لړم د (۳۰) څخه د (۱۴۰۱) کال د لړم تر (۳۰) مې (۱۵۰۶۷) راستنېدونکو، داخلي بېځایه شوو او اړمنو کورنیو سره د نړیوالو ادارو له لوري مرستې ترسره شوي دي.

یادې مرستې د نیمروز ولایت په بېلابېلو ولسوالیو او مرکز زرنج ښار کې اړمنو کورنیو ته وېشل شوي، چې پکې نغدې پیسې او خوراکي او غیر خوراکي توکي شامل ول.

یادې مرستې د نیمروز ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو ریاست په همغږۍ او څارنې د ( HRD)، ( GKRO)، ( NRC)، (IOM)، ( ACHRO)، ( OHA)، (WADAN) او ( WAW) موسسې له لوري وېشل شوي دي.

سربېره پردې د نیمروز ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د مرستو د ترلاسه کولو په موخه د ( ۲۹۰۰) تنو مراجعینو عریضې د اوچا دفتر په همکارۍ ثبت او ترتیب شوي.

د حقوقي ملاتړ په برخه کې (۱۱) تنه راستنېدونکې د زده کړو د دوام په موخه د پوهنې ریاست ته ور پېژندل شوي دي.



# د بلـخ ولایـت د مهاجرینـو چـارو ریاسـت د فعالیتونو راپور

د بلـخ ولایت د مهاجرینـو او راسـتنېدونکو چـارو ریاسـت د نړیوالـو مرسـتندویه بنسـټونو سـره پـه ګـډې همـکارۍ راسـتنېدونکو او بېځایـه شـوو تـه د پراختیایـي او بشـري مرسـتو پـه برخـه کې فعالیتونـه ترسره کړي دي، چې مهـم یې پـه لانـدې ډول دي.

د فردوسـي د مهاجرینـو ښـارګوټي کـې د ځوانانـو لپـاره د یوټېولنیزو مرکز او د غالـۍ اوبدلو ښـارګوټي د غالیـو د پروسس مرکز د (UNHCR) دفتر په مالي مرسته جوړ او ګټې اخیستنې ته سپارل شوي.

همدارنګه د مزار شریف ښار د پېنځمې ناحیې د میرولي په کلـي کـې د یـو لومړنـي ښـوونځي د جوړېـدو چـارې د مهاجرینـو چـارو ریاست په همکارۍ د مهاجرت نړیـوال سـازمان لـه لـورې پیل شوي.

د اوبـو یـوه ژوره څاه او د هغـه لپـاره د اوبـو رسـوني شبکه او د سولر پمپ سیستم چې د (UNHCR) دفتـر لـه لـورې د غالیـو اوبدولو ښـارګوټي کـې کینـدل شـوې وه او همدارنګـه د نهـر شـاهي ولسـوالۍ د فاریابـي کمـپ کـې یـوه د اوبـو ژوره څـاه د اوبـو رسـونې شبکې سره د (NRC) دفتـر لـه لورې جوړه او ګټې اخیسـتنې ته سپارل شوې ده.

د فردوسـي د مهاجرینو ښـارګوټي او د امیـد فـردا، حضرت بلال او ذبیح الله سـیموکې د (UNHCR) دفتـر پـه مالي مرسـته (۳۶۵) بېځایه شوو کورنیوته د لمریزې برېښنا وسایل وېشل شوي او د نصبولو لپاره هرې کورنۍ سره (۵۰) امریکایي ډالره نغدې مرسته هم شوې.

د فردوسـي، امیـد فـردا، ذبیـح الله، حضـرت بـلال سـیمو او سخي کمپ کې (۳۷۰) کورنیو ته د (UNHCR) دفتر له لورې د حرفوزي زده کړو او کار موندنې په موخه یو مرکز فعال شوی.

د سـرپناه او کـور جوړولـو پـه برخـه کـې د بلـخ ولایـت د مهاجرینو چارو ریاست د (UNHCR) دفتر او ناروې د مهاجرینو کمېټې (NRC) پـه مالـي مرسـته راسـتنېدونکو، داخلـي بېځایـه شـوو او اړمنـو کورنیـو تـه پـه بېلابېلـو ولسـوالیو کې هغـو کورنیـو تـه چې سرپناه یې نـه لرلـه او کورونـه یې د تېرو جګړو لـه املـه ویجاړ شوي (۳۶۵) شلتېرونه جوړ شوي.

د بشـري مرسـتو پـه برخه کې (۲۷۳۲۴) راسـتنېدونکو، داخلي بېځایـه شـوو او اړمنـو کورنیـو سـره د بلـخ ولایـت پـه بېلابېلـو سـیموکې نغـدي، د خوراکـي او غیـرو خوراکـي توکـو مرسـتې شوي دي.

یـادې مرسـتې د بلـخ ولایـت د مهاجرینـو چـارو ریاسـت پـه همـکارۍ او څارنـې د نړیوالـو مرسـتندویه بنسـټونو لـه لـورې پـه لاندې ډول ترسره شوي دي.

بلـخ ولایت تـه د بېلابېلو ولسـوالیو او ولایتونو څخـه (۸۰۱۰) راسـتنېدونکي او اړمنـي کورنـۍ راغلـي، چـې ورسـره (۳۳۰۳۷۵) امریکایـي ډالـره او (۹۰۲۱۰۳۲۰) افغانـۍ نغـدي مرسـتې ترسـره شوي دي.

یـادې مرسـتې د (UNHCR) دفتـر، ()، (PIN)، ( NRC)، ( DRC)، (IOM)، (OHW) OASW، اکتېـد او پاملرنـې موسسـې لـه لـورې ترسـره شـوي دي.

د جګـړو او طبیعـي پېښـو لـه املـه (۱۳۴۷۶) بېځایـه شـوې، اړمنـې، کونډې میرمنـې او هغـه کورنـۍ چـې ډېرې بېوزلـه وې او د بلـخ ولایت بېلابېلو ولسـوالیو او سـیمو کـې ځای پرځای شـوې وې هـرې کورنـۍ سـره د خوراکـي توکـو، وریجـو، اوړو، غـوړو، دالنخودو، بورې او مالګې مرسته شوې.

یـادې مرسـتې د اسـلامیک ریلیـف، ترکیـه د بشـري مرسـتو موسسـې، له لورې لاس په لاس، (WFP)، (UNION-AID) چیـن هېواد او چشـم امیـد موسسـې د دغـه ولایـت د مهاجرینـو چـارو ریاسـت پـه همغږۍ او څارنې لاندې وېشل شوي دي.

همدارنګه (۵۸۳۸) کورنـۍ چې د جګـړو او طبیعي پېښـو لـه املـه د بلـخ ولایت بېلابېلو ولسـوالیو او سـیموته راکډه شـوي وې هـرې کورنـۍ تـه د اړتیـاوو پـه نظـر کـې نیولـو وروسـته غیـر خوراکـي توکـي، د سـرپناه د ترمیـم وسـایل، کمپلـو، ګازډبـه، د کالـو مینځلـو صابـون، د لاس مینځلـو صابـون، ترپـال، دیـګ بخـار، لاسـي څـراغ، سـطل، نارینـه او ښـځینه البسـه، د اوبـو بوشـکې، خېمې او د پخلنځي وسایل وېشل شوي دي.

یـادې مرسـتې د بلـخ ولایـت د مهاجرینـو او راسـتنېدونکو چارو ریاست په همکارۍ او څارنې د (UNHCR) دفتر، ماشوم ساتنې نړیوالـې ادارې، چیـن هېـواد، چـې د مهاجرینـو چـارو وزارت تـه یې سپارلې وې، (NRC)، (DACAR)، (ERM) او (UNICEF) دفتر له لورې ترسره شوي دي.



# د لوګر ولایت د مهاجرینوچارو آمریت د فعالیتونو راپور

د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته د لوګر ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو آمریت په پراختیایي او بشري برخو کې د موسسو په همکارۍ او همغږۍ لاندې مهم فعالیتونه ترسره کړي دي.

د لوګر ولایت د مهاجرینو چارو آمریت له سپین ګیرو او په ښارګوټي کې د مېشتو مهاجرینو له استازو سره لیدنې کړي او د هغوی ستونزې یې د لوګر ولایت له چارواکو سره شریک کړي.

همدارنګه یادې ادارې د شته ستونزو د حل او په ښارګوټي کې د غضب د مخنیوي په موخه د لوګر ولایت د مهاجرینو چارو ښارګوټي څخه لیدنه کړې، شته ستونزې او ننګونې یې په نښه کړي او هغه یې د اړوند چارواکو سره شریک کړې دي.

سربېره پردې د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت له لورې لېږل شوي پلاوي د لوګر ولایت د مهاجرینو ښارګوټي د تخنیکي ستونزو ارزونه کړې،چې پکې شته ستونزې او ننګونې یې په نښه کړې او د اړوندو چاروا کو سره د شریکولو په موخه یې یاداښتونه اخیستي.

همدارنګه د اکرو او اعمار موسسې له لورې د لوګر ولایت د مهاجرینو په ښارګوټي کې د سېلابونو د مخنیوي په موخه د (۹۸۰) متره په اوږدولي استنادي دېوال جوړ او ګټې اخیستنې ته سپارل شوی.

د پراختیایي پروګرامونو د پلي کولو په برخه کې د لوګرو ولایت د مهاجرینو چارو آمریت د اکرو موسسې په همکارۍ د مهاجرینو په ښارګوټي کې (۴۴۱) کورنیو او په محمد اغې ولسوالۍ کې (۱۵۷) کورنیو ته مکمل بربېښنایي وسایل وېشلي چې په دې سره د یوشمېر اړمنو کورنیو کورنه روښانه شوي دي.

د سیلابونو د راوتلو له امله د دغه ولایت په خوشي ولسوالۍ کې ګڼ شمېر کورنیو خپل کورونه پرېښي، چې د لوګر ولایت د مهاجرینو چارو آمریت له لورې ورسره د بشري مرستو او موقتي استوګنې د برابرولو په برخه کې مرسته شوې.

د لوګر ولایت د مهاجرینو په ښارګوټي د اکرو موسسې له لورې د لوګر ولایت د مهاجرینو چارو آمریت په همکارۍ (۳۰۰) کورنیو ته د کار زمینه برابره شوې.

(۷۸۰) راستنېدونکي کورنۍ د (ARIS) معلوماتي سیستم او (۱۳۸۷) داخلي بېځایه شوې کورنۍ د مرستو د ترلاسه کولو په موخه د مهاجرینو چارو آمریت کې ثبت او راجستر شوي دي.

د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته په لوګر ولایت کې (۶۳۷۰) راستنېدونکو، داخلي بېځایه شوو او اړمنو کورنیو سره مرستې شوي، چې له ډلې یې (۴۴۳۰) کورنیو سره نغدي، (۱۰۰۴) کورنیو سره د خوراکي توکو او (۹۳۶) کورنیو سره د غیر خوراکي توکو مرستې شوي.

یادې مرستې د لوګرولایت د مهاجرینو چارو آمریت ترڅارنې لاندې د (UNHCR) دفتر، مهاجرت نړیوال سازمان (IOM)، خوراک نړیوال سازمان (WFP) ډاکار، (IRC) او (HHRD) موسسې له لورې ترسره شوي دي.



# د دایکندي ولایت د مهاجرینو چارو آمریت د فعالیتونو راپور

د دایکندي ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو آمریت د یوشمېر ملي او نړیوالو مرستندویه بنسټونو سره په ګډې همکارۍ راستنېدونکو، داخلي بېځایه شوو او اړمنو کورنیو ته د خدماتو د وړاندې کولو په برخه کې فعالیتونه ترسره کړي دي، چې مهم یې په لاندې ډول دي.

د بشري مرستو په برخه کې د دایکندي ولایت په بېلابېلو سیمو کې له څه باندې ( ۱۲۷۶۱) راستنېدونکو، داخلي بېځایه شوو او اړمنو کورنیو ته رسیدګي کړې او ورسره د نغدي پیسو او د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې ترسره شوي.

یادې مرستې د خوراک نړیوال سازمان (WFP)، د مهاجرت نړیوال سازمان (IOM) او (UNHCR) دفتر له لورې اړمنو کورنیو سره ترسره شوي دي.

همدارنګه د دایکندي ولایت په بېلابېلو سیمو کې له شپږو زرو زیاتو کورنۍ د دغې ولایت د مهاجرینو چارو آمریت په همغږۍ او څارنې د نړیوالو موسسو له لورې سروې او د مرستو له پاره مرستحقې په نښه شوې، چې په پام کې ده په نږدې راتلونکې کې ور سره بشري مرستې ترسره شي.

سرېبره پردې د دایکندي ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو آمریت په همکارۍ او څارنې د (UNHCR) دفتر په مالي مرسته د ( ۲۵۰) کورنیو سره د (PSN) برنامې له لارې مرستې ترسره شوي.

د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته تر اوسه ( ۱۳۹) کورنیو سره نغدي مرستې ترسره شوي، چې هرې کورنۍ ته (۱۵) زرو څخه تر ( ۲۵) زره افغانیو پورې نغدې مرستې وېشل شوي دي.

د دایکندي ولایت د مهاجرینو چارو آمریت د (UNHCR) دفتر په مالي مرسته ( ۲۰) راستنېدونکو او داخلي بېځایه شوو ته د دایکندي ولایت په مرکز کې له سروې وروسته یو یو زرنج موټرسایکل وېشل شوی دی.

د دایکندي ولایت د مهاجرینو په ښارګوټي کې عام المنفعه او بنسټیزو پروژو د پلي کېدو په برخه کې، چې مساحت یې (۱۱۸۰) جریبه کېږي (۱۲۰۰) نمرې خط اندازي شوي او تفصیلي پلان یې پلي شوی

د (۳۵۰۰) راستنېدونکو کورنیو ته چې د نمرو د ترلاسه کولو په موخه یې غوښتنلیکونه کمېسیون ته سپارلي و، ( ۷۷۹) کورنۍ د کمېسېون له لورې مستحقې پېژند شوي دي.

د دایکندي ولایت د مهاجرینو په ښارګوټي کې ترسره شوي فعالیتونه او پروژې چې د افغانستان اسلامي امارت د واکمنۍ پرمهال بشپړې او عملي شوي په لاندې ډول دي.

د مهاجرینو ښارګوټي کې دننه ۲/۱۷ کیلومتره سرک جوړولو چارې د ( ۴۶۰۶۱۳) امریکایي ډالرو په ارزښت په ( ۱۳۹۹) کال کې چې د (UNHCR) دفتر له لورې پیل شوی و، چې په ( ۱۴۰۰) کال کې بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو. یاد سرکونه د چغل په شکل و، چې د سرک دواړو غاړو ویالې او پیاده ره ونه هم پکې شامل و او د سرک جوړولو چارو د کیفیت له مخې دویمه درجه کې دي.

د دایکندي ولایت د مهاجرینو ښارګوټي کې د ځوانانو د روزنیز مرکز د ناستې د تالار د جوړولو کار چې مجموعي ارزښت یې (۱۵۸۳۰۳۳) افغانۍ دی په ( ۱۳۹۹) کال کې د (UNHCR) دفتر په مالي مرسته پیل او په (۱۴۰۰) کال کې بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو. یاد تالار (٤٠) متره اوږدوالی او (٤٠) متره پلنوالی لري، چې د (۱۶۰۰) متره مربع مساحت په لرلو سره جوړ شوی دی.

د مهاجرینو په ښارګوټي کې د اوبو رسولو شبکې د غځولو چارې، چې مجموعي ارزښت یې (۳۲۰۷۴۳۲۴) افغانۍ کېږي د (UNHCR) دفتر په مالي مرسته په ( ۱۳۹۹) کال کې پیل او په ( ۱۴۰۱) کال کې بشپړه شوه، چې د ( ۷۰۰) کورنیو لپاره د څښاک د پاکو اوبو رسولو وړتیا لري.



# د کابل ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د فعالیتونو راپور

دا چې په کابل ولایت کې ډېری راستانه شوي او داخلي بېځایه شوي مېشت شوي، نو د مهاجرینو چارو وزارت د خپلو بېلابېلو څانګو له لارې د مراجعینو یوشمېر ستونزو او اړتیاوو ته رسیدګي کړې، ترڅنګ یې د کابل ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو ریاست هم د ډېر شمېر کورنیو د اړتیاوو د پوره کولو مسؤلیت په غاړه لري.

د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته د کابل ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د عامه خدماتو، پراختیایي او بنسټیزو پروژو، خپلو اصلي سیموته د بېځایه شوو د لېږد او د بشري مرستو د وړاندې کولو په برخه کې پراخه فعالیتونه ترسره کړي دي، چې تر ټولو مهم فعالیتونه یې په لاندې ډول دي.

(۱۰۲) کورنۍ او (۳۰) تنه راستنېدونکي د راستنېدونکو د بیا یو ځای کېدو (ARIS) سیستم کې ثبت شوي، تر څو د سرپناه، بنسټیزو ، روغتیایي او خوراکي او غیر خوراکي توکو په برخه کې ورسره مرستې ترسره شي.

د عامه خدماتو د وړاندې کولو په برخه د استاد خلیل الله خلیلي د مهاجرینو ښارګوټي کې د (الف) ګروپ د اوبو رسونې شبکه او یوه ذخیره د قره باغ ولسوالۍ د باریک آب په سیمه کې د (UNHCR) دفتر په مالي مرسته جوړې شوې. همدارنګه پغمان ولسوالۍ د ده عربان په سیمه کې یو ښوونځی چې (۱۲) درسي خونې لري د مهاجرت نړیوال سازمان (IOM) له لورې جوړ شوی، چې د کابل ولایت د مهاجرینو چارو ریاست او یادو موسسو د استازو په شتون کې ګټې اخیستنې ته سپارل شوی دی.

همدارنګه د قره باغ ولسوالۍ د موسی زي په کلي کې د (۶) پلچکونو جوړول، د قره باغ او سروبي ولسوالۍ کې د (٦) دانو شنو خونو جوړول او په سروبي ولسوالۍ کې د ماهیانو د روزنې دوه فارمونه او یو د اچارو دوکان راستنېدونکو، بېځایه شوو او اړمنو کسانو ته د کابل ولایت د مهاجرینو چارو ریاست او د (UNHCR) دفتر له ګډو پرمتختیایي پروګرامونو څخه دي، چې په کابل کې د اسلامي امارت له بریا وروسته پلي شوي دي.

راستنېدونکو او داخلي بېځایه شوو ته د کار موندنې په برخه کې (۱۸۰) راستنېدونکو، بېځایه شوو او اړمنو میرمنو سره، چې د کورنۍ سرپرستان یې نه لرل د خیاطۍ په برخه کې ورته د شپږ میاشتو لپاره زده کړې ورکړل شوې او د (NEI) او (HAGER) ادارو په همکارۍ په چهارآسیاب او د بګرامیو ولسوالۍ دولسمې ناحیې احمد شاه بابا مېنې نوآباد کې موقعیت لري کار کوي.

سربېره پردې (۲۶) راستنېدونکي او داخلي بېځایه شوي د کمپیوټر او خیاطۍ د زده کړو په موخه د کابل ولایت د مهاجرینو چارو ریاست له لورې د اېپیک موسسې ته ور پېژند شوي دي.

همدارنګه (۴) کورنۍ د سرپناه د جوړولو په موخه د کابل ولایت د مهاجرینو چارو ریاست له لورې د (UNHCR) فتر ته ور پېژندل شوي او (۸) نورې راستنېدونکې کورنۍ د نغدي مرستو د ترلاسه کولو په موخه په پلچرخي کې د (UNHCR) دفتر انکشمنت مرکز ته ور پېژندل شوي دي.

د کابل ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو ریاست د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته د (۱۴۰۱) هجري شمسي کال د لړم تر (۱۵) مې (۴۰۰) راستنېدونکو او داخلي بېځایه شوو ته حقوقي مشورې ورکړې او (۴) تنه راستنېدونکي د زده کړو د دوام په موخه د پوهنې ریاست ته ور پېژندل شوي دي.

د بشري مرستو د وېش په برخه کې د کابل ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو ریاست د یوشمېر ملي او نړیوالو مرستندویه بنسټونو سره په ګډې همکارۍ ډېر شمېر کورنۍ د بشري مرستو تر پوښښ لاندې نیولي دي.

د دغه ریاست د راپور له مخې د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته د (۱۴۰۱/۸/۱۵) نېټې (۲۱۷۰۱۲ ) کورنیو سره نغدي، خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې شوې.

یادې مرستې د (UNHCR) دفتر، خوراک نړیوال سازمان (WFP)، ناروې د کډوالو ادارې (NRC)، ډنمارک د کډوالو ادارې (DRC) موسسه خدمات اجتماعي جهان در اسیا، اوپیک نړیوالې موسسې، ماشوم ساتنې نړیوالې موسسې، ډاکار، (IRC)، چین هېواد او اسلامیک ریلیف موسسې له لورې ترسره شوې دي.

سربېره پردې د کابل ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو ریاست په همکارۍ او څارنې د (UNHCR) دفتر په مالي مرسته د ( ۶۲۵) کورنیو سره د (PSN) برنامې له لارې نغدي مرستې ترسره شوې دي.



## د بامیانو ولایت د مهاجرینو چارو آمریت د فعالیتونو راپور



دافغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته د بامیانو ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو آمریت (۳۶۱۶۱) راستنېدونکو، بېځایه شوو او اړمنو کورنیوته د بشري مرستو په برخه کې رسید ګې کړې.

په یادو بشري مرستو کې نغدي پیسې، خوراکي او غیر خوراکي توکي، ګرم ژمني لباسونه، کمپلې او د پخلنځي وسایل شامل ول، چې د مهاجرت نړیوال سازمان (IOM)، خوراک نړیوال سازمان (WFP)، د ملګرو متلونو د کډوالو اداري (UNHCR)، (UN OCHA) او اسلامیک ریلیف موسسې له لورې د بامیانو ولایت د مهاجرینو چارو آمریت په همغږۍ او همکارۍ اړمنو مستحقو کورنیو ته وېشل شوي دي.

همدارنګه د (۸۴۴) کورنیو ته د مهاجرینو چارو وزارت له لورې جمپرونه او کمپلې چې د چین هېواد له لورې د مهاجرینو چارو وزارت ته سپارل شوې وې وېشل شوي دي.

د بېځایه شوو او راستنېدونکو د ستونزو د حل او همغږۍ په موخه د ملي او نړیوالو مرستندویه بنسټونو سره د ناستو ترسره کول، د راستنېدونکو د بیا یوځای کېدو په اړه د ولایتي کمېټو د ناستو ترسره کول او همدارنګه د بامیانو ولایت د مهاجرینو چارو آمر د یوشمېر ملي او نړیوالو بنسټونو سره د مرستو د جلب په موخه د ناستو ترسره کول د یاد آمریت له نورو مهم فعالیتونو څخه دي.

همدارنګه د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت د پلاوي له لورې د دغه ولایت د مهاجرینو چارو آمریت کار کوونکو ته د ظرفیت لوړونې په موخه دوه ورځنی روزنیز ورکشاپ هم تر سره شوی دی.

## د فراه ولایت د مهاجرینوچارو ریاست د فعالیتونو راپور

د فراه ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د یوشمېر ملي او نړیوالو مرستندویه بنسټونو سره په ګډې همکارۍ او همغږۍ د راستنېدونکو، داخلي بېځایه شوو او اړمنو کورنیو د ستونزو د حل په برخه کې فعالیتونه ترسره کوي.

یاد ریاست د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته د راستنېدونکو د بیا یوځای کېدو، کار موندنې او استوګنې په برخه کې یوشمېر مهم فعالیتونه ترسره کړي چې په لاندې ډول دي.

د عامه خدماتو او اوبو رسونې په برخه کې د کرجي دښتې د مهاجرینو ښارګوټي کې (۵۰۰) کورنیو ته د اوبو رسونې شبکې کار دوام لري او همدارنګه د کرجي سیمې د مهاجرینو ښارګوټي په لومړۍ برخه کې هم د کلیو پراختیا ریاست په همغږۍ د یونیسف اداري په مالی مرسته د اوبو رسونې د یوې بلې شبکې د جوړېدو چارې پیل شوي.

(۱۵۰) راستنېدونکو کورنیو ته چې مځکې یې بانکي اویزونه تحویل کړي و، نمرې ورته وسپارل شوې. همدارنګه د کرجي دښتې او پل فراه رود د مهاجرینو ښارګوټو د تخنیکي ستونزو ارزونه د مهاجرینو چارو وزارت د پلاوي له لورې ترسره شوې ده.

همدارنګه (۱۴۵۹) کورنۍ چې مځکې سروې او د مرستو لپاره مستحقې په نښه شوې وې ورته د لمریزې برېښنا تختې سره د وسایل وېشل شوي دي.

د (UNHCR) دفتر له لورې د فراه ولایت د مهاجرینو ریاست په همکارۍ (۴۵) راستنېدونکو او بېځایه شوو سره نغدي مرستې او (۲۵) راستتنېدونکي، داخلي بېځایه شوي او د کرجي دښتې د مهاجرینو ښارګوټي اوسېدونکي د حرفوي زده کړو په موخه د واستا دفتر ته ور پېژندل شوي دي.



د کور جوړولو او سرپناه په برخه کې (۶۴۷) کورنیو سره، چې د سېلابونو له امله زیانمنې شوې وې د (UNHCR) دفتر له لورې د مهاجرینو چارو ریاست په همغږۍ نغدي مرستې ترسره شوي دي.

د (۹۲۱) راستنېدونکو او ډیپورټ شوو دوسیه چې د ایران او پاکستان څخه په جبري ډول راستانه شوي و د فراه ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د احصایې مدیریت کې ثبت او راجستر شوي دي.

په ټول ولایت کې (۶۸۴۱) کورنیو سره بشري مرستې ترسره شوي، چې پکې خوراکي او غیر خوراکي توکي، نغدې پیسې، ګرمه بستره او د پخلنځي وسایل شامل ول، چې د مهاجرینو چارو آمریت تر څارنې لاندې د (UNHCR) فتر، خوراک نړیوال سازمان (WFP) او (DRC) موسسې له لورې وېشل شوي دي.

سربېره پردې (۳۱۹) داخلي بېځایه شوو کورنۍ د (PSN) برنامې له لارې د (UNHCR) دفتر له لورې سروې او د اړتیاوو په نظر کې نیولو سره ورته نغدي مرستې وېشل شوي دي.

## د پنجشېر ولایت د مهاجرینو چارو آمریت د فعالیتونو راپور



د پنجشېر ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو آمریت د ملي او نړیوالو مرستندویه بنسټونو په همکارۍ د راستنېدونکو، داخلي بېځایه شوو او اړمنو کورنیو د اړتیاوو د حل په موخه کار کوي.

د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته یاد آمریت (۷۶) اسناد لرونکې او بې اسناده کورنۍ چې د (IOM) کارتونه یې لرل د پاکستان او ایران څخه په جبري ډول را ویستل شوي او د (۵۴۰) راستنېدونکو، داخلي بېځایه شوو او د سیمې د خلکو عریضې، چې د مرستو د ترلاسه کولو په موخه یې کړې وې د دغه آمریت په ډېټابیس کې ثبت شوي دي.

یاد آمریت (۵) تنه راستنېدونکي او بېځایه شوي د درملنې په موخه د روغتیا ریاست ته او (۲) تنه جبري راشړل شوي د زده کړې د دوام په موخه د پوهنې ریاست ته معرفي کړې دي.

د پنجشېر ولایت د مهاجرینو چارو آمریت د دغه ولایت په بېلابېلو سیمو کې (۱۹۷۷۴) راستنېدونکو او اړمنو کورنیو سره د (UNHCR) دفتر، د مهاجرت نړیوال سازمان (IOM)، د خوراک نړیوال سازمان (WFP)، ډنمارک د کډوالو اداري (DRC)، (UNICEF)، د شلتر خیره موسسې، کارتو خیریه بنسټ، (HHRD)، د حاجي عبدالرحمن پېښوري خیریه بنسټ، د هلال احمر قطر، (TIKA) موسسې، او په المان کې د مېشتو رضاکارانو ښځو خیریه بنسټو له لورې خوراکي توکو، د کور وسایلو، ژمنیو لباسونو، نغدي پیسو او د پخلنځي وسایلو مرستې شوي دي.

د ویلوده، چې د یادو کورنیو له ډلې (۵۰۰) کورنیو سره د مهاجرینو چارو وزارت له لورې مرستې ترسره شوي، چې یادې مرستې د چین هېواد له لورې د مهاجرینو چارو وزارت ته سپارل شوې وې، چې پکې خوراکي توکي، البسه، یوه یوه بوجۍ (۵۰) کیلو یې اوړه، (۲۰) کیلو وریجې، (۵) لېټره غوړي، دوه دوه جمپرونه او دوه دوه کمپلې شاملې وې.

د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته د (PSN) برنامې له لورې (۳۲۶) کورنیو سره د (UNHCR) دفتر په همکارۍ مرستې ترسره شوي دي.

## په تېر یوه کال کې د پکتیا ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د فعالیتونو راپور

په تېر یوه کال کې د پکتیا ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو ریاست راستنېدونکو، داخلي بېځایه شوو او اړمنو کورنیو ته د سرپناه، عامه خدماتو او بشري مرستو په برخه کې فعالیتونو ترسره کړي دي.

دغه ریاست د اسلامي امارت له بریا وروسته د ملي او نړیوالو مرستندویه بنسټونو سره په ګډه همکارۍ، راستنېدونکو، داخلي بېځایه شوو او اړمنو کورنیو ته په لاندې برخه کې خدمات وړاندې کړي دي:

د بشري مرستو په برخه کې: په بشري مرستو کې نغدي پیسې او خوراکي او غیر خوراکي توکي شامل دي، چې یاد ریاست له لورې د همکارو ملي او نړیوالو مرستندویه بنسټونو سره په همکارۍ (۱۳۱۹) راستنېدونکو، داخلي بېځایه شوو او اړمنو کورنیو ته وېشل شوي دي.

د نغدي مرستو د وېش اندازه چې په دغه ولایت کې راستنېدونکو، داخلي بېځایه شوو او اړمنو کورنیو ته وېشل شوي (۱۶) میلیونه، (۴۷۷) زره افغانۍ او (۲۵۷) زره او (۲۶۰) امریکایي ډالره ده، چې د بېلابېلو همکارو مرستندویه بنسټونو له لورې مرسته شوې وه.

همدارنګه (۳۷۰) اړمنو کورنیو ته د خوراک نړیوال سازمان (WFP) له لورې او (۱۰۰۰) نورو کورنیو ته د مهاجرینو چارو وزارت له لورې د خوراکي توکو وېشل، چې د چین هېواد له لورې د مهاجرینو چارو وزارت ته سپارل شوي و.

د سرپناه په برخه کې: د پکتیا ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د ویستا او اکرو موسسې په همکارۍ (۴۰) زره ډالره (۱۰۰) مستحقو کورنیو ته د سرپناه د جوړولو په موخه وېشل شوي دي.

د بنسټیزو پروژو د پلي کولو په برخه کې: د پکتیا ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په همکارۍ د یونیسف فتر له لورې د دغه د مهاجرینو په ښارګوټي کې د (۱۹) میلیونو، (۳۱۲) زرو او (۳۴۲) افغانیو په ارزښت د اوبو رسونې شبکه جوړه او ګټې اخیستنې ته سپارل شوې ده.

یادې پراختیایي برنامې او ترسره شوې مرستې د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري (UNHCR)، د خوراک نړیوال سازمان (WFP)، د مهاجرت نړیوال سازمان (IOM)، د چین هېواد او د (NRC) موسسې لورې شوې وې چې د پکتیا ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په همغږۍ او څارنې په اړمنو او مستحقو کورنیو وېشل شوي دي.



## د خوست ولایت د مهاجرینو چارو ریاست دفعالیتونو راپور



د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته د خوست ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د ملي او نړیوالو ادارو په همکارۍ د راستنېدونکو، داخلي بېځایه شوو او اړمنو د ستونزو او تنګونو د حل، بیا یوځای کېدو، کار موندنې او استوګنې په برخه کې لاندې فعالیتونه ترسره کړي دي:

د (NRC) موسسې له لورې نادر شاه کوټ ولسوالۍ (۳۱۳) کورنیو سره د سرپناه د ترمیم په موخه (۲۷) زره افغانۍ او (۵۸۴) نورو اړمنو کورنیو ته د اړتیاوو په نظر کې نیولو وروسته په دوو کټګوریو کې (۱۴) زره او (۲۸) زره افغانۍ نغدې وېشل شوي دي.

همدارنګه د مهاجرت نړیوال سازمان (IOM) له لورې (۱۳۹۵) بېځایه شوو کورنیو ته (۲۰۰) امریکایي ډالره، د (CARE) موسسې (۷۰۰) کورنیو ته (۱۶۵۰۰) افغانۍ او د (ACHRO) موسسې له لورې (۱۲۸) کورنیو هرې کورنۍ ته (۷۰۰) امریکایي ډالره نغدې وېشل شوي دي.

په همدې توګه د خوست ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د (IRC) موسسې په همکارۍ او همغږۍ (۲۰۴) نورو بېځایه شوو کورنیوته د اړتیاو په نظر کې نیولو سره په درې کټګوریو کې (۲۴) زره، ۲۲) زره او (۲۶) زره افغانۍ نغدې مرسته شویده.

همدارنګه (۴۵) بېځایه شوو کورنیو ته د ډاکار موسسې له لورې روغتیایي کڅوړې او لس تنو معیوبینو ته ولچرې وېشل شوي دي. سربېره پردې (۱۰۳۲) تنو راستنېدونکو کورنیو هرې کورنۍ ته په ګربز او متون ولسوالیو کې (۲۶) زره افغانۍ نغدې وېشل شوي دي.

یادې ادارې د چین هېواد (۱۰) کانتینره مرستې چې د مهاجرینو چارو وزارت له لورې یاد ولایت ته لېږل شوې وې هم د خوست ولایت په بېلابېلو سیمو کې راستنېدونکو، بېځایه شوو، اړمنو او زلزله ځپلو کورنیو ته وېشلې دي.

## د میدان وردګو ولایت د مهاجرینو چاروآمریت د فعالیتونو راپور

د میدان وردګو ولایت د مهاجرینو چارو آمریت د یوشمېر ملي او نړیوالو موسسو په همکارۍ په دغه ولایت کې راستنېدونکو او بېځایه شووته د بشري مرستو د وېش په برخه کې فعالیتونه ترسره کړي دي چې مهم یې په لاندې ډول دي.

د بشري مرستو د وېش په برخه کې (۸۲۹۷) کورنیوسره د یوشمېر مرستندویه ادارو له لورې مرستې شوي، چې پکې نغدې پیسې او خوراکي او غیر خوراکي توکي شامل و په لاندې ډول دي:

- په مرکز او نرخ ولسوالۍ کې (۱۵۰) کورنیو ته د همکارو موسسو له لورې (۴) قلمه خوراکي او غیر خوراکي توکي وېشل شوي.
- (۳۹۵۵) راستنېدونکې، بېځایه شوي او اړمنې کورنۍ د مرستو په موخه سروې شوې وې، چې له ډلې یې (۱۳۵۰) کورنیو ته څلور او شپږ قلمه خوراکي توکي وېشل شوي او (۲۶۰۵) نورو کورنیو ته په مرکز او ولسوالیوکې د مهاجرینو چارو آمریت له لورې د چین هېواد د ترسره شوو مرستو نه یوه یوه بوجۍ وریجې وېشل شوي دي.
- د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري (UNHCR)، (DRS)، (CAPO)، او (PIN) موسسې له لورې (۴۱۹۲) کورنیو هرې کورنۍ سره د اړتیا په نظر کې نیولو وروسته نغدې مرستې شوې دي.

د سرپناه او کور جوړولو په برخه (۱۱۹۴) کورنیو سره چې د جګړو له امله یې کورونه ویجاړ شوي و د موسسو له لورې مرستې شوي او په مرکز او نرخ ولسوالیوکې (۱۱۹۴) کورنیو سره د ابرار موسسې له لورې د (UNHCR) دفتر په مالي مرسته له (۳۲۰) څخه تر (۸۵۰) امریکایي ډالرو پورې نغدې مرستې شوي او (۴۰) کورنیو ته چې د زلزلې له امله یې کورونه ویجاړ شوي و د (UNHCR) له لورې د خېمو مرستې شوي.

د راستنېدونکو نه د حقوقي ملاتړ په برخه کې په تېر یوه کال کې (۳۹۳) بېځایه شوې کورنۍ خپلو اصلي سیمو ته لېږل شوي، چې د مهاجرینو چارو آمریت په همکارۍ د (UNHCR) دفتر له لورې په سید آباد، نرخ او دایمیرداد ولسوالیوکې هرې کورنۍ ته (۷۰۰) امریکایي ډالره نغدې وېشل شوي دي.



## د هلمند ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د فعالیتونو راپور



د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته د هلمند ولایت د مهاجرینو چارو ریاست راستنېدونکو، داخلي بېځایه شوو او اړمنو کورنیو ته د بشري مرستو، سرپناه، کورجوړولو او حقوقي ملاتړ په برخه کې لاندې فعالیتونه ترسره کړي دي.

په (۱۴) ولسوالیو او د لښکرګاه ښار په بېلابېلو سیموکې (۱۹۱۴۶) کورنیو سره بشري مرستې شوي.

یادې کورنۍ چې د هلمند ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو ریاست د یوشمېر ملي او نړیوالو بنسټونو سره په ګډې همکارۍ سروې او د مرستو لپاره مستحقې په نښه شوې وې، چې هرې کورنۍ ته د اړتیاوو په نظر کې نیولو سره نغدې پیسې او خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې شوي دي.

د (UNHCR) دفتر، ډاکار موسسه، (AAH)، (IRC)، (OHA)، ودان موسسه، ارک او اکرو هغه موسسې دي، چې د هلمند ولایت د مهاجرینو چارو ریاست سره په ګډې همکارۍ یې یادو کورنیو سره مرستې ترسره کړي دي.

د هلمند ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د راستنېدونکو د بیا یوځای کېدو په برخه کې د نمرو د ترلاسه کولو په موخه د (۲۷۰) راستنېدونکو کورنیو اسناد طی مراحل کړي او د ښارګوټي د غصب د مخنیوي په موخه یې د هلمند ولایت د امنیتي مسؤلینو او اړوندو ادارو سره درې ناستې کړې.

د مهاجرینو چارو وزارت پلاوي د هلمند ولایت د مهاجرینو ښارګوټي تخنیکي څېړنه کړې او په پام کې ده، چې د ستونزو دحل په موخه یې لاژم اقدامات ترسره شي.

د نغدي مرستو په برخه کې، چې (۵۵۰) راستنېدونکي مستحقو کورنۍ سروې او د مرستو لپاره مستحقې په نښه شوې وې، د (OHA) موسسې له لورې د (UNHCR) دفتر په مالي مرسته (۲۵۰) کورنیو هرې کورنۍ سره (۲۱۶۰۰) افغانۍ او د مهاجرت نړیوال سازمان (IOM) له لورې (۳۰۰) کورنیو هرې کورنۍ ته (۳۰۰) امریکایي ډالره وېشل شوي دي.

همدارنګه (۵۸۸) راستنېدونکي کورنۍ چې د پاکستان، ایران او ترکیې څخه هېواد ته راستنې شوې وې د مرستو د ترلاسه کولو په موخه دهلمند ولایت د مهاجرینوچارو ریاست کې ثبت اوراجستر شوي دي.

د حقوقي ملاتړ په برخه کې (۷) تنه راستنېدونکي چې د ایران او پاکستان څخه هېواد ته راستانه شوي و د زده کړو د دوام په موخه د دغه ولایت د پوهنې ریاست ته ور پېژند شوي دي.

## د پکتیکا ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د فعالیتونو راپور



د پکتیکا ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د راپور له مخې د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته راستنېدونکو، اړمنو او د شمالي او جنوبي وزیرستان بېځایه شوو کورنیو سره بشري مرستې شوې، چې لنډیز یې په لاندې ډول دی:

( ۳) زره بېځایه شوي او (۴۰۰) راستنېدونکي چې له ایران او پاکستان څخه راستانه شوي د مرستو په موخه د پکتیکا ولایت د مهاجرینو چارو ریاست له لورې په ډیټابیس کې ثبت او راجستر شوي او (PSN) برنامې له لارې د مرستو په موخه د (۶۱۰) کورنیو عریضې هم ثبت شوي.

د یاد ریاست د راپور له مخې په (۱۴۰۱) کال کې ( ۱۰۴۷۴) راستنېدونکو، د شمالي او جنوبي وزیرستان بېځایه شوو، چې د یوسف خېلو، یحیی خېلو، جاني خېلو، متاخېلو، برمل ولسوالیو او مرکز کې ځای پرځای شوي وې نغدي، خوراکي او د غیر خوراکي توکي، چې د خوراک نړیوال سازمان (WFP) او د (UNHCR) دفتر له لورې برابرې شوې وې وېشل شوي دي

د راستنېدونکو او د اخلي بېځایه شوو د حقوقي ملاتړ په برخه کې (۲) تنه بېځایه شوي د پاسپورت د اخیستو په موخه د پاسپورت ریاست، (۵) تنه د پېژند پاڼې د ترلاسه کولو په موخه د نفوسو د احوالو د ثبت ادارې ته، (۴) تنه ماشومان چې د زړه د سوري په ناروغۍ اخته و د سرې میاشت ریاست ته، (۳) تنه راستنېدونکو او بېځایه شوي چې په بېلابېلو نارغیو اخته و د درملنې په موخه د روغتیا ریاست ته او (۳۵) تنه راستنېدونکي او داخلي بېځایه شوي د زده کړو د دوام په موخه د پوهنې ریاست ته ور پېژندل شوي دي.

په ورته وخت کې په مرکز کې راستنېدونکو او بېځایه شوو ته د پېژند پاڼې د ګټو او عامه پوهاوي په موخه تبلیغاتي کمپاین ترسره شوی.

همدارنګه (۱۳۰۷) تنو بېځایه شوو او (۷۰۲) تنو راستنېدونکو ته حقوقي مشورې او لار ښوونې شوي دي.

## د لغمان ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د کړنو او فعالیتونو راپور

د لغمان ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو ریاست د معلوماتو له مخې د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته د یوشمېر مرستندویه بنسټونو سره په همکارۍ او همغږۍ (۱۰۷۰۶) راستنېدونکو، داخلي بېځایه شوو او اړمنو کورنیوسره مرستې شوې، چې له ډلې یې (۶۰۳۴) کورنیو سره نغدي مرستې شوې چې ټولې (۶۵) میلیونه (۴۹۷) زره افغانۍ او یو میلیون، (۹۵۰) زره او (۴۰) امریکایي ډالره کېږي.

همدارنګه د نړیوالو همکارو مرستندویه بنسټونو او دچین هېواد له لورې رالېږل شوې مرستې چې د مهاجرینو چارو وزارت ته سپارل شوې وې ( ۲۶۵۲) کورنیو ته خوراکي توکي او ( ۲۰۲۰) نورو کورنیو ته غیر خوراکي توکي وېشل شوي.

سربېره پردې ( ۱۱۶) عریضې د (UNHCR) دفتر ته راجع شوي او ( ۳۹۰) نورې کورنۍ د واو موسسې له لورې سروې شوي دي.

د راستنېدونکو د بیا یوځای کېدو او پراختیایي خدماتو د وړاندې کولو په برخه کې له ایران او پاکستان څخه د ( ۱۶۸۴) تنو انفرادي او کورنیو راستنېدونکو او له ترکیې څخه (۲۵۰) تنه راستنېدونکي د مرستو د وېش په موخه ثبت او راجستر کړي دي.

په راپور کې راغلي، چې د یاد ریاست مسؤلینو د غصب د مخنیوي او د ستونزو او تنګونو د څېړلو په موخه (۱۰۴) ځلې د لغمان ولایت د مهاجرینو ښارګوټو څخه لیدنه کړې او په دې موده کې یې (۲۷) ځلې له نړیوالو بنسټونو سره د مرستو د جلب د ترلاسه کولو او همغږۍ په موخه ناستې ترسره کړې دي.

دغه راز د یادو کړنو د ترسره کولو ترڅنګ د لغمان ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د مرستندویه بنسټونو سره په همکارۍ د راستنېدونکو د بیا مشتېدو په برخه کې لاندې فعالیتونه ترسره کړي دي.

- (۳۰) تنه راستنېدونکي د حرفوي زده کړو له کورس څخه فارغ شوي.
- په لغمان ولایت کې د ویالو او د سرکونو د پاکولو په ګډون (۱۸) پروژې پلي شوي، چې په ترڅ کې یې (۱۳۴۳) تنو ته د کار زمینه برابره شوې او هر تن ته (۱۵۰) امریکایي ډالره ورکړل شوي دي.
- (۲۴۸) کورنیو ته د (UNHCR) دفتر له لورې د لمریزې بریښنا تختې وېشل شوي.
- د مهاجرت نړیوال سازمان (IOM) له لورې د (۲۴) زره امریکایي ډالرو په لګښت استنادي دېوال جوړ شوی او (۳۰) تنه نور ښځینه او نارینه د حرفوي زده کړو له کورس څخه فارغ شوي دي.

د حقوقي ملاتړ په برخه کې (۲۳) تنه راستنېدونکي او داخلي بېځایه شوي د درملنې په موخه د دغه ولایت د روغتیا ریاست ته ور پېژند شوي.

په دغه ولایت کې بشپړ شوي او د کار لاندې پروګرامونه

- د مرستو د وېش په موخه د (۲۵۰) اړمنو کورنیو سروې دوام لري.
- (۱۸۰) تنو کار غوښتنکو ته د کار زمینه برابره شوېده.
- د ودان موسسې په همکارۍ د (۲۵۰) کونډو میرمنو سروې.
- د مهاجرت نړیوال سازمان (IOM) له لورې د ژمنیو مرستو د وېش په موخه د (۸۰) راستنېدونکو کورنیو سروې.



هغه پلانونه چې په راتلونکې کې په پام کې نیول شوي:

- د (UNHCR) دفتر په مرسته (۲۶۱۵) تنو ته د کار په بدل کې د (۱۵۰) امریکایي ډالرو د ورکړې د زمینې برابرول.
- د (UNHCR) دفتر په مرسته د یو لومړني ښوونځي جوړول، د ځوانانو لپاره د یو علمي پراختیایي مرکز جوړول او په بېلابېلو سیمو کې د (۶۰۰) سرپناوو جوړول.

## د کونړ ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د فعالیتونو راپور



د کونړ ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو ریاست د راپور له مخې د افغانستان اسلامي امارت له بریا وروسته د یوشمېر نړیوالو مرستندویه بنسټونو په همکارۍ په دغه ولایت کې (۲۹۷۹۴) راستنېدونکو، بېځایه شوو او اړمنو کورنیو سره مرستې شوې.

همدارنګه یوشمېر کورنیو سره د پاکستان او چین هېواد او مهاجرینو چارو وزارت له لورې مرستې شوې.

د یادو کورنیو له ډلې (۱۰۸۶۷) کورنیو سره نغدي مرستې شوې، چې ټولې (۶۰) میلیونه او (۶۳۰) زره افغانۍ او (۹۲) زره او (۴۱۰) امریکایي ډالره کېږي.

دغه راز (۱۸) زره او (۹۲۷) نورو کورنیو سره د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې شوې.

سربېره پردې د کونړ ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د یوشمېر نړیوالو مرستندویه بنسټونو سره په ګډه په همکارۍ په بېلابېلو ولسوالیو کې (۱۱۷۲۳) بېځایه شوې کورنۍ سروې او د مرستو لپاره په نښه شوې چې په نږدې راتلونکې کې به ورسره د همکارو مرستندویه بنسټونو له لورې بشري مرستې ترسره شي.

په کونړ ولایت کې ترسره شوې مرستې د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري (UNHCR)، د خوراک نړیوال سازمان (WFP)، د مهاجرت نړیوال سازمان (IOM)، د چین هېواد او د (NRC) موسسې لورې شوې وې چې د کونړ ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په همغږۍ او څارنې په اړمنو او مستحقو کورنیو وېشل شوې دي.

# د ننګرهار ولايت د مهاجرينو چارو رياست د فعاليتونو راپور

د ننګرهار ولايت د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو رياست په دغه ولايت کې د راستنېدونکو، داخلي بېځايه شوو او اړمنو کسانو د اړتياوو د پوره کولو مسؤليت پر غاړه لري، چې د نړيوالو مرستندويه بنسټونو په همکارۍ يې سر ته رسوي.

د ننګرهار ولايت د مهاجرينو چارو رياست د معلوماتو له مخې د (۱۴۰۱) کالي کال څخه د لړم مياشتې پورې اړمنو کورنيو ته د مرستو وېش، بېځايه شوو او راستنېدونکو د حقوقي ملاتړ او د سروې په برخه کې د دغه ولايت په مرکز او يوشمېر ولسواليو کې لاندې فعاليتونه ترسره کړي دي.

د بشري مرستو د وېش په برخه کې د ننګرهار ولايت د مهاجرينو چارو رياست د مرستندويه بنسټونو سره په ګډه په همکارۍ(۱۳۴۷۸)راستنېدونکو،بېځايه‌شوو‌او‌اړمنو‌کورنيو‌سره‌مرستې ترسره کړې، چې له ډلې يې ( ۸۴۴۲) کورنيو سره نغدي مرستې شوي، چې د ټولو نغدي مرستو د وېش اندازه (۱۰۰) ميليونه، (۲۴۵) زر افغانۍ او له سلو زرو زيات امريکايي ډالره ده.

همدارنګه (۵۰۳۶) کورنيو سره د خوراکي او غير خوراکي توکو مرستې شوي، چې يوشمېر کورنيو ته د پاکستان او چين هېواد کومکي کڅوړې وېشل شوي دي.

د ننګرهار ولايت د مهاجرينو چارو رياست د پراختيايي خدماتو د وړاندې کولو او د راستنېدونکو او داخلي بېځايه شوو د بيا يوځای کېدو په برخه کې لاندې فعاليتونه ترسره کړي دي.

- د ماشوم ساتنې نړيوالې موسسې په همکارۍ د هسکې مېنې ولسوالۍ د باغان او غلنې په سيمه کې د ( ۴۶۵۰) مترو په اوږدوالي مواصلاتي سرک قير، چې (۲۱۱) تنو ته يې پکې د کار زمينه برابره کړې ده.
- (۱۲۸) تنه راستنېدونکي د زده کړو په موخه د پوهنې رياست او له زرو زيات اړمن کسان د مرستو په موخه مرستندويه بنسټونو ته ور پېژندل شوي.
- د بربېنايي پېژند پاڼو د ګټو او عامه پوهاوي په موخه دوه کمپاينه ترسره شوي، چې يو يې په سرخورد ولسوالۍ او بل يې د ښار په (۸) ناحيې کې ترسره شوی.

- (۸۴۹) بې اسناده راستنې شوې کورنۍ او ( ۲۶۷) ډيپورت شوي، چې د پاکستان څخه هېواد ته راستانه شوي و او د (UNHCR) دفتر د مرستو څخه نه و برخمن شوي، چې يادو کورنيو او ډيپورت شوو ته د مهاجرت نړيوال سازمان (IOM) له لورې (۲۷۰۰) افغانۍ، نغدې، څلور قلمه خوراکي او شپږ قلمه غير خوراکي توکي وېشل شوي دي.
- (۱۴۹) اسناد لرونکي کورنۍ چې د تورخم له لارې هېواد ته راستنې شوې وې د (UNHCR) دفتر له لورې ورسره مرستې ترسره شوي، چې وروسته خپلو اصلي سيمو ته ستنې شوي دي.

دويلو ده، چې ترسره شوې مرستې او پراختيايي برنامې د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري (UNHCR)، د خوراک نړيوال سازمان (WFP)، د مهاجرت نړيوال سازمان (IOM)، د چين هېواد او د (NRC) موسسې له لورې شوې وې چې د ننګرهار ولايت د مهاجرينو چارو رياست په همغږۍ او څارنې په اړمنو او مستحقو کورنيو وېشل شوي دي.



## د غور ولایت د مهاجرینو چارو آمریت د فعالیتونو راپور



د غور ولایت د مهاجرینو چارو آمریت د راپور له مخې د نړیوالو مرستندویه بنسټونو سره په ګډې همکارۍ راستنېدونکو، داخلي بېځایه شوو او اړمنو کورنیو سره د لمریزې بریښنا د وېش، کار موندنې او سرپناه په برخه کې مرستې ترسره کړې، چې لنډیز یې په لاندې ډول دی:

د کار موندنې په برخه کې (۱۵۱) تنو سره مرستې شوي، چې له ډلې یې (۳۰) تنه هر یوته (۱۰۰۰۰۰)، د ګنډلو (خیاطی) په برخه کې (۵۰) میرمنو هرې یوې ته (۲۴۰۰۰) افغانۍ، (۱۳) تنو هر یوته (۶۰۰۰۰) افغانۍ او د کوچني کاروبار په موخه (۵۸) تنو هر یوته (۵۰۰۰۰) افغانۍ نغدې وېشل شوې.

همدارنګه د غور ولایت د مهاجرینو چارو آمریت په همکارۍ د (UNHCR) دفتر له لوري (۵۰۰) کورنیو سره د لمریزې بریښنا دوه دوه (۳۰۰) واټه تختې، دوه دوه (۲۰۰) بطرۍ د اړتیا وړ وسایلو سره وویشل شوې.

د سرپناه او کور جوړولو په برخه کې په مرکز فیروزکوه او ساغر او شهرک ولسوالۍ کې (۱۰۰) کورونه د اکتېډ موسسې له لوري جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شول.

د راستنېدونکو د حقوقي ملاتړ په برخه کې د (UNHCR) دفتر له لوري د مهاجرینو چارو آمریت په همکارۍ (۳۸۱) کورنۍ بېرته خپلو اصلي سموته ستنې شوې او (۲۷۵) امریکایي ډالره ورسره مرسته شوې.

د (PSN) برنامې له لارې د (CHA) مسسې په همکارۍ د (UNHCR) دفتر له لورې (۲۲۰) اړمنو کورنیو هرې کورنۍ ته (۲۶) زره افغانۍ نغدې وېشل شوې.

همدارنګه د (۲۲۸۴۰) راستنېدونکو، بېځایه شوو او اړمنو کورنیو عریضې د مهاجرینو چارو آمریت کې د مرستو د ترلاسه کولو په موخه په ثبت او راجستر شوې، چې یادې اداري د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري په همکارۍ سره وکولای شول، چې (۱۷۱۸۳) راستنېدونکو، بېځایه شوو، اړمنو او د وچکالۍ له امله زیانمنو شوو کورنیو سره مرستې تر سره کړي.

د غور ولایت د مهاجرینو چارو آمریت د راپور له مخې د یادو کورنیو اکثریت یې د نغدي مرستو څخه برخمنې شوي او دا مرستې د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري (UNHCR) او مهاجرت نړیوال سازمان (IOM) له لوري د یاد آمریت په همکارۍ او همغږۍ ترسره شوي دي.

## د ارزګان ولایت د مهاجرینو چارو آمریت د فعالیتونو راپور

د ارزګان ولایت د مهاجرینو چارو آمریت د یوشمېر مرستندویه بنسټونو په همکارۍ د دغه ولایت په بېلابېلو سیموکې (۲۵۲۷۱) کورنیو سره نغدي، خوراکي او غیر خوراکي توکي او بشري مرستې ترسره کړي چې په لاندې ډول دي:

۱. (۵۰۲۵) راستنېدونکو، داخلي بېځایه شوو، اړمنو او سېلاب ځپلو کورنیو سره د ارزګان ولایت په مرکز او بېلابېلو ولسوالیو کې نغدي مرستې شوي، چې په ټولیز ډول یادو کورنیو ته (۶۸) میلیونه، (۸۱۷) زره او (۲۴۰) افغانۍ وېشل شوي دي.

۲. (۱۹) زره او (۴۶) کورنیوته په بېلابېلو سیموکې د همکارو مرستندویه بنسټونو له لورې خوراکي توکي، د کور وسایل، لوخي، د مینځلو مواد او د کار وسایل وېشل شوي دي.

۳. (۱۲۰۰) نورو کورنیوته خوراکي توکي چې پکې اوړه، بوره، وریجې او غوړي شامل دي وېشل شوي.

په همدې ترتیب د یادې اداري په هڅو د نړیوالو مرستندویه بنسټو په همکارۍ د ارزګان ولایت په بېلابېلو برخو کې (۲۰۴۴) کورنیوته د کار په بدل کې د پیسو د ورکړې زمینه برابره شوې، چې هر کس ته دورځې (۴۰۰) افغانۍ ورکول کېږي.

یادې مرستې د ملګرو ملتونو دکډوالو اداري (UNHCR)، د چین هېواد، د خوراک نړیوال سازمان (WFP) او مهاجرت نړیوال سازمان (IOM) له لوري د ارزګان ولایت د مهاجرینو چارو آمریت په همغږۍ او څارنې په اړمنو او مستحقو کورنیو وېشل شوي دي.

دا چې په ارزګان کې د مهاجرینو لپاره ښارګوټي نه و، نو د ارزګانولایت د مهاجرینو چارو آمریت په دغه ولایت کې مهاجرینو ته د ښارګوټي د جوړولو په موخه د مهاجرینو او راستنېدونکوچارو وزارت او ارزګان ولایت د ګډ پلاوي د ګډون د ښارګوټي لپاره دوه سیمې په نښه شوې چې دا یې یو له مهمو فعالیتونو څخه و.

همدارنګه د راستنېدونکو لپاره د ثبت سیستم د (۱۴۰۱) کال د لړم میاشتې په نمیایي کې فعاله شو، چې تر اوسه پورې په دغه سیستم کې (۶۰) کورنۍ ثبت شوې.



## د نورستان ولایت د مهاجرینو چارو آمریت د فعالیتونو راپور



د نورستان ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو آمریت د مهاجرینو چارو وزارت او د مرستدویه بنسټونو په همکارۍ د رالېږل شوو مرستو څخه په استفادې سره زرګونه کورنۍ تر خپل پوښښ لاندې راوړي دي.

د اسلامي امارت له بریا وروسته د نورستان ولایت د مهاجرینو چارو آمریت یوشمېر مهم فعالیتونه ترسره کړي چې مهم یې په لاندې ډول دي:

۱. ( ۵۳۱۵) راستنېدونکو، بېځایه شوو او اړمنو کورنیو سره د نورستان په بېلابېلو سیموکې نغدي مرستې شوي او (۹۰۸) بېځایه شوې کورنۍ بېرته خپلو اصلي سیموته ستنې شوي چې دوی ته هم نغدي مرستې وېشل شوي.

په ټوله کې د نغدي مرستو د وېش اندازه چې یادو کورنیو ته وېشل شوي یو میلیون (۱۹۹) زره او ( ۳۳۰) امریکایي ډالره کېږي.

۲. همدارنګه د موسسو او همکارو مرستندویه بنسټونو په همکارۍ ( ۱۱۰۰) کورنۍ سروې شوي چې وروسته له سروې هرې کورنۍ ته غیر خوراکي توکي، د پخلنځي وسایل او روغتیایي کڅوړې وېشل شوي.

۳. (۶۱۵) نورو کورنیو سره په بېلابېلو سیموکې د خوراکي توکو مرستې شوي.

۴. په راپور کې راغلي چې د یادو مرستو له وېشلو سربېره ( ۸۴۰) کمپلې، (۴۰۰) جمپرونه، یوزرو ( ۶۰۰) او (۸۰) بورۍ غنم چې د مهاجرینو چارو وزارت له لوري دغه آمریت ته لېږل شوي په بېلابېلو ولسوالیوکې پر مستحقو کورنیو وېشل شوي.

۵. د نورستان ولایت د مهاجرینو چارو آمریت په نورګرام او کامدېش ولسوالیوکې د ( ۸۰۰) کورنیو سروې پیل کړې چې په نږدې وختونو کې به بشپړه شي او د یوې همکارې موسسې له لوري به ورسره مرستې ترسره شي.

ترسره شوې مرستې او پراختیایي برنامې د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري (UNHCR)، د خوراک نړیوال سازمان (WFP)، د مهاجرت نړیوال سازمان (IOM)، د چین هېواد او د (NRC) موسسې لوري شوې وې چې د نورستان ولایت د مهاجرینو چارو آمریت په همغږۍ او څارنې په اړمنو او مستحقو کورنیو وېشل شوي دي

## د فاریاب ولایت د مهاجرینو چار ریاست د فعالیتونو راپور

د فاریاب ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو ریاست د راپور له مخې د غه ریاست د (۱۴۰۰) کال د مرغومي د لومړۍ نېټې څخه د (۱۴۰۱ ) کال د لیندۍ تر (۱۰) مې د بشري مرستو، کارموندنې، کورجوړونې، د کورونو د ترمیم او راستنېدونکو او داخلي بېځایه شوو د حقوقي ملاتړ په برخه کې لاندې مهم فعالیتونه ترسره کړي.

۱. په ټولیز ډول (۱۷۸۷۳) بېځایه شوې او اړمنې کورنۍ د همکارو موسسو له لوري د فاریاب ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په همغږۍ سروې شوي، چې له ډلې یې (۱۳۴۳۸) کورنۍ د مرستو لپاره مستحقې ګڼل شوې چې هرې کورنۍ ته نغدي، خوراکي، غیر خوراکي توکي او روغتیایي کڅوړې وېشل شوي دي.

یادې مرستې د مهاجرینو چارو وزارت، چین، پاکستان هېواد او یو شمېر نړیوالو مرستندویه بنسټونو له لوري وېشل شوي دي.

سربېره پر دې د مرستندویه موسسو له لوري د فاریاب ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په همکارۍ په بېلابېلو سیمو کې (۴۳) معلولینو بېځایه شوو ته یوه یوه چوکۍ وېشل شوي دي.

۲. د سرپناه جوړولو او ترمیمولو په برخه کې د (UNHCR) دفتر له لوري (۲۰۳) تشنابونه د بېځایه شوو لپاره جوړ شوي، ( ۳۲) راستنېدونکو کورنیو سره د کور جوړولو په موخه نغدي مرستې شوي او (۱۱۳) نورې کورنۍ سروې شوي دي.

د غه راز ( ۱۶۵۰) راستنېدونکي او بېځایه شوي، چې د تېرو جګړو له امله یې کورونه ویجاړ شوي د بیا جوړولو او ترمیم په موخه ورته د (NRC) موسسې له لوري تختې، لرګي، کمپلې او یوشمېر نور وسایل وېشل شوي.

۳. (۵۳۰) راستنېدونکو او داخلي بېځایه شوو سره د کار موندنې په برخه کې د (UNHCR) دفتر له لوري د غواګانو او چرګانو مرستې شوي دي.

راستنېدونکو سره د مرستو په برخه کې ( ۲۷۴) راستنېدونکي او د ایران څخه ډیپورت شوي په بېلابېلو کټګوریو کې د نغدي مرستو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان (IOM) ته ور پېژند شوي.

درې تنه راستنېدونکي د بربېنایي پېژند پاڼې د ترلاسه کولو په موخه د نفوسو د احوالو د ثبت اداري ته، (۱۰) تنه د زده کړو د دوام په موخه د پوهنې ریاست ته او ( ۲۸۷۶) افغان مهاجر چې د ایران، پاکستان او ترکیې هېواد څخه ډیپورت شوي و د مرستو د ترلاسه کولو په موخه د فاریاب ولایت د مهاجرینو چارو ریاست له لوري ثبت او راجستر شوي او ( ۲۱۵) ډیپورت شوو ته لازمې لارښوونې شوي.

Islamic Republic of Afghanistan

Ministry of Refuges and Repatrations

Information and Public Relation Department



## Food convoy for the displaced


Web:WWW.morr.gov.af

Youtbe: Ministry of refuges and repatriation

twitter:MoRRAfg

Call: 0093202951429


# Mohajer

magazine